د توافقنامې لاسلیکولو نېټه ټاکل

یو مثبت او تاریخي ګام...!

شهامت

دیارلسم کال، څلورمه، پرلپسې۷۹مه ګڼه، جمادی الثانیة ۱۴۴۱هـ ق، فبروري۲۰۲۰م

دفلسطین لپاره دټرمپ نوې طرح

او د اسلامي نړۍ کمزوري دریځ

نیویارک ټایمز ورځپاڼه کې د افغانستان اسلامي امارت

د مرستیال (خلیفه) ملاسراج الدین حقاني حفظه الله مقاله

مجاهدو طالبانو ته

ځو عاجلې توصیې

د فکري جګړې

اصول اهمـیت او ضـرورت!

- زمونږ ټولې هیلې به څنګه پوره کیږي ؟!
- د جوبایډن طرحې او دسیسې چا شنډې کړې؟
- د سلواغې ۲۶مه د هیواد د نجات او ژغورنې ورځ !
- نظـام دزدان و اوباشـان

په نړیواله میډیا کې

دمحترم خلیفه صیب دمقالې پراخ انعکاس اوزوږ

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، پنځمه، پرلپسې۷۹مه ګڼه، جمادی الثانیة۱۴۴۱هق، فبروري۲۰۲۰م

لــــړلیــــك

کڼه	عـــنـــوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	نیویارک ټایمز ورځپاڼه کې د خلیفه صاحب مقاله	۲
۳	د مذاکراتو د وروستي جریان په هکله د اسلامي امارت اعلامیه	۵
٤	د سلواغې ۲٦مه د هیواد د نجات او ژغورنې ورځ	٦
٥	په نړیواله میډیا کې د محترم خلیفه صاحب د مقالې پراخ انعکاس زور ...	۷
٦	زموږ قولې هیلې به څنګه پوره کیږي؟	۹
۷	د جوبایډن طرحې او دسیسې چا شنډې کړې ؟	۱۰
۸	دوه پیښې ، دوه پرېکړې او د عبرت لوی درس	۱۲
۹	نظام دزدان و اوباشان	۱٦
۱۰	امریکایي پیلوټان د افغانانو په زخمونو مالګې دوروي !!	۱۸
۱۱	د دلوې (۲٦)مه دې هیره نه وي !	۱۹
۱۲	د ارګ له منځه د اشغال کلمه څه معنا لري؟	۲۰
۱۳	او بالآخره تأکنیزه برامه پای ته ورسیده	۲۱
١٤	طالب او محصل د امت د جسد دوه لاسونه دي، ددې جسد سرڅوک دی؟!	۲۲
۱٥	زموږ د حق غوښتنه او عکس العمل ولې تاوتریخوالی بلل کیږي؟	۲٥
۱٥	شهید ملا محمد داود (نسیم) ژوند ته کتنه	۲۷
۱٦	فکري جګړه، ضرورت او اهمیت	۳۰
۱۷	په ایماني تړون ترلې ته سره بیلیږي	۳٥
۱۸	ګلوریني پاڼې	۳٦
۱۹	د فلسطین لپاره د ترمپ نوې طرحه او د اسلامي نړۍ کمزوری دریځ	۳۸
۲۰	د زندان خاطرې	۴۲
۲۱	مسئولیت های ما درقبال استحکام بیشتر امارت اسلامی؛ مشورهای	۴٦
۲۲	د سوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه دحکومت مسئولیتونه	٥٥
۲۳	هوکې! هغه ربښتیا مېړنی و، شهید مفتي عبدالوکیل ایوبي تقبله الله	٥۸
۲۴	غامدیت د اوسني عصر لویه فتنه	٦۱
۲٥	مذاهب اربعه ، ائمه ، تلامذه ، فقهي مناهج أمهات الکتب	٦٦
۲٦	پر سوال غوښتې د تېښتې پلمه او برې ملنډې	٦۷
۲۷	مجاهدو طالبانو ته څو عاجلې توصیې !	٦۹
۲۸	د طالب په نظر کې مدرسه او ښوونځی کوم مقام لري ؟	۷۱

دامتیازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیـر :

ابو ظهیر

کتـنـپــلاوی :

لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بـیـــــه :

یوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یـــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

د توافقنامې لاسليکولو نېټه تاکل مثبت او تاريخي ګام ... !

دالله تعالى په کامل نصرت اودغيورافغان مجاهد ولس دبيدريغه تاريخي قربانيو په برکت دنړۍ مغروره ښکېلاک (امريکا) د شاوخوا۱۹کلن وحشت او دهشت وروسته دخپلو ځواکونو ويستلوپه موخه د افغانستان اسلامي امارت سره دمخامخ خبرو اومذاکراتو لپاره خپل مغروراوکبرجن سرپه ځمکه کيښود او ديوولس اوږدو مذاکراتي دورو اوچنو وهلو وروسته له افغانستانه دخپلوځواکونو ويستلو په اړه دتوافقنامې په متن دتوافق وروسته دفبرورۍ په ۲۱مه(۲۰۲۰ز) نيټه دبهرنيو چارووزير(مايک پومپيو) يې او داسلامي امارت وياند اعلان وکړ چې دروانې مياشتې په ۲۹مه نيټه به د امريکا او اسلامي امارت ترمنځ دقطر په پلازمينه دوحه کې توافق نامه لاسليک شي.

دتوافق نامې لاسليکولو نه وړاندې دبا اعتماده فضا اوماحول را منځته کولو په موخه داسلامي امارت او امريکا ترمنځ دا هم توافق شوی دی چې دفبروي له ۲۲ مې نيټې نه تر۲۹ مې يعنې دکب د۳مې نه ترلسمې پورې، دواړه لوري به په عملياتوکې تخفيف راولي، په کوم چې داعلان سره سم عمل شروع اوجريان لري.

دسياسي کارپوهانوپه نظر که دجګړې کمولو اوونۍ په بريا سره پای ته ورسيده، نو له کوم ځنډپرته به دامريکا اوداسلامي امارت ترمنځ دسولې توافقنامه لاسليک شي اود شک پرته دا به يوه يوه لويه لاسته راوړنه اوتاريخي بريا وي.

هو! امريکا دخپل تاريخي زوال اولوی شکست په وثيقې د لاسليک پر لور درومي! او داپه حقيقت کې دهر اصيل افغان دزړه ارزو اوغوښتنه ده،دهغه چا لپاره چې په ازادي او استقلال مين وي يوښه، دخوشالۍ نه ډک خبردی، د هرهغه انسان لپاره ښه زيری دی چې دجنګ وجدال،ظلم وحشت اودانسانانو دوينو بهولوڅخه نفرت او کرکه لري او هغو بدمرغه غلامانو ته بد او خوشينونکی پيغام دی څوک چې پرديوته ګوډاګيتوب او غلامي کوي.

پوهيږو په افغانستان او سيمه کې دټولو شته بدمرغيو او ناخوالو قوي لامل دامريکاپوځي موجوديت دی، يقين دی چې د امريکا يي پوځيانوپه وتلو سره به نه يواځي په افغانستان کې امنيت اواستقرار راشي بلکې په ټوله منطقه اونړۍ به سوله وزرونه وغوړوي، همدې دې واقعيت ته په کتو دافغانانوترڅنګ دمنطقې دنورو ولسونو لخواهم دتوافقنامې لاسليکولو نيټه ټاکل په تود هرکلي ويلو بدرګه اوترې يې خپل کلک ملاتړاعلان کړ.

ددې لپاره چې افغان ولس بايد ددې سترتاريخي فرصت نه پوره ګټه پورته کړای شي اشده اړتياده چې ټول افغاني جهتونه خپلې شخصي ګټې وتې اوغوښتنې شاته کړي او دافغانستان دسياسي استقلال بيا ترلاسه کولو سره سم دافغان ولس دسوکالۍ او ارامۍ مصالحوته په اولويت ورکولو ، دتلپاتې ثبات اودائمي استقرارلپاره په پوره اخلاص يو يوبل ته ورغاړيوزي اوداسلام مبارک دين دارشاداتواوحکمونوپه رڼاکې دبين الافغاني معضلي د واقعبينانه حل لپاره دمؤثرې اومعقولې لارې چارې ولټوي.

نیویارک ټایمز ورځپاڼه کې د افغانستان داسلامي امارت

د مرستیال (خلیفه) ملاسراج الدین حقاني حفظه الله مقاله

کله چې په ۲۰۱۸م کال کې زمونږ استازو له امریکا سره خبرې پیلولې، زمونږ ټولو په نیږد په دې اړه چې دا خبرې به نتیجه ورکړي، باورصفر ته نږدې وو. مونږ تېرو ۱۸ کلونو جګړې او د خبرو اترو ګڼو پخوانیو هڅو ته په پام سره چې بې ګټې ثابتې شوې وې، د امریکا پر نیت بیخي بې باوره وو.

مګر سره له دې مو هم پرېکړه وکړه چې یوه بله هڅه هم وکړو. دغه اوږده جګړه هر چا ته په درنده بیه تمامه شوې وه. د سولې د هر ډول بالقوه فُرصت له لاسه ورکول د حکمت تقاضا نه وه، ولو که د بریالیتوب چانس یې ډېر کم هم وو. له څلورو لسیزو زیاتې مودې راهیسې هره ورځ جګړې د افغانانو ژوند اخیستی. هر چا د کورنۍ یو ګران غړی له لاسه ورکړی. هر څوک له جګړې ستړي شوي دي. زه په دې باور یم چې نور باید دغو مرګونو او دردونو ته د پای ټکی کېښودل شي.

د متحدو ایالتونو تر مشرۍ لاندې بهرنۍ ټلوالې سره زمونږ جګړه زمونږ انتخاب نه وو بلکې مونږ ورکې له ځان څخه دفاع ته اړ شوي وو. ځکه نو د بهرنیو عسکرو وتل زمونږ لومړنۍ او تر ټولوستره غوښتنه ده. دا چې نن له متحدو ایالتونو سره د سولې د تړون په درشل کې یو، دا وړه خبره نه ده.

د ملا عبدالغني برادر او شیر محمد عباس ستانکزي تر مشرۍ لاندې زمونږ د مرکچي ډلې همکارانو په تېر یو نیم کال کې له امریکایي مرکچیانو سره یوه تړون ته د رسېدلو له پاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې. زمونږ پر کلیو د متحدو ایالتونو د درنې بمبارۍ، له کبله زمونږ د منسوبینو له تکراري اندېښنو او خواشینۍ او د امریکایانو له خوا هر وخت د نویو، نویو غوښتنو له مطرح کولو سره، سره مونږ خبرو اترو ته ژمن پاتې شوو.

مونږ ان هغه مهال هم د سولې دروازه خلاصه پرېښوده چې د متحدو ایالتونو ولسمشر ټرمپ خبرې بندې وبللې. دا ځکه چې د جګړې دوام تر ټولو زیات زمونږ افغانانو په تاوان دی. دا هم روښانه ده چې د دغسې جدي خبرو په پایله کې له دوه اړخیزو تېرېدنو پرته د سولې هېڅ ډول تړون هم ممکن نه دی. دا چې مونږ له خپل هغه دُښمن سره چې دوه لسیزې مو ور سره په داسې حال کې بې دریغه جګړه کړې چې مرګ پکې د باران په څېر

وریده، دغسې ګردابي خبرو ته ژمن پاتې شوو، دا د دې ښکاره ثبوت دی چې مونږ د جګړې پای ته رسولو او خپل هیواد ته د سولې راوستلو ته ژمن یو.

مونږ هغه اندېښنې او پوښتنې درک کوو چې د بهرنیو عسکرو له وتلو وروسته رامینځ ته کیدونکي نظام د ډول په اړه د افغانستان د ننه او باندې موجودې دي. د دغسې اندېښنو په ځواب کې باید ووایم چې دا په بین الافغاني اجماع پورې اړه لري. مونږ باید اجازه ور نه کړو چې اندېښنې مو د دغسې واقعي بحثونو او خبرو د لارې خنډ شي چې د لومړي ځل له پاره له پردي اغېز او مداخلې آزاد چاپیریال کې تر سره کیږي.

هېڅ لوري ته هم نه ښايي چې د مخکې ټاکل شویو نتایجو او شرطونو په وړاندې کولو سره د دغه بهیر مخه ډب کړي. مونږ دې ته ژمن یو چې له نورو اړخونو سره د متقابل احترام په چاپیریال کې په مشورتي ډول پر مخ لاړ شو او د یوه داسې نوي ټول-شموله سیاسي نظام په اړه هوکړې ته سره ورسیږو چې د هر افغان غږ پکې اورېدل شوی وي او هېڅ افغان وګړی ورکې د محرومیت احساس و نه کړي.

زه باوري یم چې له بهرني واکمنۍ او مداخلې څخه له آزادۍ وروسته به مونږ په ګډه یوه داسې اسلامي نظام ته لاره پیدا کړو چې ټول افغانان به پکې مساوي حقونه ولري، چې د تعلیم او کار د حقونو په ګډون به د ښځو هغه حقونه پکې خوندي وي چې د اسلام سپیڅلي دین ورکړي، او اهلیت به پکې مساوي فُرصت ته د رسېدو اساس جوړوي.

مونږ په دې اړه موجودې هغه اندېښنې هم درک کوو چې د سرکښو ډلو له لوري له افغانستان څخه سیمه ایز او نړیوال امنیت ته د ګواښ په اړه را ولاړیږي. په دغسې اندېښنو کې خو لومړی له مبالغې څخه کار اخیستل کیږي. په افغانستان کې د بهرنیو ډلو په اړه راپورونو کې د جګړې د ټولو لورو د جګړه خوښو لوبغاړو له خوا د سیاسي غرضونو په پار مبالغه کیږي.

بل دا د هېڅ افغان په ګټه نه ده چې د دې اجازه ورکړي چې له هیواد څخه یې د بل چا له خوا ناوړه ګټه واخیستل شي او د جګړې په ډګر بدل شي. مونږ د بهرنیو مداخلو تریخ خوند څکلی او څکه به نو له ټولو افغانانو سره په ګډه د دې د باوري کولو له پاره هر ډول تدابیر ونیسو چې نوی افغانستان پکې د سولې د سمبول په بڼه راڅرګند شي او هیڅوک هم د دې احساس و نه کړي چې زمونږ له خاورې څخه له ګواښ سره مخ دي.

مګر سره له دې، په مخ کې پرتو ننګونو ته هم په ټیټه سترګه نه ګورو. په دغو ننګونو کې به ممکن تر ټولو ستره دا وي چې ښلابېلي افغان ډلې په جدي او مخلصانه ډول زمونږ د ګډې راتلونکې د تعریفونې په موخه کار وکړي. زه ډاډه یم چې دا کار ممکن دی. که چیرې مونږ له یوه بهرني دُښمن سره تړون ته د رسېدنې جوګه یو، نو په اولیٰ طریقې سره د دې وړتیا لرو چې بین الافغاني اختلافونو ته د خبرو له لارې د پای ټکی کښیږدو.

بله ننګونه به دا وي چې د سولې-په-لور پړاو او د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته پړاو کې نړیواله ټولنه په افغانستان کې په رغنده ډول د افغانانو ترڅنګ پاتې شي. زمونږ د هیواد د ثبات او پرمختګ له پاره له افغانانو سره د نړیوالې ټولنې ملاتړ اړین دی. مونږ دې ته کاملاً چمتو یو چې د متقابل احترام پر اساس له خپلو نړیوالو شریکانو

سره د اوږدمهالې سولې او رغونې په ډګر کې په ګډه کار وکړو. د خپلو ځواکونو له اېستلو وروسته متحد ایالتونه هم په افغانستان کې له جګړې-وروسته پرمختګ او رغونې په برخې کې رغنده نقش لوبولی شي.

مونږ د دې اهمیت درک کوو چې افغانستان له ټولو هیوادونو سره د دوستۍ، اړیکې وساتي او د هغوی اندېښنې جدي وګڼي. افغانستان په ګوښه توب کې ژوند نه شي کولی. نوی افغانستان به د نړیوالې ټولنې بامسؤولیته غړی وي. مونږ به ټولو نړیوالو میثاقونو ته چې د اسلام د سپیڅلي دین له اصولو سره په ټکر کې نه وي، ژمن پاتې شو. همداراز مونږ له نورو هیوادونو څخه هم هیله لرو چې زمونږ د هیواد استقلال او ثبات ته درناوی ولري او زمونږ خپلواکي، او ثبات ته د همکارۍ د فُرصت په توګه وګوري نه د رقابت او شخړې.

د دستي ساعت ننګونه به زمونږ او متحدو ایالتونو تر مینځ د سولې د تړون تطبیق وي. که څه هم چې په دوحې کې له امریکایي مرکچیانو سره د خبرو اترو په ترڅ کې یو څه باور جوړ شوی، مګر لکه څرنګه چې متحد ایالتونه پر مونږ بشپړ باور نه لري، په ورته ډول پرې مونږ هم پوره باور نه لرو.

مونږ له متحدو ایالتونو سره د یوه تړون لاسلیکولو ته نږدې شوي یو. له خپل لوري مونږ د دغه تړون د هرې مادې د لفظ او مفاد پلي کولو ته کاملاً متعهد یو. مګر د دغه تړون د مفاد تحقق، د بریالیتوب باوري کول او د پایېدونکې سولې راوستل په دې پورې هم اړه لري چې متحد ایالتونه هم خپلې هرې کړې ژمنې او د هغو جزئیاتو ته زمونږ په څېر بشپړه ژمنتیا وښیي. یوازې له دغې لارې بشپړ اعتماد رامینځ ته او د راتلونکې همکارۍ او ان شراکت بنسټ کېښودل کېدی شي.

زما هیوادوال به ډېر ژر دغه تاریخي تړون ونمانځي چې له بشپړ تطبیق وروسته به یې د ټولو بهرنیو عسکرو د وتلو شاهدان وي. دا چې تر دغه پړاوه را رسیدونکي یو، لرې یې نه بولم چې ډېر ژر به هغه ورځ هم ووینو چې له خپلو ټولو افغان ورونو او خویندو سره به یو ځای د یوې تلپاتې سولې پر لور حرکت پیل کړو او د یوه نوي افغانستان بنسټ به کېښېږدو.

بیا به یو داسې نوی پیل نمانځو چې په نورو هیوادونو کې مېشتو ټولو هیوادوالو ته به خپل ټاټوبي او هغه کور ته د راستنېدنې بلنه ورکوي چې هر څوک به پکې په عزت او د سولې په فضا کې د اوسېدنې حق لري.

د مذاکراتو د وروستي جریان په هکله

د اسلامي امارت اعلامیه

د افغانستان اسلامي امارت او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ له اوږدو مذاکراتو وروسته، دواړو لوریو موافقه وکړه چې د ۱۴۴۱هـ ق کال د رجب المرجب د میاشتې په (۵) مه او د ۱۳۹۸هـ ش د حوت میاشتې (۱۰) مه او د ۲۰۲۰م کال د فبروري میاشتې په ۲۹مه نېټه به نهایي شوې توافقنامه د نړیوالو په حضور کې د دواړو طرفونو ترمنځ لاسلیک شي.

اوس به دواړه لوري د توافقنامې د لاسلیک لپاره تر یادې نېټې وړاندې مناسبه فضاء برابروي، د لاسلیک مراسمو تـه بـه د یو شمېر هیوادونو او سازمانونو لوړ رتبه استازي دعوتوي، د بندیانو د خلاصون لپاره بـه لازم ترتیبـات نیسي، د هیـواد لـه بېلابېلو جهتونو سره به د بین الافغاني مذاکراتو زمینه مساعدوي او بالآخره به د ټولو بهرنیو ځواکونو په وتلو او د افغانسـتان خاوره د چا د امنیت په خلاف نه کارولو سره به په ټول هیواد کې د سرتاسري سولې لپاره لار هواروي، تر څو ټول هیـوادوال د امن په فضاء کې د اسلامي نظام تر سیوري لاندې سوکاله ژوند ولري. ان شاء الله.

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۱/۶/۲۷هـ ق ـــ ۱۳۹۸/۱۲/۲هـ ش ـ ۲۰۲۰/۲/۲۱م

د را روانو ۷ ورځو د جریان په اړه د اسلامي امارت

د ویاند لخوا ټولو مجاهدینوته لازمې څرګندونې

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! الله تعالی مو پخپلو کارونو او خدمتونو کې بریالي لره!

تاسو به په جریان کې یاست چې اسلامي امارت له امریکایې جهت سره د توافقنامې د لاسلیک لپاره د مناسبې فضـاء د رامنځ ته کولو موافقه کړې چې د راتلونکو ۷ ورځو لپاره به مجاهدین د ورکړل شوي پروګرام له مخې عمل کوي .

په دې تړاو تاسو ټولو ته د مشرانو لخوا هدایت دی چې که له چاسره په دې اړه کوم سوال پیدا کیده، له مشکل او عـدم پوهاوي سره مخ کیده، د مراتبو د تسلسل په اساس دې هرڅوک له خپلو مافوق مسئولینو څخه هدایت اخلي .

بله خبره دا چې ټول مجاهدین به په راتلونکو ۷ ورځو کې پخپلو ور سپارل شویو وظایفو کـې مشـغول او د مقابـل لـوري لخوا د احتمالي نقض په صورت دفاع ته اماده وي، د دښمن ساحوته د مجاهدینو ورتګ جدا منع دی.

د اسلامي امارت لخوا چې له مقابل لوري سره کوم عهد شوی، تاسو ټول پوهیږئ چې په عهد باندې وفا کول او تر خپله وخته پورې د وعدې پوره کول واجب دي، ټول مجاهدین دې په دې برخه کې د اطاعت اصل ته جدي متوجه وي.

له اوو ورځو بعد چې په اتمه ورځ موافقتنامه لاسلیک شي له هغه وروسته بـه ټولـو مجاهـدینو تـه د توافقنـامې مطـابق معلومات او هدایت ور کول کیږي او په هغو به عمل پیل کیږي. والسلام

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۱/۶/۲۷هـ ق ـــ ۱۳۹۸/۱۲/۲هـ ش ـــ ۲۰۲۰/۲/۲۱ م

د سلواغې ۲۶مه
د هیواد د نجات او ژغورنې ورځ

عبدالرحیم (ثاقب)

دري لسیزې ورانـدې د ۱۳۶۸ هجـري لمریـز کـال د سلواغې د میاشتې په ۲۶مه یرغلګرې سرې لښکرې پـه تیـت سر له افغانستانه وشړل شوې.

کله چې تر همدې نیټې لس کالـه ورانـدې یعنـي د ۱۳۵۸ کال د جدی په شپږمه سرو لښکرو پر افغانسـتان یرغل کاوه هیچا دا تصور نه کاوه چې همدا ځواکمنې لښکرې دې په داسې ذلـت او فضیحت له افغانستانه وتلو ته اړیستل شي.

ځکه د کرملین چارواکو به په ډېر غرور دا خبره کولـه چـې که زمونږ زغروال وسائط یوځل تر حیرتان پله واوښتل بیا بـه یـې مخه د هند په تودو اوبو راګرځوو!

خو همدا مغرور ملحدین له دې الهي پریکـړې نـاخبره وو چې نه یواځې د دوئ شوبلې به پـه افغانسـتان کـې اوبـه کیـږي؛ بلکې د مسکو په زړه ، کرملین به یـې هـم د مجاهـدو افغانـانو د جهادي ګوزارونو له برکته بې سیکه او ټوله کمونیستي امپراتوري به د نړۍ له مخې تولیږي.

لهذا د سلواغې ۲۶مه لـه کمونیسـتي شرارت څخـه د ټـول بشریت د نجات او ژغورنې ورځ ده چې د مجاهـدو افغانـانو لـه برکته نړۍ ته ورنصیب شوه.

د دې نجات لـه اغیـزو څخـه د منځنـۍ آسـیاتول محکـوم ولسونه مستفید او د پخواني شوروي اتحاد له ښکیلاکه وژغـورل شول.

یـواځې منځنـۍ آسـیا نـه ، بلکـې ختیځـه اورویـاهم لـه کمونیسـتي تسـلط نـه آزاده او د دوو المـانونو تـرمنځ د بـرلین بیلوونکې دیوال ونړول شو...

د دلوې ۲۶ مه پر باطل د حق د معرکې د بریالیتوب پرتمینه ورځ ده چې هغـه مهـال د ډیرو سیاسـت پوهـانو لخـوا د پیـرۍ معجزه وبلل شوه.

د دلوې ۲۶ مه د افغانانو په تاریخ کې د زمرې د ۲۸ په څیر یوه بله د عزت، ویاړ، شـهامت او اسـتقلال ورځ ده چـې د یـونیم ملیون شهیدانو د مبارکو وینو په برکـت د افغانـانو نصیب شـوې ده.

دا ورځ له حماسو ډکه هغـه تـاریخي ورځ ده چـې درنـاوی یادښت او لمانځل یې پر هر افغان مسلمان لازمي دی.

کومو کسانو چې د دغې تاریخي ورځې بې احترامـي کـړې او د هغې د مقتضا او غوښتنې خلاف یې له جهادي آرمانونو سره جفا کړې هغوی د تاریخ هغه مسخ شوې څیرې دي چـې د هغـه مقدس جهـاد، شـهادتونو او سربښـندنو لـه ټولـو ویـاړونو څخه محروم دي.

افغان مجاهد ولس له شوروي ښکیلاک څخـه د آزادي او استقلال دغه ویاړمنه ورځ په داسې حال کې لمانځې چې نـړۍ د افغـان مجاهـدینو پـه لاس د یـوې بلـې مغـرورې امپراتـورۍ د رانسکورولو انتظار کوي.

د پخوانیـو شـورویانو لـه شکسـت سره کـه د اوسـنیو امریکایانو شکست پرتله شي دا شکست تر هغه ډیر هینـوونکی او معجزه آسادی؛ ځکه هغه مهال د امریکا په شمول ټولـه غربـي نړۍ او همدا راز د اسلامي نړۍ اکثریـت هیوادونـو د مجاهـدینو سیاسي، پوځي او مالي حمایت کـاوه ، خـو اوس بـرعکس ټولـه نړۍ د مجاهدینو خلاف ده خو بیاهم د همدې تش لاسـو خـو د ایمان او عقیدې پـه وسله مجهـزو مجاهـدینو د نـړۍ تـر ټولـو سترمادي او پوځي ځواک په ګونډو او له هیواد څخه پرشاتګ ته مجبور کړی.

و ما یعلم جنود ربک الا هو...

اصلي معجزه همدا د پیرۍ معجزه ده چې له دې پرته چې د الله تعالی د دې قول مصداق وګرځول شي چې (كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ } [البقرة ۲۴۹]) بلـه هیڅ توجیه نه شي لرلای.

د شـوروي ښـکیلاک پـه ورانـدې د میرنـو مجاهـدینو او سربښندونکو اتلانو یاد دې تل وي!

په نړیواله میډیاکې

دمحترم خلیفه صیب حفظه الله دمقالې پراخ انعکاس او زوږ

ارواښاد مولوي جلال الدین حقاني رحمه الله زموږهیواد د دوه سترو جهادونومخکښ قاید،لارښود،معتبر دیني عالم، با اعتماده مفکراووتلی مبارزو.

محترم خلیفه صیب (ملاسراج الدین حقاني حفظه الله) دمرحوحقاني صاحب په نسبي وارث اوجانشین سربیره، سیاسي اوجهادي خاى ناستی او«خلف» یې هم دی،عرب وایي: «الولدسرُابیه» یعنې څوی مشابه د پلاروي، په سبب دتربیت اوپالنې دپلار،هرباکماله څوی په څان کې دخپل باکماله پلارصفات،عادات دپیداکولو اوراوستلوکوښښ کوي او په پوره استقامت اوعزم سره دهغه په مسیردرومي او له مړینې وروسته دڅوی په «کرداروگفتار» نومیالی پلار پیژندل کېږي.

دروسانو دیرغل په مهال مرحوم حقاني صیب دخپل بارعبه مجاهدانه عزم، اخلاص، للهیت اودشاندارو قربانیوپه برکت دمجاهدینو سرخیل ګڼل کیده، او اکثربه یې جهادي کارنامې اوبریاوې دنړیوالې میډیا دخبرونوسرټکي ګرځیدل،اوهم دیوربښتینې مجاهد په حیث نړۍ کې دیوبیساري مقبولیت اواعتبارڅخه برخمن و

نن چې زموږ په هیوادکې دامریکا په مشرۍ صلیبي ځواکونه شتون لري اوپه مقابل کې یې لله الحمد ټول هیوادته دجهاداومقاومت لیکې غځیدلې ، دارواښادمولوي جلال الدین حقاني رحمه الله همدا خاى ناستی اوغوره خلف (ملاسراج الدین حقاني حفظه الله) ددښمن په سترګوکې ازغی دی، اودجهاد ومقاومت درهبرۍ کولو په لړکې یې کارنامې سربیره په دې چې میډیادمجاهدینو په باب معاندانه رویه لري کله نه کله دنړیوالو خبري چینلونودخبرونو اوورځپاڼو د تحلیلونو سرټکي وي

څو ورځې دمخه دامریکا په یوې مشهورې اومعتبرې ورځپاڼې (نیویارک ټایمز) کې دمحترم خلیفه ملاسراج الدین حقاني حفظه الله د یوې مقالې خپریدو په نړیواله میډیاکې پراخ انعکاس اوزوږجوړ کړ؛ اووربانـدې دچاپې رسنیوڅخه نیولې تر برښنائي، اوخواله رسنیو پورې ټولوکې دمشهوروو مبصرینو، لیکوالو، ژورنالستانو اوتحلیل ګرانو لخوا بحثونه، لیکنې، تبصرې او نظرونه وانـدې شول، کوم چې تردې مهاله دوام لري او دډیرو شناندوله لوري په ښوشانداروالفاظو، القابو اوکلماتو سره بدرګه اووستایل شوه

دډیرو څېړونکو په نظر دنیویارک ټایمزپه څېرد یوې نړیوالې اومشهورې امریکایي ورځپاڼې لخوادامریکا دیوډیرقوي مخالف مشر مضمون خپریدل دحیرانتیا وړپیښه ده، چې څنګه یې دنومورې غږ یادریخ دټولې نړۍ غوږونوته ورسأوه؟

دډيرو په اند داسې ښکارې چې په افغانستان کې دشته وضعيت په اړه نه يواځي دامريکا ددولت په دريځ کې نرمښت ليدل کېږي، بلکې دنړيـوالې ميـډيا په رويه اوچلندکې هم ورسره دنرمښت نښې نښانې ښـکارې اوغـواړې چې پـه نړۍ کې دې خلک دافغان جګړې په اړه له اصلي واقعيتونوڅخه خبرولرې.

بل پلوته که وګورو نودمحترم خليفه صيب مقاله له دې پلوه هم زيـات اهميـت لري چې نوموړې دافغانستان داسلامي امارت دمرستيال پـه حيث د نيويـارک ټايمزله لارې نړۍ ته دقناعت ورکولو دارټيا په حسولو سره يـاده مقالـه لـيکلې، کومه چې دامارت دراتلونکي سياسي دريځ اوپاليسۍ دروښانه کولو پـه برخـه کې هم خورا ټاکونکي رول اومعنويت له ځانه سره ولرې، ځکه نومـوړې پخپلـه مقاله کې يوشميرډيرومهموپوښتنواو انديښنوته قانع کوونکي ځوابونه ويلي

اوبيا داچې نړۍ ته دخپل پيغام رسولو لپاره يې د نيويارک ټايمز ورځپاڼې انتخاب کړی داهم يو ډير جالب پرځای انتخاب دی، ځکه ياده ورځپاڼه دنړۍ يوه ترټولو مشهوره ورځپاڼه ده چې ديوميليون څخه په زيـات تيراژکـې چـاپ لـري اوپه نړۍ کې يې په ميليونوخلک يې لولي.

کله چې يوخبريا يوه مقاله دنيويارک ټايمزيا واشنګټن پوسټ لخواخپرېږي، هغه دنړۍ ترټولو لوی خبر يا لويه مقاله ګڼـل کېږي،نـو دمحـترم خليفـه صـيب يـاده مقاله هم دنړۍ په سطحه يوه دمهمومقالوپه کتارکې شمارلی شي

دمقالي دنشرلپاره د وخت انتخاب هم زيات مناسب په پام کې نيول شـوی ، په داسې وخت کې چې دوحه کـې داسـلامي امـارت او امريکـا دمـذاکراتي ټيمونوترمنځ دګـډې مسـودې دمـتن لاسليکولولپاره دنيتې ټاکلوپـه سرخبرې رواني وې، عين هم دغـه مهـال ديـوې مهمـې امريکـائي ورځپـاڼې لـه دريځـه دامريکا خلکوته دامارت ددې مهم مشر دوينـا يـا پيغـام رسـول، لويـه سياسي اومطبوعاتي لاسته راوړنه ده

دمقالې محتوا اومنځپانګه هـم خوراجامعه،روانـه اودحـالاتوسره هـم آهنـګ ده، دافغانانواوبهرنيانودواړو انديښنو درفع کولو لپاره پکې په مؤثره لهجه استدلال شوی اوهغوی ته يې پوره ډاډ ورکړی دی

مقاله کې دټولو خارجي ځواکونوپه وتلو دټينګارترڅنګ په عام المنفعـه کـارونو اودبيارغونې په چارو کې دامريکا په ګډون نړيوالو ته بلنه ورکـړل شـوي چـې دافغانستان دخلکود خوشالۍ اوسوکالۍ کې په چاروکې دي برخـه واخـلي يعنـې ورسره يې هيڅ ډول مخالفت ندی کړی.

دامريکايـــانو دوتلـــو ورروســـته دامريکا اونړيوالو انديښنوپه اړه يې هـم قناعت ېښونکی استدلال کړی دی چې د دوی دوتلـو ورروسـته افغانسـتان کـې د کـومې لويـه ګـډوډۍ درامنځتـه کيـدو تشويش پرځای ندی

لنـډه داچـې نيويـارک ټـايمز چـې دنړۍ يوه مهمه اولويه ورځپاڼه ده، پکې دافغانستان داسلامي امـارت دمرسـتيال خليفـه صـيب (مـلاسراج الـدين حقـاني) دمقــالې خپريــدل، ښــيي چــې نړيــوال غواړي دافغان جګړې پـه اړه واقعيتونـه واوري او لـه حقـايقويې خـبرشي چـې دايوښه او مثبت بدلون دی

هيله ده چې په مجموع کې نړيواله ميډيا بايد پخپله اوسنۍ معاندانـه تګـلاره بيـا کتنــه وکــړي او دافغانســتان پــه اړه دواقعيتونوپټولوپر ځای دي نړيوالوتـه د هغو په ښکاره کولـو کـې خپـل اخلاقـي مسؤليت درک کـړي . بـدون دشـک نـه دتيرو ۱۹ کلوراهيسې دافغانستان دننـه جريانونو پـه اړه دنړيـوالې ميـډيا کـردار مغرضـانه اومعاندانـه پاتـه دی، لـه دې ورروسـته پکـارده دنيويـارک ټايمزپشـان عامه ميډيا هم پخپلـه رويـه کـې مثبت تغيرراولي اوخپله له عنادونو ډکه رويـه دې پای ته ورسوي.

زمونږ ټولې هیلې به څنګه پوره کیږي ؟!

عابد

د شوروي اشغال په وړاندې برپا مو لا نه وه لمانځلې چې په کورنیو جګړو او تباهیوکې کېوتو، بیا له هغې دخلاصون ساه مو نه وه اخیستې چې دغربي او امریکایي اشغال ښکار شوو او دټولې څلوېښت کلنې غمیزې نیمه موده د دې اشغال وحشتونو ونیوه .

اوس چې د ډېرو سترو قربانیو په ورکړه دادی له دې اشغاله خلاصون مومو او دبري په پوله ولاړ یو لـه یـوې بلـې امتحاني دورې تېرېـږو او هغـه داچـې یـوه طبقـه خلـک، یـولړ جهتونـه، فعالان!، ټولنې، تنظیمونـه، او اشـخاص هـم خپـل خواهشـات، نظریې، غوښتنې، ارمانونه او هیلې دقتحې تردغه پړاوه ترې او په همدغه مرحله کې ځانونه مطرح کول غواړي . سره لـه دې چې ټول داشغال په موده کې راپیدا شوي، وده یـې کـړې اود بیلابیلو اغراضو لپاره تمویل شوي او تبلیغ شوي دي، نه یې دخپلواکۍ په جګړه کې برخه شته او نه داشغال ګوزار وهلي .

که داشغال څېـره وه او کـه ببرتـه مقاومـت، دواړه طالبـانو اوداسلامي امارت مجاهدینو ته متوجه و، ترڅو چې په ګوزار یې زندانونه پـه دوی ډک شـول، هجرتونـو تـه اړ، او دشـهادتونو یـې تاریخونه جوړکړل، په ډول ډول عذابونو تعذیب اود غرب په ټولو پرمخ تلليو بمونو او اورونو له کشرانو ترمشرانو ستي شول، دغه راز یې ببرته مقاومت او دخپلواکۍ جګړه هم په الهي نصرت او دولس په مرسته دادی بریالۍ کړه .....

نن چې هغوی دخپلواکۍ دګټلو اواسـتقلال داخیسـتلو پـه درشل ولاړ دي، پورته یاد هر یو یې ځان دبالمثله برخې مستحق بولي او دهیواد داطرافـو او اکنـافو د وضـعیت او حالـت نـه پـه ناخبرۍ په ښاروتوکې دولسي نمایندګۍ په دعوا ډېرې غوښـتنې او ډېرې هیلې لري چې وایي په نظرکې دې ونیول شي .

دوو اساسي لاملونـو تـه پـه کتـو د دواړو لوریـو دهیلـو او غوښتنو دپوره کېدو اجتماع محاله اوناشوني برېښـي ، یـوداچې غالب او فاتح لوری دخپلې غلبې، قربانیو او بري له مخې ځان ټول په ټوله دهرڅه مستحق ګڼي او مقابل طرفونه بیا داچې دیوه لوري په وړاندې ځان ډېر جهتونه بولي اونـري یـې ژر غـږ اوري

ځان د ډېر څه وړ بولي، هرلوری په افغانستان کې راتلونکی نظام په خپله خوښه جوړول غواړي .

اوس داچې څنګه دې دا اجتماع ممکنه او دهرلوري هیلـې دې پوره شي، په یوه ثالث له رضایت پرته بله چـاره یـې نـه لیـدل کیږي چې هغه ته په رجوع د هرچا رضایت حاصلیږي او ټولوتـه په قناعت ورکوي، کنه نو خدای مه کړه حالت ببرته نویمو کلونو ته ورګرځي او یو وار بیابل اشغالګر ته داشغال زمینه برابریږي .

داثالث له دې خاوري او دې ولس سره پردی نه دی اونه یې په ټول ژوند په خپل تاریخ کې دولسونو ترمنځ توپیري چلن کړی ، راځئ افغانانو! د دیمکراسۍ پـردي اوغـرضي اصـول پرېـږدو د بشریت دخیر لپاره راغلي اسماني اصول اواسلام به دخپلو لانجو او اختلافاتو دحل لپاره ثالث وګرځـووچې هـیڅ لـوری بـه پـرې ګیلمن او خپه نه یو، په دې ډول به مونه یواځې خپلې هیلې پـوره وي، بلکې دهیواد پرمختګ او ولـس دسـوکالۍ ارمانونـه بـه هـم تحقق ومومي.

اسلام یواځې دطالبانو او ملایانونه دی، بلکې داسلام د دین اصول دالله تعالی دهر بنده لپاره دي دهر چا اوهرې طبقې حقوق پکې خوندي دي، هیڅوک نه شي کولای چې داسلام ټیکه داري وکړي، بلکـې هرڅـوک پـه ډېـر جرئـت سره داسـلام لـه اصـولو مخـالف او متعـدی راګرځـوی شي او مسـؤلیت تـه یـې متوجـه کولای شي .

البته دنظام دتطبیق لپاره یوداسې وضعي قانون پـه کـار دی چې داسلام داصولو په رڼاکې تدوین شوی وي او د ژوند په ټولو برخوکې دعملي کولو په برخه کـې پـرې هـر شـخص مسؤل او مکلف وي، ترڅو د دې خبرې مخـه هـم نیـول شـوي وي چې داسلام بیلابیل تعبیرونه کیږي او شخصي مزاج داسلامي احکامو تفسیر ونه ښودل شي .

همـدا مـو د بـري راز دی اویـواځې پـه همـدې خبـره سره راټولېدای شو .



د جوبایډن طرحې او دسیسې چا شنډې کړې؟

عبید ـ تنویر

د امریکـا د ولسمشـر پخـواني مرسـتیال (جوبایـډن) پـه یـوه تلـویزوني مناظره کې د افغانستان په اړه وویل: زه په افغانستان کې لـه دې نظریـې سره کلـک مخـالف یـم، چـې هلتـه د واحـدملت د جوړولـو هڅـې وشي، د نوموړي په خبره کله چې دی د اوباما مرستیال و، د هغـه د حکومت کوښښ دا و، چې افغانان په یوه روحیه او متحده انگیزه سره راټول نشي.

بایـډن څـه مـوده وړانـدې دا هـم ویلي و، چـې افغانستان څخـه بایـد ژر ترژره امریکایي عسمر راووځي؛ څکه هغـه هیـواد د کنترولیـدو او امریکـایي کیدو نه دی، که سل کاله هم مونږ هلته قـواووي ولـرو او هرکـال پـه لسـهاوو ملیارده ډالـر هـم ولگـوو کـوم ځـای نـه نیسي، بلکې د امریکایي قواوو په مقابـل کـې بـه بـد بینـي ورځ تـربلې زیـاتیږي اومرگوني حملې به وړباندې کیږي.

د بایـډن پـه اټکل بـه خبره داده چې یا افغانان سره متلاشي شي او یاهم لـه افغانسـتان څخـه امریکـایي عسـکر راووځي او په بدل کې یې دوئ خپلـې ځو ادې پاکستان ته منتقلې کړي.

که تیرو ۱۹ کلونو ته وگورو چې امریکایانو په افغانستان کې لـه افغانـانو سره په هـر میدان کې څـه ډول چلنـد اوبرخورد وکـړ، او کـومې سـتراتیژۍ او برنـامې یـې دلتـه پایـه ځپلـه او یـاهم د کابل د حلقه بگوشه رژیمونو پـه مـټ ترسره کړې، د جوبایډن خبرې له شـک پرتـه پـه حقیقـت بـدلوي، چـې رښـتیا هـم امریکایـانو پـه خپـل ټـول تـوان او شیطانت خومره هڅې وکړې، چې پـه افغانستان کـې میشـت قومونـه یولـه بـل سره په شخړو اوناورینونوکې اخته کړي او پـه یـو محـور او انگیـزه سره ټـول او متحد پاتې نشي.

له امریکایـانو وړانـدې د قومونـو ترمنځ د تفرق او تشطط خپرولو پـه نیت څینـو سیاسـیونو کوښـښ کـاوه؛ خـو امریکایـانو د یـوې برنـامې لـه مخـې مخـامخ د قومونـو منځتـه دغـه ناسور دننه کړ، هرقوم او ملت تـه یـې د دیمکـراسۍ او حقوقـو پـه نـوم دا ذهنیت ورځخاوه، چې ستاسې حقوق او امتیازات هغه بل قوم او ملت خوړلي او تاسـې یـې پـه لـوی لاس لـه صـحنې ویستلې یئ، تاسې بایـد پراخـه مبـارزه وکـړئ، د قـوم، ژبـې او سـمت پـالنې شعارونه راپورته کړئ.

څـه مـوده وړانـدې د کابـل رژیـم پخواني مشـر حامـد کـرزي د کنـدهار یوشمیرلیکوالو او شتمنوته د میلمستیا پرمهـال د یـوه تـن کنـدهاري لیکـوال (عبـدالظاهر) ددې پوښـتنې پـه ځـواب کې چې طلوع تلویزون ستا په دوره کې تاسـیس شـو او قـومي، لسـاني او سمتي مسائلو ته یې سخته لمن ووهله، کرزي ورتـه وویـل: "مـونږ هڅـه وکـړه چـې طلـوع تلـویزون لـه دغـو خپرونـو

راوګرځوو ؛ خوبرېالي نشو؛ ځکه دالر او برنامــه مخــامخ د امریکاســفارت د طلوع په اختیارکې ورکول، ترڅو قــومي او ژبني مسائل راوپــاروي، د کـرزي پـه خبره امریکایـانو د طلـوع پـه شـکل یـو شمیر پښتون پال تلویزونونه هـم ایجـاد کړل چې هدف یې یوازې ملي وحـدت ته ضربه رسول و.

لـه بلـه پلـوه کـوم خلـک چـې امریکایانو لـه تېـرو ۱۹ کلونـو راهیسـې واک ته رسولي، ټول هغه لويدلي او بې ضمیره څېرې وې او دي، چې تـل یـې په افغانستان کې قومي او ژبنیو شخړو تــه لمــن وهلــې او پــر هغــو یــې سیاسـت کـړي؛ امریکایـان د هغـوی پـه مطرح کولـو سره هڅـه کـوي، چې لـه عامه ذهنیتونو امریکایي اشغال وباسي، هرڅـه پـه قـومي او سـمتي سـیالیوکې ووینــې او هرچاتــه دا فکــر ورکــړي، چې کـه د امریکـا لمـن پرېـږدي او یـا د امریکا رحم و کـرم ورڅخـه قطـع شي؛ نو له هرډول انزوا او تجرید سره به مخ شي.

تاسې فکر وکړئ! اشرف غني له دې شعار سره واک تـه ورسـاوه، چـې د پښتنومحرومیتونه به ختموي، د امان الله خــان هیلــې بــه ژونــدۍ کــوي، د کمونیست ډاکترنجیب مسیر به تقیبوي. اشرف غنـي ظـاهرا همدغـه شـعارونه ورکول؛ خو په عمل کـې یـې د همدغـه

اشرف غني په لاس بیا څو داسې قاتلې قطعې جوړې، چې تګلاره او برنامه یې داوه چـې بـاغروره پښـتانه قتـل عـام کـړي، د هغـوئ د مـلي او دیني غـرور توهین او سپکاوی وکـړي او د اجـرتي قاتلانو او د سپیشل پورس د ملیشـو پـه توسـط هـرډول وحشـت او بربریـت سرتـه ورسـوي. اشرف غنـي یـوه ورځ هم د دغو اجرتي قاتلانو پـه کړنـو کـوم اعتراض او نیوکه ونه کړه، بلکې دفـاع یې کوي.

بـل لورتـه یـې ډاکټـر عبداللـه د اجرایه رئیس په صفت وګماره، دا دنـده یې وروسپارله چـې تـه د تاجـک قـوم سـپه سـالار یـې، د هغـوی د حقوقـو چیغــې بــه وهــې ؛ خوپــه عمــل کې هرچاته لکه لمر روښـانه ده، چې ډاکټر عبداللـه لـه خپـل ځـاني ارائش اوفیشن پرته بل استعداد او شـهامت نـه لري او تاجک درونډ قـوم هیڅکلـه دغـه ډول نانځکه د ځان نماینده نه بولي؛ خو چـون امریکایـان پـه هغـه کـې د خپلـو زهرجنو او شیطاني دسیسو ښـه کرونـده کولای شي نو تربل هرچا یې مطرح او چاغ ساتي؛

که داسې نـه وي نـو اشرف غني او ډاکټــر عبداللــه دې ووایــې چــې دوئ خپلــو قومونــو تــه یــې څــومره عملي کـار کـړی؟ څـومره ځوانـانو تـه یې د کار او لوړو زدکړو زمینـه مسـاعده

کړې؟ کوم داسې بنسټ او اسـاس یـې ایښــی، چـې لـږ ترلـږه پنځـوس زره پښتنانه او پنځوس زره تاجک افغانان یې مصروف کړي وي؟

پـه بـاور سره ویـلای شـو کـه دامریکایانو پـه مقابـل کـې د اسلامي امــارت تــرچتر او مشرــۍ لانــدې د مقدس مقاومت او پاک جهـاد د تـورې شرنـګ نـه وای، پـه کابـل او نـورو ښــارونوکې بـه اوس کلیســاوې لـه جومــاتونو سره پـه سـیالۍ روانې وې، د افغانستان د ملي وحدت په شیرازه بـه د جوی بایډن له طرحې او هوس سره سم مخکې لا چاره راکش شـوې وه، شـمال به جنوب سره د بیلتون دیوالونـه پورتـه کړي وو او جنوب شمال سره!!!

خـو د اللـه تعـالی پـه نصرـت همدغه د غیرت او میرانې لښکر موجود دی چــې د اســلام او افغانســتان د دښمنانو په ټولـو چلونـواو دسیسـو یـې یوځـل پنځـه ویشـت کالـه ورانـدې د بطلان کرښه کش کـړه، د مفسدینو او دارمارانو بیخ یـې وویسـت ، اوس یـې دادی د امریکا، ناټو او نـورو اشـغالګرو قوتونــو د یرغــل پــه اوږدو کــې د افغانسـتان د مـلي وحـدت او دینـي ار زښــتونو تــولي شــيطاني لــومې او د جوبایډن شومې دسیسې یو په بـل پسـې درې وړې او خنثی کړې.

دوه پېښې، دوه پرېکړې او د عبرت لوی درس

مور افغانان چې لـه تېرو ۱۸ کلونـو راهیسـې دامریکـا پـه مشـری کـې دغربـي اشـغالګرو سـره پـه جنـګ کـې اختـه یـو پکـې ډېرې سـترې پېښـې رامنځته شوې ؛ داشغالګر دښمن دبمبار په نتیجه کې پـه ځینو مـواردو کـې له ۱۰۰ نه زیات بې ګناه وګړي شـهیدان شـوي او داسـې هـم شـویدي چې دمجاهدینو په یو برید کې په لسګونو اشغالګر وژل شویدي.

داسې پېښې دومره سترې ګڼل کېږي چې د نړۍ په نوروهېوادونو کې داسې پېښې تر پېړیو پېړیو یادېږي.

خو دلته چې داسې پېښې زیاتې تکرارېږي نو مـوږ تـه عـادي ښـکاري نو څکه یوه ورځ یا څو ورځې یاده اوبیا ژر هېره شي .

څو ورځې دمخه د غزني په ده یک ولسوالۍ کې دمجاهدینو پـه لاس دسـي آی ای دخـورا پرمختللـي طیـارې رانسـکورېدل اودننګرهـار دوزیـرو ولسوالۍ په مرکز کې دیو نفوذي مجاهد دبرید په نتیجه کې د ۸ امریکـایي عسکرو وژل کېدل او دګنو نورو ټپیان کېدل دواړه په واقع کې ډېرې سترې پېښې دي .

آیا په نړۍ کې دامریکا دکوم دښمن څواکمن هېواد په بـاره کـې داتمـه کېدای شي چې په امریکا دداسې کوم برید جرأت وکړي ؟

برید ؟! برید خو ډېره لرې خبره ده ؛هرڅوک پدې پوهېږي چې دنړۍ ټول مادي طاقتونه چې رایوځای شي بیا هـم دامریکـا پـه مقابـل کـې تـرې دداسې اقدام تصور هم نه شي کېدای .

چې دا ددې دواړو پېښو د ډېر ستروالي دلیل دی خو داچې موږ خپـل دښمن ته داسې ډېر تاوانونه وراړولي نوراته عادي ښکاري .

هـې کـه دې دواړو پېښـو او بیـا دفلسطین اوافغانسـتان پـه اړه دامریکـا پرېکړو ته وکتـل شـي نـو پکـې دټولې نړۍ دمسلمانانو لپاره ډېر ستر عبـرت دی .

کـه مـوږ افغانـان دهـر ډول تعصب هنداري لـه سـترګو لرې او لـږ په سړه سینه دفلسطین دستونزې دحل پـه نـوم دامریکـا د ولسمشـر لـه لـورې داوسـنۍ وړانـدې شـوې طرحـې او دافغانسـتان نـه دوتلـو اوددې زیـاتو تاوانونونـه دډکـې جګـړې نـه ځـان خلاصولو پـه موخـه داسـلامي امـارت سـره دامریکـا مـذاکراتو تـه پـه غـور وګـورو نـو ورتـه ډېر څـه حاصـلولای شـو ؛ پرحقـایقو راغورېـدلې پـردې پورته کېدای اوډېرحقایق راته په خپل شکل کې رامخې ته کېدای شي .

د روان ۲۰۲۰م کال دجنورۍ پـه ۲۸ مـې نېټـې پـه سـپینې مـانۍ کـې دامریکـا د ولسمشـر ټرمـپ لـه لـورې دفلسـطین لپـاره د ډیـل آف سـنچري

(دپېرې معامله) ترعنوان لاندې دسوله يز حل په نامه هغه طرحه اعلان شوه دکومې لپاره چې هغه او دهغه يهودي زوم کروشنر درې کاله مسلسلې هڅې کړيدي ؛ددې طرحې په اعلانولو ترمپ دټولې اسلامي نړۍ پرسينه خنجر خښ کړ.

پدې اړه امريکا دعرب ليګ او اسلامي کانفرانس په څېرتنظيمونو او نه هم د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې دکوم دوست يا دښمن حاکم رايه معلومول اودثالث په صفت دځان سره ملګرې کول يا ورته لږ تر لږه خبر ورکول اړين ونه بلل بلکې ښه په بدماشۍ يې له خپل لورې پرېکړه صادره کړه او اسلامي نړۍ او خصوصاً عربو مشرانو ته يې اخطار ورکړ چې دا پرېکړه ومنئ او د۱۹۴۸م کال پرېکړې دنه منلو دخطا په څېر خطا بيا ونکړئ !

دترمپ پدې اعلان شوې طرح کې دفلسطيني دولت دمستقل وجود نه بېخي انکار شويدی. طرحه کې راغلي دي چې دفلسطينيانو نوی دولت به داسرائيلو تر څارنې لاندې يوه داسې اداره به وي چې امنيتي او نورې چارې به يې اسرائيل سمبالوي؛ دفلسطين دا نوی دولت به دامنيت لپاره پوليس لري خو دفوځ جوړولو اجازه به نه لري او مکلف به وي چې حماس ، اسلامي جهاد او نورې وسله والې ډلې په کلي ډول بې وسلې کړي دټولو هېوادونو سره په کډو پولو به يې اسرائيلي فوځيان پراته وي او د پولو ساتنه به يې داسرائيلو په غاړه وي .

ترمپ داهم ويلي دي چې دفلسطين نه کډه شوي مسلمانان (چې شمېر يې ۷ مليونو ته رسېږي او دنړۍ په مختلفو برخو کې مېشت دامهاجر فلسطينيان بيرته خپلې خاورې ته دراتلو په تمه شپې ورځې تېروي) دې دلته بيرته دراتلو نوم وانخلي او دې خاورې ته دفلسطينيانو دراستنېدو خبره دې دتل لپاره ختمه کړای شي .

دقيديانو په هکله يې هم همداسې خبره کړيده چې که فلسطينيانو سره کوم يهودي وي نو بې قيد اوشرطه به يې پرېږدي خو داسرائيلو په زندانونو کې دفلسطيني مسلمانانو دراخوشي کېدو لپاره يې داسې شرطونه ايښې دي چې معنی يې همدا ده چې بايد يو فلسطينی هم داسرائيلو له قيد نه آزاد نه شي .

مثلاً دا چې قتل يا دقتل اقدام به يې نه وي کړی ؛ په اسرائيلي فوځيانو ، پوليسو او ولسي وګړو به يې بريد نه وي کړی او نه به هم ورباندې دتروريستانو سره دتړاو تور وي .

نو ددې شرطونو ايښودلو معنی داده چې يو فلسطينی هم بايد داسرائيلو له زندان نه خوشې نکړای شي ځکه چې اسرائيلو زندان ته وړی وي نو خامخابه په يادو شويو خبرو کې پرکومې تورن وي ؛ که بل هيڅ هم نه وي نو تروريستانو يانې حماس سره دتړاو خبره خو چرته تللې نده .

ددې پلان لـه مخې بـه يروشـلم يـانې القـدس ښـار دفلسطيني مسلمانانو او اسرائيليانو ترمنځ شريک نه بلکې ټول القدس به د اسرائيلو ترکنترول لاندې وي او دښار نه بېرون کفر عقاب اوسهانات سيمو ته به دشرقي القدس نـوم ورکړل شـي او همدابـه د نـوي فلسطيني دولـت پلازمېنه وي .

طـرح کې داهـم راغلـي دي چې شرقي بيت المقدس ؛ اردن درې اوپه فلسطيني څمکو کې داسرائيلي ښارګوټو پـه شـمول بـه دفلسطيني مسلمانانو نه نيول شوې ټولې پراخې سيمې داسرائيلو نه جداکېدونکې جز وي .

ددې طرحې پـه وړانـدې کولـو ترمپ پر اسلامي نړۍ مسلط حاکمان خپلو ولسونو ته ډېر بې اعتباره کړل نوځکه دفلسطيني ولس او د فلسطين دپراخ بنسټه ولسمشر محمود عباس ترڅنګ په قاهرې کې دبيړنۍ غونډې په ترڅ کې عرب ليګ اوورپسې بيا په جدې کې داسلامي کانفرانس له لورې جوړې شوې غونډې کې هم دا طرحه رد شوه .

خو دامريکا دتاريخ پـه تـر ټولو اوږد او دځـاني او مـالي تلفاتونـه ډک جنګ کې دناکامۍ نه پس دافغانستان نـه د وتلـو لپـاره دخونـدي اونسـبتاً دابرومندانه لارې دغوښتنې پـه لړ کې امريکا داسلامي امارت دروازه ټکوي؛ ورسره کابو يونيم کال دمذاکراتو لړۍ روانـه سـاتي ؛ پـه ډېـرو مـواردو کې دخپلو شرطونو نه تېرېدنې او داسلامي امارت لـه لورې وړانـدې کړای شـوو شـرطونو منلوتـه اړکېـږي او بـالآخره

دافغانستان نه دخپلو فوځونو ویستلو ته تیاریږي .

نو د افغانستان ستونزه چې اسلامي نړۍ یواځې افغانانو ته پرېښې او یواځې دافغانانو ستونزه ګڼل کیږي نو امریکا پکې دومره تنزل ته تیاریږي خودفلسطین ستونزه چې دټولې اسلامي نړۍ مسئله ده او ټوله اسلامي نړۍ یې خپله مسئله ګڼي او دټرمپ په اقدام خپل خفګان ښکاره کوي خوټرمپ ددې ټولې اسلامي نړۍ دخفګان دیو ویښته برابر پروا نه ساتي او په دومره سپک نظر ورته ګوري چې غوښتنو ته یې هیڅ جواب نه وایې او نه پدې غونډو کې راټول شوي دا ټول مشران ددې وړبولي چې غوښتنو ته یې اعتنا وشي .

پدې دواړو ځایونو کې دا دومره ستر تفاوت ولې ؟

داځکه چې هرڅوک پدې پوهیږي او دټرمپ له لوري وړاندې کړای شوې طرحې دا خبره نوره هم ښه روښانه کړه چې دکمزوري او ځواکمن ترمنځ اصولو ته ژمنتیا ،په خپلو خبرو کلک ودریدل ، تړون ، وعده اومعاهده ټول بې معنی امور دي؛ اصل شي زور دی او یا ددې زور په مقابل کې دخپل زور ښکاره کول دي .

نوفلسطینیان اوخصوصاً دغزې مسلمانان د ډېرو زیاتو قربانیو ورکولو ته تیار دي او ورکوي یې خو چې اسرائیلیانو ته دتاوان رسولو توانمندي نشته نو دتېرو ۷ لسیزو راهیسې پرفلسطیني مسلمانانو دوحشي اسرائیلیانو ظلمونه روان دي ؛ ورځ تربلې پکې زیاتوالی راځي ؛ غصب پراخیږي دښمن لا سپین سترګی کیږي او شومې ارادې یې لا قوي کیږي .

خو له نیکه مرغه چې دلته مجاهدین دسي آی ای دېرمختللو طیارو غورځولو اوپه یوې یوې حملې کې دلسګونو امریکایانو په وژلو توانیږي نو امریکادخپل تاریخ په تر ټولو اوږدې او تلفاتو نه ډکې جګړې کې

> [illegible] اتحادیانو سره یو ځای دجګړې په ډګر کې خپل شکست
> [illegible]
> [illegible]
> خبرو ته نه وو تیار
>
> نو که فکر وشي دا دافغانانو لپاره دخوراډېر ستر ویاړ ځای دی ؛ ټول افغان ولس باید داسلامي امارت په قیادت او په خپلو هغو مجاهدینو ځوانانو وویاړي چې دقربانیو په برکت یې ددا دومره ستر دښمن شکست شونی شو

که داسلامي امارت دقیادت زیرکتیا ، حسن تدبیر ، شجاعت عالي عزایم او دقربانۍ ورکولو احساس نه وای اودمجاهدینو قرباني نه وای نو زمونږ حالت به اوس دفلسطیني مسلمانانو دحالت نه هم ډېربدتر وای .

ځان ، مال ،دین ، کلتور ناموس هیڅ به مو خوندي نه وای.

خو الحمد لله چې دستر اشغال نه دخاورې اوملت دآزادۍ او ددین اوعزت نه ددفاع په دې جنګ کې دمجاهدینو ددې خورا سترو قربانیو په برکت الله تعالی دافغانانو په لاس دنړۍ ترټولو ستر زبرځواک دسترې ماتې سره مخامخ او افغانان یې په مقابل کې داسې فاتحین وګرځول چې دوست او دښمن ټول پرې اعتراف کوي او په ټولې نړۍ کې یې دفتحې سندرې روانې دي چې دا دافغانانو لپاره د ډېر ستر ویاړ مقام دی .

په نړۍ کې هیڅ یو قوم او ولس دا حماقت نه کوي چې خپل ویاړونه او افتخارات له پامه وغورځوي یا یې بل چاته منسوب کړي.

نو اوس ددې وخت دی چې ټول افغانان لږ دعقل نه کار واخلي ؛ دا سترویاړ بل چاته نه بلکې ټول افغان مجاهد ولس ته منسوب کړي.

لږ باید موږ دنورو خلکو نه هم چل زده کړو ؛ خلک خپل واړه کارونه ، وړې سوبې او واړه ویاړونه څومره لویوي ؟!

افغانــان هــم بایــد پــدې غــوره مــوکې اوحســاس وخــت کــې دټولــو توپیرونونه پورته دا ستره فتحه چې څومره ستره ده همداسې ستره یې وګڼي اودالله تعالی ډېر زیات شکرونه پرې ادا کړي .

پر افغانستان دامریکا اونورو غربي اشغالګرو د یرغل په نتیجه کې دلته دبهرنو فوځونوپه لاس په ډېر لوی شمېررامنځته شوې وحشي وژنې، په توروشپو کې دکورونو تالاشۍ؛ د زماني بدنامو زندانونوکې دلسګونو زرو افغانانوزنداني کول ؛ په آبادو کلو ، جنازو، ودونو، روغتونونو، جوماتونو اومدرسو وحشي بمبارۍ ؛ ناامنۍ، فساد، فحشا، غصب، دغربي وحشي کلتور خپرول، اقتصادي نا انډولي او نور ې ناخوالې افغانانو ته ډالۍ شوې .

خوداچې دلته دراتلو سره سم اشغالګرو ښې ګڼې راډیوګانې ، ښه ډېرتلویزیونونه ، وبپاڼې او چاپي رسنۍ جوړې او په کار وګمارلې نود خپلو جنایتونو د پټولو او د مجاهدینو دآزادۍ اخستلوبرحقې سپېڅلې مبارزې اوټولو جهادي کړنو د غندلو اوبدنامولو لپاره یې ترې ښه کاراخست ؛ ددهمدې رسنیوله لارې یې د خپل یرغل د توجیه کولو، افغانانو ته د ځان ریښتوني ښودلو او پر ضد یې د هر ډول مقاومت د ځپلو هڅې وکړې اولا هم دالړۍ جاري ده .

دغو غلامو رسنیو له پیله کوشش کړی چې د اشغال پر ضد د افغان مجاهد ولس روان پیاوړی مقاومت کمزوری او د کمو افغانانو غوښتنه او مقاومت وښیي اوطالبان دبل چا دلاس آله وښیي .

اوس خو پخپله داشغالګرو اعترافونو هم هر څه روښانه کړل او دهرچا غوږونو ته داخبره ورسېدله چې په افغانستان کې له یوځوپرته نورې ټولې رسنۍ لاسپوڅې او دبل چا دلاس آله وه .

نو که څوک ددې غلامو رسنیو په تبلیغاتو غولېدلي وو یاېې ځان غولولو نورخو باید حقایق درک او ځان په زوره ونه غولوي .

دا ویل اسان دي طالبان دنورو استخباراتي کړیو سره روابط لري اود بل چا دلاس آله ده .

خو هرچاته الله تعالی عقل ورکړیدی ؛ هر څوک باید لږ دا فکر وکړي چې دغلامۍ ، دهېواد اوملت پلورنې ، بې غیرتۍ ، بې عزتۍ کوم کار اوکومه خبره شته چې طالبانورسره خپل ولس او هېواد مخامخ کړی وي او آیا دازادۍ خپلواکۍ ،پت ،عزت غیرت ملت اوهېوادسره داخلاص اوصداقت کومه خبره شته چې دکابل لاسپوڅې اداري نه یې څوک منسوب کړي ؟

ددین ملت اوهېواد لپاره طالبانو مثالي قربانۍ ورکړې ؛داسې قربانۍ چې پکې عادي مجاهد هم سر قربان کړ او امیرالمؤمنین هم نو سره له دې هم دطالبانو داخلاص په اړه شک او له قربانیو یې سترګې پټول ډېره ستره جفا او ظلم دی.

نظام دزدان و اوباشان

■ حبیبی سمنگانی

بنا برگزارشسالانه سازمان جهانی شفافیت، افغانستان در سال ۲۰۱۹ میلادی پس از سومالیا، سودان جنوبی، سوریه و یمن فاسدترین کشور جهان شناخته شده است. این بار اول نیست که افغانستان درین لیست نا مطلوب جا دیده می شود، بلکه از یک و نیم دهه به اینسو، افغانستان همواره در فهرست شرمناک کشورهای فاسد جهان جا داشته است. قابل ذکر است که سازمان جهانی شفافیت از سال ۲۰۰۵ میلادی، افغانستان را شامل گزارش های سالانه خود ساخته است و از آن زمان تا کنون به استثناء از ۲۰۰۵، افغانستان هیچ گاه از جمع ده فاسدترین کشور های جهان بیرون نشده است.

اما این تنها فساد اداری و مالی نیست که با مسلط شدن اداره دست نشانده امریکایی ها بر افغانستان، افغان ها را رنج داده است، بلکه مقامات اداره فاسد کابل درین اواخر در رسوایی اخلاقی نیز شهرت جهانی یافته اند. بی بی سی در تابستان پارسال تحت عنوان «رسوایی جنسی در قلب دولت افغانستان» از آزار جنسی زنان در بالاترین سطح اداره کابل رسماً پرداشت. اکنون کمیسیون حقوق بشر در گزارش تازه خود خبر داده است که حد اقل هفت در صد زنانی که در صفوف نیروهای امنیتی اداره کابل کار می کنند، اعتراف کرده اند که از سوی همکاران و مقامات مرد مورد آزار جنسی قرار گرفته اند.

اما این کمیسیون می گوید ؛ ممکن است قربانیان آزارهای جنسی بیشتر از هفت درصد باشند چرا که ممکن است به دلیل حساسیت موضوع و یا ترس از دست دادن کار، شماری حاضر به حرف زدن در این باره نشده باشند.

فساد اخلاقی پدیده ایست که با آمدن امریکایی ها و دار و دسته شان، تحت عنوان نوگرایی و مدرینته (Modernity) در جامعه افغانی به شکل سستماتیک رشد داده شد و با تهاجم هولناک فرهنگی کوشیده شد هویت دینی و سنتی افغان ها مسخ گردد. اگر چه فرهنگ فحشا و برهنگی در کشورهای صنعتی و به اصطلاح پیشرفته، ثمره نظام کاپیتالیسم شمرده می شود، اما این توطئه ملیاردها دالری غربی ها بود که جامعه مذهبی افغان ها را با راه اندازی کانال های تلویزیونی و امواج رادیویی با فرهنگ حیوانی و شیطانی خود آشنا سازند. آنچه را سیکولاران و لیبرالان آزادی بیان عنوان می دادند، برای افغان ها ثابت شد که بیش از «آزادی فحشا» چیزی دیگری نبود.

نیز اشغالگران سرمایه فراوانی را به اختیار آن مؤسساتی (N.G.O,s) گذاشته بودند که هدف اصلی شان مسخ چهره اسلامی جامعه افغانی بود، بلکه می توان چند سال اول اشغال را، دوره حاکمیت این جی اوزها در کشور استعمار شده افغانستان یاد کرد. زیرا کشورهای اشغالگر بخش اعظم بودجه های ظاهرا انکشافی و کمکی شان را از طریق این مؤسسات به خرج می رساندند.

رسوایی های اخلاقی مقامات، مسئولان و عساکر اداره کابل چیزی تازه ای نیست که اکنون فاش شده باشد، بلکه مصداق هر چه از حد بگذرد رسوا شود، اکنون این بیماری اخلاقی در سائر ارگان های رژیم به اوج خود رسیده و بی مهار شده است، حتی مسئولان بلندپایه زن هم خواسته و ناخواسته از نگاه هوسناک دولت مردان در امن نیستند. چنانچه افشاگری های اخیر مقامات بلندپایه پیشین ارگ نشان داد که این فاجعه از تمام مرزها عبور کرده است.

جنرال حبیب الله احمدزی، مشاور سابق رئیس اشرف غنی در مصاحبه با تلویزیون خورشید ادعا کرد که شماری از وزیران، مشاوران غنی و نمایندگان مجلس در «ترویج فحشا نقش دارند» ، برخی از زنان بر اساس روابط به مجلس نمایندگان راه یافته اند و خانم ها براساس لیاقت نه

بلکه بر اساس روابط نامشروع به پست ها گماشته می شوند. همچنان خانم مریم وردک، مشاور پیشین دیگری ریاست جمهوری اداره کابل در گفتگو با تلویزیون هندی «واین» سخنان جنرال احمدزی را تائید کرد. قابل ذکر است که از سلام رحیمی، رئیس آن وقت دفتر اشرف غنی و وزیر کنونی صلح در اداره چندسره و همچنان فاضل فضلی، مشاور ارشد غنی به طور خاص نام گرفته می شود که در جریان انتخابات پارلمانی سال ۲۰۱۸ از نامزدان زن تقاضای رشوه جنسی و مالی می کردند.

همچنان در گزارش ویدیویی یوگیتا لیمای (خبرنگار بی بی سی انگلیسی) یکی از کامندان پیشین دولت می گوید که یک وزیر بارها او را مورد آزار و اذیت جنسی قرار داده‌است. او پس از این حادثه از کارش استعفا کرده و به پولیس و دادگاه نیز شکایت نکرده است. به گفته او : «دولت قابل اعتماد نیست و پولیس و دادگاه فاسدتر از این مقامها اند و زنان را سرزنش می‌کنند». او می گوید که رییس او که اکنون وزیر ارشد حکومت است، به دو زن تجاوز جنسی کرده است.

معضل فساد اخلاقی و رشوه جنسی در اداره کابل تنها به یک ارگان و دو ارگان محدود نمی شود. از همینست که دولت چندسره وحدت ملی، به دولت شهوت ملی شهرت یافته است. رسانه ها چندی پیش خبر دادند که دو مقام رسمی اداره کابل هنگام ارتکاب زنا در یکی از فاحشه خانه ها در شهر گوای کشور هند گرفتار شده اند. این دو مقام در وزارت مخابرات و وزارت عدلیه رژیم وظیفه داشتند. همچنان دو سال پیش، رسوایی جنسی دگروال غلام رسول لغمانی، سرطبیب قوای هوایی رژیم هیاهویی را در رسانه ها برپا کرد. نیز فدراسیون جهانی فوتبال کرام الدین کرام، رئیس پیشین فدراسیون فوتبال افغانستان را به دلیل سوء استفاده جنسی از زنان ورزشکار، ما دام العمر از فعالیت در عرصه ورزشی محروم کرد. در ماه جولایی ۲۰۱۹، تجاوز جنسی ولسوال ولسوالی واخان ولایت بدخشان بر یک زن گردشگر استرالیایی، که از راه تاجکستان وارد واخان بدخشان شده بود، نیز خبرساز شد.

سازمان سیگار (اداره بازرس ویژه امریکا برای بازسازی افغانستان) در یکی از گزارش های خود در سپتمبر سال ۲۰۱۷ انکشاف کرد که مقامات نظامی رژیم کابل حتی بر بیوه زنان عساکر خود هم رحم ندارند و از آن ها در بدل معاش تقاعدی شان مطالبه برقراری روابط جنسی می کنند. جان سوپکو، رئیس این سازمان گفت : ما داستان های وحشتناکی را در مورد بیوه های سربازان افغان شنیده ایم، که باید به منافع جنسی به منظور دریافت حقوق تقاعد همسران شان عمل کنند».

اما درین روزها صحنه دردناک ویدیویی را افغان ها مشاهده کردند. این صحنه نشان می دهد که یکتن عسکر اجیر افغان در منطقه عینو مینه (قندهار) می خواهد روسری یک دختر آبرومند افغان را دور کند و از چهره اش عکسبرداری کند، اما آن دختر با عفت با گریه و زاری عذر می کند و می گوید او را بکشد. اما بی آبرو نسازد. این صحنه هولناک نشان می دهد که اکنون نه تنها جان و مال، بلکه آبروی هیچ زن افغان از دست مقامات و عساکر بی وجدان رژیم مصئون نیست.

جهانیان شاید از تماشای ناتوانی و مظلومیت مردم بی گناه افغانستان لذت می برند و این جنایات شرمناک رژیم را نادیده می گیرند، اما افغان ها دیگر نباید این کوه گران رسوایی را تحمل کنند و باید عزیمت را بر رخصت ترجیح داده، برای دفاع از جان، مال و آبروی شان در همه عرصه های ممکن برزمند. چنانچه در مطلبی از سایت الاماره آماده است :

«در چنین حالت، اگر مردم دامن صبر را محکم می گیرند و بر رخصت عمل می کنند، این تفنگسالاران اجیر و بی رحم ایشان را یکی پس از دیگر به امر باداران شان می کشند و ناموس شان را اهانت می کنند، اما اگر از عزیمت کار بگیرند، و در برابر این وحشت با جرات و اتفاق صدا بلند کنند و به گونه منظم در برابر این گروهک ظالم و قاتل ایستاده شوند، اعم از اینکه نزد مجاهدین به سنگرها می روند، تظاهرات می کنند، از طریق بعضی رسانه های آزاد صدای خود را انعکاس می دهد و یا از دیگر راه های مؤثر استفاده می کنند، این راه عزیمت و گام مثمر برای نجات، عزت و کامیابی شان خواهد بود».

مقامات اداره کابل همواره از دستاوردهای هجده ساله خود لاف می زنند، اما افغان ها این نظام تحمیلی و پوشالی اشغالگران را نظام دزدان و اوباشان می دانند وخواهان نابودی هرچه زودتر آن هستند.به امید افغانستان مستقل واعاده حاکمیت نظام اسلامی در سراسرآن.

امریکایی پیلوټان دافغانانو

م مبصر

په زخمــونو مالګي دوړوي !!

د امریکا د هوایي ځواکونو د بې پیلوټه الوتکو یوه چلوونکي د انسانانو له ژوند سره د امریکایي جنرالانو له لوبو پرده پورتــه کـړې ده. د ډرون الوتکـو دې کنټرولوونکي په خپله یوه مرکه کې ویلي کله چې یې یو افغان ماشوم له هوا په توغندي وواژه،مشرانو قومندانانو یې ورته ویل چې فکرمه خرابوه، دا یوسپی و.

د امریکا لخوا په ناروا جګړو کـې د بـې پیلوټـه الوتکو پـه څېر د یـوې خونخوارې او د بېګناه خلکو د ژوند اخیستونکې وسـلې کـارول کېـدل پخپلـه ښیي چې د نړۍ دا زبرځواک د نورو خلکو ژوند ته څومره احترام لـري. خو د خلکو له وژلو خوند اخیستل یې څېره نوره هم بربنـدوي او د ډرون د چلوونکي پر دې خبره د تایید مهر لګوي چې امریکایي پوځ تر نازیانو هم وحشي دی.

لکه څنګه چې پورته یاد شوي کس اعـتراف کـړی، پـه افغانسـتان کـې د امریکا جنایات یوازې د یوه ماشوم تر وژلو نه دي محدود، په تېرو څـه کـم دوو لسیزو کې یې له حسابه وتلي جنایتونه زموږ په هېواد کې ترسره کړي او لا یـې هم ترسره کوي.

امریکا د بشر د حقوقو علمبردار ځان بولي او په همدې بهانه یې پـر نـورو هېوادونو باندې ناروا جګړې پیل کړې دي. خو امریکایي پوځ او ولسمشرانو یې نه یوازې د خپلو ځواکونو لخوا په ترسره شویو جنګـي جنـایتونو سـترګې پټـې کړې او جنایتکاران یې بخښلي، بلکې د هغو خلکو خولې او لاس یې هم ورتړلې چا چې د امریکایي عسکرو لخوا د ترسره شویو جنایتونو پلټل غوښتي دي.

یوازې په تېرو دوو لسیزو کې د امریکا لخوا د نورو هېوادونو پر خپلواکۍ او د هغو پر بېوزلو ملتونو باندې د امریکا تعرضونو او تېریو ته په کتلو نور د بشر د حقوقو په اړه د امریکا پر غولوونکو شعارونو هیڅ باور نه شي کېدای.

د بشــري حقونــو د همــدې نــارې وهونکې امریکـا قومنـدانانو یـو بېګنـاه ماشوم تر وژلـو وروسـته سـپی بللـی، د مړو د جسدونو بېحرمتـي یـې کـړې، لـه بـړو انلسـو کلونـو راهیسـې یـې پـر افغانانو څېله ځمکـه سره تبـې ګرځـولې، وژني یې، لـه کورونـو یـې باسي او شکنجه کوي یې.

هغه خلـک چـې د امریکـا پـه شعارونو غولېدلي او د همدې رنګینو نارو له امله له هغوی سره په څنګ کې ولاړ دي، باید نور په لوی لاس ځان تېر نه باسي.

نور وخت راغلی چې د بشر د حقـوقو په نـوم راغلـي تیریګـرې امریکـا او ورسره راغلو اشرګرو ته یې په هنداره کې خپلـه ربنــتیني څېــره وروښــووله شي، او پرېښوول شي چې زموږ په هېواد کـې د بشري حقونو د ساتنې په نامه د انسانانو پر حقوقو تېري ته دوام ورکړي.

***

د دلوې (۲۶) مه دې هېره نه وي

صارم

د (۱۳٦۷) هش کال د دلوې په (۲٦) نېټه له افغانستانه دشوروي اشغالګر سرې لښکرې ووتې، ولسي مقاومت بریالی شو اودشلمې پېړۍ سترطاقت (شوروي اتحاد) په افغانستان کې ماتې وخوړه .

د دې ورځې یادښت په داسې شېبو کې کوو چې دغرب داشغال دیای نښې نښانې دي، دغربي تاړاک داخراج دموافقتنامې ورځ ټاکل شوې او په جنګ کې دتخفیف راوستلو امر عملي شوی،او ټول افغانان یوه ښه راتلونکي ته ښې ارزوګانې لري ، الله تعالی دې وکړي چې داهیلې یې خاورې نه شي .

له امریکایانو اوحلیفانو سره د افغانانو دسختو جګړو، کړاوونو، هجرتونو او مرګونو سره دآرام اوسولې د دغه زېري په اوربدو سمدستي د دلوې (۲٦) مه نېټه رامخته مخته کیږي چې په یوه پېړۍ کې دوه حریف قطبونه په همدې یوه کوچنۍ جغرافیایي محدوده کې مات شول .

هماغه مهال چې دشمالي قطب نړۍ خور د وارساتړون له غړو هیوادو سره یوځای د دې هیواد دهضم پلانونه جوړول، هممهاله ورسره امریکااوناټو سره جګړه روانه کړې وه او له نظامي یرغل سره یې سم دشورویانو په مقابل کې دمجاهدینو ننګه اوملاتړ وکړ تر دې چې په هغوی د دلوې ۲٦ مه نېټه راغله او له افغانستانه ووتل .

دوخت د شوروي امپراطورۍ ځواک او نظامي طاقت تربل هرچا ناټو او امریکاته ښه معلومېده اوپه تمامه معنی له دوی ځخه هغه مهال په قوت کې وو، ورسره په مقابل کې یې دافغانستان د غریبو اوپښې یبلو افغانانو مقابله اوسرښندنه هم لیدله چې یوه ناممکنه ماته یې ممکن کړه .

له دې سره سره یې بیاهم دشورویانو سهوه تکرار کړه او پرافغانستان حملې ته یې بهانې ولټولې چې دادی دوی هم بېرته دهغوی پرپله روانیږي او ځان ته دوتلو لارې برابروي ، که ژور فکر ورو دحوت (۱۰)مه هم د دلوې د (۲٦)مې له شالیده ده او دې تتبجې ته رسیږو چې که هر ډول زور او تغیر دلته راوړل شي چې اسلام پکې نه وي په دې ولس او خاوره نه شي عملي کېدای ، د دې خاورې اوسیدونکي ټول مسلمانان او په اسلام مین خلک دي، دا خبره د یوطرف ننګه اوملاتړ نه دی، بلکې یو داسې واقعیت دی چې دافغانستان دهرې طبقې خلک یې مني او انکار ترې نه کوي، کنه نو دغه ډول وحشتونه، کړاوونه، ظلمونه او ناخوالې چې د دواړو اشغالونو په دوره کې پردې ملت راغلې، که پر بل هر ملت راغلې وای هیڅکله به یې خپل تشخص اوهویت نه وای ساتلی او ډېر ژر به داشغالګرو زور او غوښتنو ته تسلیم شوي وای، چې مونږ یې په نړۍ کې ډېر مثالونه موندلی شو .

دافغانستان غریب خو مسلمان ملت دا هرڅه دخپل اسلامي تشخص دساتلو په خاطر ومنل او داشغالګرو هر وحشت او ظلم ته یې خپلې سینې سپر کړې، په تېره بیا دناټو او امریکایه دې یرغل کې چې دې ملت کومه قرباني ورکړه او کومې ستونزې دوی تېرې کړې، تربل هر چا امریکایانو ته ښې معلومې دي .

دا هر څه د دې حقیقت ښکارندویي کوي چې که نور هرڅه کیږي دافغانستان دخلکو ډېر اکثریت دنظام په جوړښت کې له اسلامه بالکل نه تیریږي او دافغانستان لپاره دوی ټول اسلامي نظام غواړي، دا واقعیت به دیوه اصل په توګه ومنو او دهمدې اصل په رڼاکې خپل راتلونکې وسنجوو .

اوس مهمه داده چې هسې نه لکه تېرځل مو چې د دلوې له ۲٦ مې وروسته دخپلواکۍ او قربانیو ثمره ونه شوای یاللای، داځل هم خدای مه کړه دخپلواکۍ ګټلو، قربانیو او جهادونو ثمره اوهدف له لاسه ورکړو او یوځل بیا مو هماغه ډول رسوایي، تاریخي شرم او ناخوالې په برخه شي .

داهدف هلته ترلاسه کولای شو چې مونږ ټول افغانان د هیواد د علیا مصالحو لپاره اوصولو ته پر فروعو اولویت ورکړو او دیوه آزاد، داسلام په ګانه پسوللي افغانستان د پرمختګ لپاره ګډې هڅې وکړو .

دارګ له منځه د اشغال کلمه څه معنا لري؟!

لیکوال: م. عطاءالله مبارز

نږدې دوه لسيزې وړاندې د امريکا په مشرۍ غربي ايتلاف پر افغانستان ناروا يرغل وکړ، د افغانستان پاکه خاوره يې اشغال کړه، يو مشروع، عدالت او امن قائمونکی نظام يې راوپرځاوه، ازادي غوښتونکي افغانان يې شهيدان، بې کوره او زندانيان کړل.

هغه مهال ځينې بې ضميره او وطن پلورونکو افغانانو دغه اشغال په بيا رغونه او پرمختګ تعبير کړ، د اشغالګرو سره يوځای د حريت خوښوونکو افغانانو په وړاندې ودرېدل او په ډېره سپين سترګی يې د ازادۍ لپاره مبارزه کوونکي کسان ترهګر او رجعت پسند ياد کړل.

البته دا د ګوتو په شمار څو دوه تابعيته افغانانو ته منسوب کسان وو. ډېری افغانان په ازادي او حريت مين دي او د اشغال په وړاندې يې په يو نه يو ډول مقاومت کې برخه اخيستې، د اشغال له لومړۍ ورځې يې ښکېلاکګر او د هغوی د بګۍ ټټوګان رد کړي دي.

د هرې ورځې په تېرېدو د اشغال په وړاندې غږونه پورته کيږي، چې ورسره د اسلامي امارت سپېڅلی دريځ هم پياوړی کيږي. دا دی اوس د ارګ له منځه هم د اشغال کلمه راوځي، څو ورځې وړاندې د اشرف غني د انتخاباتي کمپاين مشر"عمر داودزي"- چې اشرف غني ته ډېر نږدې کس بلل کيږي- يوې مطبوعاتي غونډې ته ووېل چې افغانستان اشغال شوی.

ښاغلي داودزي ويلي و، چې د طالبانو دغه خبره چې افغانستان اشغال دی، بده خبره نه ده، که څوک وايي چې افغانستان نه دی اشغال؛ نو راشئ له مانه پوښتنه وکړئ.

دا يوازې داودزی نه دی، چې افغانستان ته اشغال شوی وايي، بلکې له دې وړاندې هم ځينو اوسنيو او پخوانيو حکومتي چارواکو دغه راز څرګندونې کړې دي.

د اشغال له پيله ۱۳ کاله د ښکېلاک ډول ته ګډېدلي پخواني ولسمشر حامد کرزي، څو څو ځله افغانستان اشغال شوی هيواد ګڼلی او له امريکايانو يې غوښتي چې افغانستان کې خپل نظامي حضور پای ته ورسوي.

افغانستان اشغال دی! هغه کلمه چې له نن نږدې ۲۰ کاله وړاندې اسلامي امارت ويله؛ خو د واک او مادياتو په نشه مستو څو کسانو به يې مخالفت کاوه او د امريکايانو د پوځي حضور سربېره به يې افغانستان خپلواک او ازاد هيواد معرفي کاوه.

که څه هم افغان غيور اولس له پيله د اسلامي امارت مبارزه د هيواد دازادۍ لپاره سپېڅلې او اړينه ګڼله؛ خو که ځينې کسان داسې وي، چې د غربيانو له رسنيزو شعارونو اغېزمن شوي وي، هغوی دې هم اوس فکر وکړي، چې له ارګ څخه د افغانستان د اشغال کلمه راوځي؛ نو دوی هم بايد خپل ليدلوری تغير کړی او نور د هيواد د بشپړې ازادۍ لپاره اسلامي امارت سره اوږه په اوږه مبارزه وکړي.

احمد مختار

او بالاخره ټاکنیزه ډرامه پایته ورسیده ...

له پنځو میاشتو غورځو پرځو، درغلیو، او ناندریو وروسته بالاخره د سلواغې د میاشتې په (۲۹) نیټه د کابل رژیم او د هغه د بهرنیو ملاتړو له لوري پیل کړې ټاکنیزه ډرامه د اشرف غني په ګټه پایته ورسیده.

که څه هم چې یاده ډرامه په ظاهره پایته رسیدلې خو ناوړه اغیزې به یې تر څو چې د فساد، لا قانونیت او وحشت سمبول (کابل رژیم) د بهرنیانو د بمونو په زور پر ولس تحمیل وي تر هغو به افغان ځوریدلی ولس کړوي.

د یادې انتخاباتي ډرامې طراحین (پلانوونکي) او ممثلین (اجراء کوونکي) ټول له اول نه په دې ښه پوهیدل چې دا ډرامه یې نه د افغانستان له اوسنیو ایجاباتو سره اړخ لګوي او نه یې دلته د بریالیتوب چانس شته ، خو دا چې د مجاهدینو په مقابل کې یې ټول پوځي او استخباراتي هلې ځلې له ناکامۍ سره مخ وې نو د هغې له کارولو پرته یې د خلګو د اذهانو د اغفال لپاره بل هیڅ په لاس کې نه لرل.

د دې ډرامې د تنفیذ ترشا د امریکا د کانګریس او سي آی اې د هغو توطیه ګرو کړیو لاس دی چې ډیر پخوا یې د افغانستان د تجزیې او ویشنې پلانونه لرل.

د دغو توطیه ګرو په ډله کې د امریکا د استازو د جرګې غړی ډانا روهرابکر او د هغه ځیني نور همفکره استازي شامل دي.

همدا کسان غواړي چې امریکا باید د هغو ډلو ټپلو حمایت وکړي کومو چې د ځانګړیو قومي او تنظیمي ملحوظاتو پر اساس د افغانستان د اشغال په پیل کې رول لرلی ، چې په هغو کې یې ځانګړې اشاره جنرال دوستم او د شمالي ټلوالې نورو هغو اشخاصو ته ده چې امریکایانو د طالبانو په راپرځولو کې ترې د پلیو ځواکونو کار واخیست.

روهرابکر په کانګریس کې تل د خپلو خبرو په مهال پر دې ټینګار کړی چې د امریکا متحده ایالات باید په افغانستان کې قومي تنوع ته پیاوړتیا ور وبښي او دغه تنوع باید په سیمو او ولایتونو کې د ټاکنو له لارې تائید او د افغانستان نظام باید فدرالي شي.

نوموړي په دې اړه خپله طرحه د امریکا د کانګریس د استازو جرګې ته ۸ کاله وړاندې په ۲۰۱۱ کې سپارلې وه.

د روهرابکر د تخریبي طرحې په تائید د امریکا پخواني مرستیال ولسمشر- او د ولسمشرۍ نوماند جوبایډن هم د روان میلادي کال د فبروري په لسمه خپلې یوې انتخاباتي غونډې ته په وینا کې د افغانستان په باب داسې وویل:

((هیڅ ممکن نه دی چې افغانستان دې یو واحد هېواد شي))

اوس چې د ډانا روهرا بکر د پلان مطابق انتخاباتي ډرامه پایته رسیدلې او د هغې له مخې ارګ د اشرف غني ، د ارګ په ګاونډ کې سپیدار ماڼۍ د ډاکټر عبدالله، جوزجان ولایت د جنرال دوستم، بلخ ولایت د عطامحمد نور، بامیان د کریم خلیلي او دای کونډي د حاجي محقق په برخه رسیدلي امریکایان به د نورو تخریبي هڅو تر څنګ په حتمي ډول د دغې طرحې (افغانستان ویشنې) د تقویه کولو حمایت کوي.

خو لکه څرنګه چې په افغانستان کې د اشغالګرو نورې توطیې خنثی شوې دا هغه به هم د الله په نصرت او د افغان مؤمن ولس په ملي وحدت سره خنثی او په دغه ډول سازشي ډرامو کې لوبیدونکي منفور کرکتران به له همیشني ذلت او رسوایي سره مخ کیږي.

ان شاء الله ...

طالب او محصل د امت د جسد دوه لاسونه دي

ددې جسد سر څوک دی؟!

عبدالرقیب رقیب

مسلمان په ژوند کې دوه چارې پرمخ وړي، د دنیاوي ژوند اړتیاوې او د اخروي ژوند ذخیرې

د مسلمان عقیده ده چې د عبادت لپاره پیدا شوی دی، ژوند راته د خپل رب له خوا امانت دی، د ژوند د بقا لپاره په ټولو اړینو چارو مکلف یو او دا مکلفیت په سمه توګه ترسره کول بیا عبادت دی.

د چارو په سمه توګه ترسره کول په پوهه کېږي، پوهې ته علم وایو، ها چې اخروي چارې رانښيي ديني علم بولو او زده کوونکي یې زموږ په اصطلاح طالب بلل کېږي؛ کوم چې دنیوي چارې رانښيي دنیوي علم دی او زده کوونکي یې محصل بولو.

مسلمان یو جسد دی، د جسد چارې په لاسونو سنبالېږي، طالب او محصل یې دوه لاسونه دي؛ که دوی سالم او همغږي وي نو جسد به روغ رمټ وي، په اقدام او دفاع کې به تیمګری نه وي..

مسلمان عقیده لري چې الله ﷻ خلق کړی دی

الله ﷻ امر ورته کړی، چې د اخروي او دنیاوي چارو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي او بیا یې کار پیل وکړي.

ځیني کارونه په افرادو پورې اړه لري چې په هر فرد یې ځانګړې زده کړه او ترسره کول الهي وجیبه ده، دغو کارونو ته " فرض عین " وایو لکه : لمونځ، روژه، حج، زکات، عورت پټول، دومره خوراک چې ژوند وساتي، د دښمن له لښکرو سره د مخامخ کېدو په وخت کې مقاومت کول او داسي نور...

او ځیني بیا ټولنیزې چارې دي چې یو ټولی یې ترسره کړي هغه نور له مکلفیته خلاص وي، خو که هیڅا ترسره نه کړلې نو ټول به مسوول او ګناهګار وي؛ دغسې کارونو ته " فرض کفایي " وایو

لکه : د دین د ټولو احکامو زده کول او نورو ته رسول، د جنازې لمونځ کول، د دښمن په مقابل کې د اسبابو تیارول او د هغه موادو پوره کول چې لازم کارونه ور پورې تړلي وي...

دا کارونه زده کړې ته اړتیا لري، له زده کولو پرته یې ترسره کول ناشوني دي، یا خو نیمګړي وي..

په یادو کارونو کې ځیني یې دنیوي اسباب دي چې په دنیوي او حرفوي علومو ترسره کېږي او ځیني نور یې په اخرت پورې تړاو لري چې په ديني علومو ترسره کېږي؛ ځیني داسي هم شته چې په یو مهال دواړه اړخونه لري او دواړو علمونو ته اړتیا لري

همدا سبب دی چې الله ﷻ مسلمان ته د دواړو علمونو په اړه د زده کولو امر کړی دی دلته له " فرض کفایي " څخه غږېږو چې د یو ټولګي په ترسره کولو یې نور له مکلفیته خلاصېږي

د دنیاوي علم په اړه الله ﷻ فرمایي :

(وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ...) [سورة الأنفال ٦٠]

ژباړه: او تاسي تر خپلي وسي وسي ډېر زيات طاقت او تيار زين کړي اسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ، تر څو چي په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ، چي تاسي يې نه پيژنئ خو الله يې پيژني...

علماء فرمايي چي د دې الهي فرمان په اساس په مسلمانانو ټول هغه اسباب تيارول لازم دي چي د وخت د دښمن مقابلې ته پکې اړتيا وي...

اسباب په حرفوي او دنياوي علومو تيارېږي نو ځکه خو وايو چي دنيوي علوم فرض دي، که دومره مسلمانان يې حاصل کړي چي د کافرانو سره د مقابلې اسباب... تيارولای شي بيا د نورو غاړې خلاصي دي کنه نو ټول به مسوول او ګنهګاران وي

خو، که کوم مسلمانان دنياوي علوم د وجيبې ترسره کولو په نيت حاصل کړي او بيا د کافرانو د مقابلې لپاره ور څخه ګټه وانخلي نو داسي به وي لکه ديني عالم چي په خپل علم عمل نه کوي.

د ديني علم په اړه الله ﷻ فرمايي :

﴿وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ [سورة التوبة ۱۲۲]

ژباړه: او دا څه ضروري نه وه چي مؤمنان ټول له مخي وتلي وای، خو داسي ولي ونشوه چي د هغوی د نفوسو له هري برخې څخه يو څه کسان وتلي وای او د ديني پوهې له تحصيل څخه وروسته بېرته راستانه شوي او د خپلې سيمې اوسېدونکي يې خبردار کړي وای، تر څو هغوی (له غير اسلامي چار چلند څخه) ډډه کړې وای.

د دې ارشاد په استناد لازمه ده چي د هري سيمې ځني، ځيني خلک په دين کې تخصص او ژوره پوهه ترلاسه کړي او بيا د هغې اړوند فعاليت وکړي، نورو ته د دين باريکي مسئلې ورسوي چي دغه چاره ترسره کوونکو ته موږ طالبان او ملايان وايو

نو ويلای شو چي د مکتب محصل او مدرسې طالب اوږه په اوږه هغه الهي فريضې ترسره کوي چي په ټوله کې وربانديې دغه امت مکلف دی، د يو په عمل د هغه بل مکلفيت پوره کېږي.

طالب بايد درک کړي چي محصل يې د ديني مکلفيت نيم پيټی په اوږه اخستی او تر منزله يې ورسره وړي. که طالب، محصل پردی وګڼي او کار يې خپل کار ونه بولي نو طالب به شرعي مسووليت ولري ترڅو دنيوي اسباب تيار کړي؛ طبعي ده چي طالب په يو سر دواړه کارونه نشي کولای او نه ورته پرېښودل کېږي، ځکه دا خير القرون نه ده چي هيڅوک به د دين د خادمانو په مخ کې خنډ نه جوړېده.

طالب باند درک کړي چي څنګه ايمان او اسلام دوه نه بېليدونکي ارکان دي، چي يو د زړه او بل د اندمونو وظيفه ده، دغسي طالب او محصل هم دوه نه بېليدونکي امتيان دي، چي يو يې ديني او بل يې دنيوي وجيبې ترسره کوي او يو د بل اوږې سپکوي.

طالب بايد درک کړي چي که محصل ورنه دښمن واخيست نو ګواکي ټوپک يې ورنه واخيست.

محصل هم بايد فکر وکړي او طالب پردی ونه ګڼي. ديني اوږه يې په طالب تکيه ده؛ ځکه طالب دی چي د محصل نه يې الهي مکلفيت اخستی او "فرض کفايي" علم ته يې ځان وقف کړی دی؛ که محصل په طالب قائل نه شي ، نو شرعي مکلفيت به ولري چي ديني علم مکمل زده کړي؛ بديهي ده چي محصل نشي کولای چي په دواړو اړخونو کې تخصص وکړای شي؛ که احياناً دغه چاره سرته ورسوي نو دوهم پړاو هم مکلفيت دی، هغه دا چي خلکو ته به خپل معلومات رسوي چي دا نو داسي مکلفيت دی چي ترمرګه تقاعد نه لري....

محصل باید د افغانستان په تاریخ کې د طالب او محصل ترمنځ توپیري چلند ته ژور فکر وکړي، له بیت المال نه د طالب او محصل برخه مقایسه کړي، له طالب او محصل سره د حکومتونو توپیري چلند مخې ته کیږدي، او بیا عادلانه قضاوت یا اقلاً سالم فکر وکړي؛

محصل به د کسبي او حرفوي علومو وزارتونه ویني، د محصلینو لپاره پاخه مکاتب، لیسې او معیاري پوهنتونونه به ویني، د محصل لپاره به خارجي بورسونه وي، نصابونه به یې د اړتیاو مطابق عیارېږي، کتابونه به یې د دولت له خزانې ورکول کېږي، د استاذانو معاش به یې د بیت المال نه ورکول کېږي، تولې رسنۍ به د دوی په خدمت کې وي...

خو طالب به له دې هرڅه محروم په خپل ژوند قانع ویني؛ وبه ویني چې طالب په توره حجره او ختینه کړه وړه مدرسه کې د کلیوالو په ساړه ټوک صابر دی

محصل به وویني چې لسیزو واکمنیو د طالب په خلاف کار کړی دی او زهریله مواد یې پاشلي دي...

محصل باید هغه وخت غور وکړي، دقیق متوجه شي چې دا هرڅه د چا له خوا او ولې؟

د امت دښمن کوشش کوي ترڅو د یو جسد دغه دوه لاسونه په خپلو کې بې باوره کړي، سره بیل یې کړي او یو د بل په ضد یې وکاروي؛

دوی دواړه باید دغسې دسیسې درک کړي، په خپلو کې سره پنجه شي او دښمن ته وښیي چې دوی نه بیلیدونکي قوت دي.

طالب او محصل دواړه باید دا خبره ښه درک کړي چې دوی د اسلامي امت د جسد لاسونه دي؛ هیڅ یو دي د دې بدن د سر کیدلو دعوه نه کوي؛ د امت سر قران دی، چې تول حواس او ادراکونه پکې ثبت دي.

قران د ګتې او زیان معیار دی، قران دوست او دښمن تشخیصوي، قران خواږه او ترخه معلوموي، قران رڼا او تیاره راښیي...

د امت لاسونه باید هغه کار وکړي چې د امت سر (قران) یې ورته فرمایي لاسونه باید خپل حیثیت وپېژني او بواخې خپل مسوولیت ترسره کړي

طالب او محصل د قران په نسبت داسې حیثیت لري لکه لاسونه د سر په نسبت؛ لاسونه د ښه او بد تشخیص نشي کولای لاسونه که له سر نه رهبري نشي- شاید ماشوم غوندې اور ته ورغاړې وزي.

د عمل لپاره قرانکریم د لاسونو وظایف ویشلي دي، هر لاس باید خپل کار وکړي، ځیني کارونه باید په ګډه وکړي

له امام محمد - رحمه الله - نه پوښتنه وشوه، چې تاسو وایي په قران کې د هرڅه په اړه معلومات شته؛ ستا قران زده دی ماته معلومات راکړه چې له یوې بوجۍ اوړو څو مړۍ پخېږي؟!

امام له ناست "نانوای" نه پوښتنه وکړه؛ د هغه معلومات یې پوښتونکي ته واورول.

پوښتونکي وویل ما له تانه پوښتنه کړې ده، ترڅو د قران له مخې معلومات راکړې!

امام ورته وویل قران همدغسې فرمایي :

« فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ". که تاسو نه پوهېږئ نو د ذکر له خاوندانو (عالمانو) پوښتنه وکړئ.

په دې مسلک کې همدغه سړی د ذکر خاوند دی...

محصل او طالب باید په په همغږۍ سره په خپلو مسلکونو کې کار وکړي، ځیني کارونه په ګډه وکړي، هیڅ یو دې ځان له قران نه پورته نه ګڼي، لاسونه تر سر پورته ورل دښمن ته د تسلیمي معنا لري.

زمونږ حق غوښتنه او عکس العمل ولې تاوتريخوالی وبلل شي؟

ليکوال بدر خلاند

لـه کـومې ورځـې چـې د امريکـا يرغـل شروع شـوی پـه څنګ کې يې غـربي اجيـرې ميـډيا هم د حقايقو مسخه کولو او اشغال تـه د جـواز ورکولـو کـار تـه کـار ويلی ده

که حقيقـت تـه فکـر وکـړو امريکا په غير قانوني توګه پر مونږ يرغل وکړو زمونږ ځمکه او فضـاء يـې غصـب کـړه زمـونږ واک او اختيار يې هغو مـزدورو بې ننګـه چپړاسيانو ته وسپاره چـې تـر هـر څه زيات د خپلو بـادارانو امـر تـه ترجيح ورکوي

کله چې په ګران هيـواد کـې لـه دوه لسـيزو جګـړو وروسـته د يرغلګرو زور اوبه شـو او غلامـان يـې هـم ناچلـه وختـل نـو د خپـل شـيطاني مکـر، فريـب او غـدر پخواني عـادت تـه يـې مخـه کـړه د طالبانو سره يې د سولې مذاکرات شروع کړل

خو دا چې امريکايان له پيل څخه د سولې په خبرو کې ريښتوني نـه وو، نـو پـه مذاکراتو کې يې دهوکې شروع کړې. د مذاکراتو له پيل راپديخوا يـې لـسګونه ځلـه داسې اقدامات ترسره کړل چې روان مذاکرات کړکيچن کړي او پره يې پر طالبـانو ور واړوي، په دې کار سره ددوی موخه داوه چې يو لور ته له طالبـانو سره د افغـان ولـس ملاتړ او محبوبيت تـه زيـان ورسـوي ، او بـل لـور تـه د طالبـانو د مشرـانو او نظـامي مجاهدينو ترمنځ بې بـاوري او واټـن پيـدا کـړي .خـو للـه الحمـد پـه ټولـو حربـو او مکرونو کې ناکام او ناهلې شول

اوس چې مذاکرات اخري پړاو ته رسيدلې او صرف د دواړو لوريو دستخط پاتې ده امريکا يبا د خپل شيطاني عادت له مخې نه غواړي چې مذاکرات مختته لاړ شي

کله يوه او کله بله بهانه لټوي، تير ځل چې مذاکرات اخري پړاو ته ورسيدل او د امضاء پر مراسمو خبرې روانې وې د امريکا ولـسمشر په کابل کې په داسې حال کـې د يو امريکايي د وژلو له امله مذاکرات لغوه اعلان کړل چې د يرغلګرو له لـوري پـه ښارونو شپېنيو چاپو او د افغان ولس په وژنو کې هيڅ بدلون او کمښت نه وو راغلی.

خو ډونالډ ټرمپ د مذاکراتو د لغوه کيـدو ملامتيـا پـه طالبـانو ور واړولـه چـې ګواکې د مذاکراتو په دروان کې يې يو امريکايي وواژه، او دې ته يې فکر نـه کـاوو، چې د همدې مذاکراتو په دوران کې د دوی درون حملو او د خپلـو اجيـرو مزدورانـو عمليات تر بل هر وخت زيات کړي وو

له څه مودې تیرېدو وروسته امریکا بیا منافقانه هلې ځلې شروع کړې چې ګواکې مونږ اوس هم سوله غواړو خو طالبان تاوتریخوالی نه کموي او له طالبانو یې د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنې پیل کړې.

طالبانو هم له خپلو مشرانو سره تر مشورې وروسته د اشغال د خاتمې په موخه په لمړي ځل د امریکایانو دا غوښتنه ومنله او په لویو ښارونو کې یې د تاوتریخوالي د کمولو داړ امریکا ته ورکړو

خو امریکایانو بیا له خپلې کړې ژمنې شاتګ وکړو او نورې تازه غوښتنې یې د سولې د دستخط لپاره طالبانو ته وړاندې کړې

دا چې امریکا له پیل څخه مذاکراتو ته په منافقانه انداز داخله شوې وه نو یې د مذاکراتو په دوران کې خپلو روزل شویو اجیرانو او د سي ای اې اجرتي قاتلانو ته اجازه ورکړه چې خپلو چاپو بمباریو او د عامو خلکو وژنې زیاتې کړي تر څو طالبان مجبور شي عکس العمل وښايي او مذاکرات بیا د یو څه وخت لپاره معطل پاتې شي

رسنیو هم کټ مټ له امریکایانود شیطانت درس اخیستی وو، د امریکا او ګوډاګي اداري له لوري د کلیو او کورونو په بمبارولو او وحشي چاپو به خاموشه وو، خو

که به طالبانو کوم دفاعي اقدام تر سره کړو نو دوی به په ډیره بې شرمۍ سره د طالبانو دفاعي عکس العمل ته خبري پوښښ ورکاوو، چې ښه بیلګه یې په کندوز کې د طالبانو په مرکز د امریکایانو او د سي ای اې د مزدورانو له لوري په چاپه کې دوه امریکایانو وژل کېدل وو

کله چې په یاده چاپه کې دوه یرغلګر امریکایان ووژل شول نو د امریکاغږ راډیو په راپور کې ولیکل چې طالبانو بیا د مذاکراتو په دوران کې امریکایي عسکر ووژل او ښايي د سولې په خبرو بد اغیز وکړي

امریکا غږ تر دې وړاندې د امریکا په بمبارونو او چاپو کله هم داسې راپور نه وو جوړ کړی چې د امریکا او افغان کماندویانو له لوري د سلګونو افغان ملکیانو وژل به د سولې خبرې تکنۍ کړي، خو کله چې امریکایانو د طالبانو په مرکز چاپه ووهله او مرکز ته ور داخل شول، طالبانو په دفاعي برید کې دوه امریکایي عسکر ووژل نو د طالبانو دا اقدام د سولې لپاره خند او تاوتریخوالی وبلل شو، حال دا چې د امریکایانو تعرض تاوتریخوالی او تجاوز نه بلل کیده

اوس چې بیا د مذاکراتو لپاره افغاني الاصله امریکایي خلیلزاد یو ځوا بل ځوا سفرونه شروع کړي او غواړي د خپلې غداري او د سولې له امضاء کولو د شاتګ ملامتیا بیا پر طالبانو ور واړوي، په افغانستان کې یې د ړرون بریدونو، شپېنیو چاپو ،او د ملکي هیوادوالو له وژلو سربیره د خپلو روزل شویو سیکولرو مزدورانو په واسطه په باګرام کې بیا طالب بندیان شکنجه او د قران کریم سپکاوی یې وکړو

امریکا پوهیږي چې طالبانو تیر وخت کې هم څو ځله له خپلو بندیانو سره په ناوړه چلند او د اسلامي مقدساتو په سپکاوي توند نظامي غبرګونونه ښودلي، او دا ځل به هم په یاده پیښه خپل عکس العمل وښيي نو به د امریکایانو د غدر شرم د رسنیو پر مټ پټ او طالبان به په تاوتریخوالي تورن کړي خو افغان ولس اوس په دې پوه شوی‌ده چې یرغلګر امریکایان مکرجن او شیطاني عادت لري او افغان غلامان یې هم داسې سرکوزي افراد دي چې د امریکا په اشارې له ټولو افغاني، انساني او اسلامي‌ارزښتونو تیریږي او هره ناروا او بې ننګي کوي.

خبره ښکاره ده که امریکا د سولې دستخط وکړو هم به د امریکا خیر په کې وي او هم به یې د اجیرو روزل شویو تیښت سرو اجرتي قاتلانو خیر وي او هم به افغان کړیدلي ولس ته خیر وي، او که همداسې بار بار له مذاکراتو تېښتي او د افغان ولس وژنو ته دوام ورکړي نو اخر به د نظامي مجاهدینو حوصلې تنګې کړي تر څو پر خپلو مشرانو فشار راوړي چې مذاکرات بند او د نظامي ډګر د لا ګرمولو اجازه ترلاسه کړي په دې سره به نه یوازې د امریکایانو ژوند تریخ شي بلکه د مزدوراتو زندګي به یې هم له بدو بدتره شي او مرګ ژوبله به یې څو چنده زیاته شي.

د شهید ملا محمد داود (نسیم)

ژوند ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

شهید ملا محمد داود نسیم چې د اسلامي امارت په جهادي صفوفو کې په (حاجي نسیم) سره شهرت لري، د امریکا پر ضد د روان جهاد یو له مخکښو، زړورو او مخلصو قائدینو څخه و، چې بالاخره یې د جهاد په مقدسه لار کې خپل ځان فداء کړ. په دې کرښو کې له ابتدائي ژونده بیا د شهادت تر وخته د نوموړي د ژوند او مبارزې په اړه درسره معلومات شریکوو، هیله ده چې جهادي تنده مو پرې ماته شي.

پیژندنه

شهید ملا محمد داود د مرحوم حاجي موسی ګل زوی د مرحوم حاجي اختر محمد لمسی په قوم کاکړ موسی خیل په ۱۳۴۷ هجري شمسي کال کې د غزني ولایت د زنه خان ولسوالۍ د عالم خیلو په کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې دې فاني دنیا ته سترګې غړولې وې.

شهید ملا محمد داود له کوچنیوالي څخه دیني زده کړو ته مخه کړه. پخوا چې د افغانستان په اطرافي سیمو کې د منظمو زده کړو مراکز او تعلیمي اداري ډیرې نه وې، نو مسجد د ماشومانو لومړنی د درس ځای ګڼل کیده. ملا محمد داود هم د زده کړو بهیر د خپل کلي له مسجد څخه پیل کړ. وروسته یې د زنه خان ولسوالۍ د خواجه خیلو په کلي کې د ملا صاحب عجب ګل مدرسې ته لاړ او وروسته یې د زنه خان د پردل کلي په مدرسه او د زنه خان په بهلولیه مدرسه کې ابتدائي دیني کتابونه ولوستل.

ملا محمد داود د قرائت او تجوید علم د غزني د رامک له قاري عطاء ګل صاحب څخه ترلاسه کړ، وروسته د دیني علومو په حصول پسې نورو سیمو ته لاړ، د پکتیا په زرمت کې یې د ګورجي د کلي له مدرس عالم عبدالله جان اخندزاده صاحب نه درسونه وویل. بیا د علم په حصول پسې د میدان وردګو جغتو ولسوالۍ ته لاړ. په دې وخت کې چې د شوروي یرغلګرو پر خلاف جهاد هم جریان درلود. نوموړي دعلم سره سره جهاد هم پیل کړ. هغه وخت د پکتیا او غزني په سیمو کې شهید مولوي نصرالله منصور د جهاد له مخکښو قائدینو شمیرل کیده. شهید ملا محمد داود د شهید منصور صاحب تر قیادت لاندې جهاد پیل کړ،چې په دې لړ کې یې د پکتیا په ګردیز، زرمت او د غزني په زنه خان، دهیک او مرکز کې په جهادي عملیات کې ګډون کاوه. د شوروي اشغالګرو او کمونیستانو پر ضد د جهاد په وخت نوموړي په غزني ولایت کې د قومندان قاري عبدالله تر مشرۍ لاندې جهادي فعالیت کاوه، کله چې د افغانستان له ازادۍ وروسته په تاجکستان کې جهادي پاڅون وشو، شهیدملا محمد داود له څو تنو نورو مجاهدو ملګرو سره تاجکستان ته هم په یوه جهادي سفر تللی و.

د شوروي پر خلاف د جهاد له بریا وروسته نوموړي په ګردیز کې د مولوي عارف الله عارف صاحب په مدرسه (نور المداس الفاروقیه) کې درسونه پیل کړل. کله چې طالبانو د ظلم او فساد پر خلاف قیام وکړ، نوموړی په غزني ولایت کې له دې

تحریک سره ملګری شو، د غزني او میدان ښار په فتوحاتو کې یې بارز نقش درلود او د میدان ښار د کوه قورغ په جنګي کرښه کې یې مسؤلیت هم ترسره کړ.

د اسلامي امارت د واکمنۍ په کلونو کې نوموړي له دیني تعلم سره یو ځای جهادي نظامي وظائف او ملکي مسؤلیتونه هم ترسره کول. په دې موده کې د غزني ولایت د شهید ملا محمد ګل د محاذ مرستیال او د هرات ولایت په اسلام قلعه کې د کمیسار په حیث مسؤلیتونه ترسره کړل.

نوموړي د غزني ولایت په عمریه مدرسه، د مرحوم مولوي جلال الدین حقاني صاحب په منبع العلوم مدرسه، همدا راز د کندهار په جهادي مدرسه کې درسونه ووېل. وړه دوره یې له ستر عالم او د حقانیه مدرسې له اوسني شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس ترنګزي صاحب سره وکړه او د لویې دورې لپاره یې په ۱۳۸۰ هـ ش کال کې د کابل په جامعه فاروقیه کې داخله وکړه، تر څو له فاضل مظاهر علوم سهارنپور مولانا حمدالله جان داجوي صاحب څخه د احادیثو د علم ترلاسه کړي. مګر د جهادي ضرورتونو له امله یې د احادیثو دوره نیمګړې پاتې شوه او د علم سفر یې انجام ته ونه رساوه.

په لوړو یادو شویو علماء کرامو سربېره نور هغه علماء کرام چې شهید ملا محمد داود نسیم یې د شاګردۍ افتخار لري او علمي استفاده یې ترې کړې نومونه یې په دې ډول دي.شیخ الحدیث مولوي عبدالعلي دیوبندي صاحب، صدر المدرسین مولوي عنایت الله (د غبرګي اخندزاده صاحب)، مشهور عالم مولوي رازمحمد صاحب د پکتیکا، مولوي صاحب عبداللطیف د غزني د شلګر، مولوي عبدالمالک صاحب د غزني د دهیک، مولوي عبدالحمید صاحب او داسې نور . . . دغه راز یې د طریقت بیعت د وخت له ستر صوفي او بزرګ د نقشبندیه مجددیه طریقې لوی مرشد د وردګو د جغتو اوسېدونکي مرحوم خلیفه صاحب احمد ضیاء صاحب سره کړی و.

د امریکا پر خلاف جهادي مبارزه

د امریکا پر خلاف د جهاد لومړني کلونه له سختو ازموینتونو ډک وو. ابتلاء دومره درنه وه چې ډېرو خلکو روحیات وبایلل او د امریکایي استکبار پر ضد د ډېدل ورته محال ښکاریدل. خو الله تعالی د خپل قدرت عجائب وښودل، په هماغو سختو شرایطو کې یې د ځینو خلکو ایمانونه ډېر مضبوط کړل، هغوی ته یې د نړیوال دجالي طاغوت په وړاندې په تش لاس د دریدو عزم ورکړ او په دې ډول د جهاد توره له شرنګه ونه غورځېده.

د غزني ولایت په زنه خان ولسوالۍ او ورځیرمه سیمو کې د جهاد د پیل افتخار الله تعالی د دوو تنو(داود نامو) په برخه لیکلی و. شهید ملا محمد داود نسیم چې موږ یې سوانح لولو او شهید ملا محمد داود ثابت چې د جهاد په لومړیو کلونو کې یې د شهادت جام نوش کړ.

ملا محمد داود نسیم هغه وخت په سختو شرائطو کې جهادي کارونه پیل کړل. ملګري یې وایي نوموړي به د غزني تر لرې پرتو ولسوالیو پورې پیاده او یا پر بایسکل تګ راتګ کاوه. له مجاهدینو او علماء کرامو سره به یې د جهاد عملیاتو او تشکیلاتو په اړه مشورې کولې، تر دې چې د نوموړي او همداسې نورو مخکښو مجاهدینو په هڅو په غزني ولایت کې لومړني جهادي تحرکات پیل شول. د لومړنیو جهادي تشکیلاتو له مخې مولوي محمداسمعیل د غزني عمومي جهادي مسؤل او ملامحمد ناصر یې مرستیال وټاکل شو . وروسته غزني په دریو محاذونو ووېشل شو: دناوې، ګیلان، مقر، آب بند، دایه او قره باغ ولسوالیو دمحاذ مشر ملا عبدالحق وټاکل شو. د ګیرو، اندړو، دهیک او زنه خان ولسوالیو د محاذ مشر ملا محمد داود نسیم وټاکل شو او د غزني د مرکز، واغز، خوګیانو، خواجه عمري او رشیدانو ولسوالیو د محاذ مشر ملارحمت الله نجیب وټاکل شو.

ملا محمد داود نسیم په خپلو مربوطو ولسوالیو کې د جهادي محاذ مشرۍ په پوره اخلاص او متانت ترسره کړه. د ځایي مجاهدینو اوډلګۍ مشرانو په همکارۍ او د الله تعالی په نصرت په یادو ولسوالیو کې جهادي خوځښت ډېر ژر علني او اطرافي سیمو د دښمن له شتون څخه تصفیه شوې. شهید ملا محمد داود نسیم وروسته درې کاله د غزني ولایت دجهادي چارو مرستیال و. وروسته د اندړو ولسوالۍ د نظامي مسؤل په

حیث وټاکل شو. د غزني اندړو ولسوالۍ د جهادي تحرکانو او فتوحاتو له درکه د افغانستان د مرکزي سیمو یوه له مشهورو جهادي سیمو ګڼل کیږي. په اندړو ولسوالۍ کې له څه موده مسؤلیت وروسته د غزني ولایت د کمیسیون عضو او بیا دوهم ځل لپاره د غزني ولایت مرستیال مقرر شو. چې د مسؤلیت په دې ټولو مراحلوکې خپل جهادي وظائف په پوره ایمانداری، اخلاص، لوړ عزم او زړورتوب سره ترسره کړل.

نوموړی د جهادي مسؤلیتونو په لړ کې همیشه په تهاجمي عملیاتو کې برخه اخیسته او د تعرض په سر کې به و. نوموړی محنتي، زیارکښ او همتي مجاهد و، چې پیاده مزل، لوړه تیرول، په غرونو او دښتو کې شپه تیرول او د یخ او ګرمیو په شمول د جهاد د لارې مختلف النوع تکالیف تیرول پرې نه بوج کیدل او په لوړ همت یې له ستونزو سره مقابله کوله.

هغه مهال چې نوموړي د غزني ولایت د نظامي مرستیال په حیث دنده درلوده په لاندې فتوحاتو کې نوموړي د مشر او یا هم ګډونوال په حیث برخه درلوده.

د غزني ولایت د ناوې ولسوالۍ فتحه، د غزني ولایت د اندړو، زنه خان، واغز، خوګیانو، رشیدانو، دهیک او خواجه عمري ولسوالیو د مرکزو او پوستو فتوحات. د لوګر ولایت د خروار اسلام درې ولسوالۍ فتحه. د غزني ولایت په مرکزي ښار فاتحانه عملیات چې د ښار ډیرې سیمې د مجاهدینو تر تصرف لاندې راغلې.

په وروستیو کې نوموړی د اسلامي امارت د زعیم امیر المؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده صاحب(حفظه الله) په امر د زابل ولایت د مرستیال په حیث تعین شوی و. د الخندق عملیاتو په لړ کې په زابل ولایت کې مجاهدینو د نوموړي تر سرپرستۍ لاندې د پام وړ جهادي فعالیتونه ترسره کړل. چې له دې جملې د زابل د سیوري ولسوالۍ د پخواني مرکز فتحه، په ارغنداب ولسوالۍ کې د ګڼو پوستو فتحه، په مرکز کلات کې د لویې قرارګاه فتحه، په شینکۍ ولسوالۍ کې د مهمې پوستې فتحه او په دایچوپان ولسوالۍ کې د دښمن د پوستو فتوحات د یادونې وړ دي.

زخمي کیدل او بیا شهادت

ملا محمد داود نسیم په جهادي ژوند کې څو ځله زخمي شوی و. د اسلامي امارت په اوله دوره کې یو ځل د کابل په چهار اسیاب او بیا د میدان وردګو په جلګه ولسوالۍ کې ټپي شوی و، چې بیرته الله تعالی صحت ورنصیب کړ.

په زابل ولایت کې د جهادي مسؤلیت په لړ کې نوموړي په څو سیمو کې د هم مهاله بریدونو پلان ترتیب کړی و. چې له مخې یې په یوه شپه په مرکز کلات او ارغنداب ولسوالیو کې د دښمن په پوستو او په دایچوپان ولسوالۍ کې د دښمن په ستر بیس او پوستو باندې بریدونه ترسره شول. په دایچوپان ولسوالۍ کې د دښمن مرکز په خورا ستراتیژیک ځای پروت و او محکم جوړ شوی و، چې تر دې وړاندې هم وربانـدې مجاهدینو بیا بیا بریدونه ترسره کړي وو. ملا محمد داود نسیم د دښمن د دې قرارګاه د له منځه وړلو لپاره خپل دایچوپان ته لاړ او د عملیاتو مشري یې په غاړه واخیسته. برید د شپې ناوخته دوه بجې پیل شو. نوموړی له برید کوونکو مجاهدینو سره د تعرض برحوال و چې سهار پنځه بجې شاوخوا د دښمن په مرمۍ ولګېد. مرمۍ یې په نس کې لګیدلې وه خو تر ملا وتلې نه وه، زخم یې که څه هم ژور و، خو نوموړی په پیل کې بیدار او تکړه و. نوموړی د علاج په خاطر له سیمې انتقال شو. تر دې چې مازدیګر مهال یې ناځاپې حالت خراب شو او د زابل ولایت د سیوري ولسوالۍ د سرخکانو په سیمه کې یې د ژور زخم له امله خپل روح ملک الارواح ته وسپاره او د شهادت جام یې نوش کړ. انا لله و انا الیه راجعون.

د نوموړي جسد د غزني په زنه خان ولسوالۍ کې خپل کلي ته انتقال شو او له سترې جنازې وروسته یې په جسد په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

روح دې ښاد او یاد دې تل وي.

د فکري جګړې!

اصول، اهمیت او ضرورت!

م:شمس...منصور

دحق اوباطل دښمني،سیالي، او کشمکش هغومره پخوانی دی څومره چې دانسان تاریخ دی، چې ترننه د کوم ځنډ یاوقفې پرته متواتر دوام لري

هوادبشري تاریخ د پیل نه دواړه (حق اوباطل) دوامداردیوبل پر مقابل اومخالفت کې قرار لري اوهریو دخپلې غلبې لپاره له وسلو او څواکونو استعمالولوڅخه کاراخلي

نورخلک دوسلواوځواکونو استعمال په پوځي جنګ تعبیروي او مسلمانان یې په«فی سبیل الله جهاد».

دوسلو اوځواکونو په استعمال سربیره د حق او دباطل ترمنځ دسیالۍیاټکر بل قوي محاذ «فکري،عقیدوي او نظریاتي » دی،یعنې یوه هغه جګړه چې پکې دوسلو،مهماتو،ټانګونو،شوبلو،توغندیو،الوتکو،سمندري اوبتلونو او جنګي آلاتو داستعمال پرځای دمغزواستعمال اړین دی؛دمغزوجګړه کې دیوولس او یو هیواد دوګړو داجتماعي یا انفرادي ذهنیت، فکر،تمدن او اخلاقودفتح کولویعنې دتغیرولوکوښښ کېږي ،یاپه بل سپیناوي دمغزو جګړه کې دبریدهدف دجسم یاتنې پرځای دمخالف عقیده،نظریه او فکرګرځول کېږي،اوتجربو ښودلې چې دنتایجو له پلوه نظریاتي،فکري او عقیدوي جګړه د پوځي اووسلې له جګړې زیاته مرګونې، خطرناکه اومؤثره ده، ولې جسماني ټپونه ژر یا په ځنډ سره جوړیدای شي خو پر عقیده یا فکرلګیدلی ټپ ژر اوپه اسانه روغیږي نه.

فکري جګړه پخپل نرم «ګفتاراو رفتار» تل پاتې تاثیرات ترسیموي، او دپوځي جنګونو سوبو،بریاوو او لاسته راوړونوته معنوي ثبات،سیاسي استحکام او دوام ور ببښي

دفکري جګړې پیل:

له آرا فکري جګړه کفارو داسلام دلمنځه وړلو په غرض ایجادکړې ،خو پیل یې هغه مهال وشو کله چې شیطان «ادم علیه السلام» ته په زړه کې وسوسه ورواچوله؛ ترن کفار هم هغه وسوسې اواندیښنې اچول د مؤثرې وسلې په حیث کاروي چې په مټ یې هغوی پر مسلمانانوبرلاسي شوي دي

خو په تاریخي اعتبار داسلام پرخلاف دکافرانو لخوافکري جګړې ته هغه مهال نوې اوعملي بڼه ورکړل شوه،کله چې دمشهورعباسي «خلیفه مامون رشید زمانه کې «یوناني عقلي اوفلسفي علوم»د اروپاته اسلامي نړۍ ته راغلل،اوپراساس یې د عقلي بحثونواومناظرو دروازه پرانیستل شوه ،چون هغه دوردمسلمانانو دعروج دور و او کافرانو لپاره دزغملوور نه و،اوبل په پوځي ډګرکې پرلپسې شکستونو خوړلو اړکړل چې مسلمانانوڅخه دغچ اخیستو اودهغوی د مغلوبولو لپاره

جنګي تکتیک ته تغیر ورکړي،او هغه علوم چې ترډغه دمه دکلیسا لخوا بیرون ته دهغو په انتقال کلک بندیز و، اسلامي نړۍ ته یې دورکولو پریکړه وکړه، څو د هغو(عقلي علومو) له لارې دمسلمانانوپه ذهنونو اوزړونوکې دخپل دین په احکاموکې د شکوکو اوشبهاتوپه اچولو سره داسلام ریښې وباسي

دفکرې جګړې څلور محاذونه:

د شک پرته اسلام اومسلمانانو سره دکفارو بغض دائیمي دی، چې په هره زمانه کې هغوی د سازشونو په جوړولوسره داسلام او مسلمانانود« نوم» محوه کولو لپاره په لاندې څلورو فکري محاذونوکې دمغزو جګړه جاري ساتلې:

لومړی محاذ: استشراق،دکافرانو یوه خاص ډله چې «مستشرقین»بلل کېږي ،هغوی مشرقي علوم، عنعنات،ژوند اوپه خاص توګه اسلامي علوم ددې لپاره مطالعه کوي څو هغوی پکې خامی او نیمګړتیاوې ومومي اوبیا دهغو په ښودو دا هڅه کوي چې په دیني احکامو کې مسلمانانوترمنځ شکوک اوشبهات وشیندي اوهم داسلام په لوردنورو قومونو دمیلان اورغبت په وړاندې یې د خنډونوپه توګه واچوي،په دې وجه هغوی زیارکاږي چې نړۍ ته داسلام یوتت اومسخ شوی انځور وړاندې کړي څو په لیدوېي دنورو ادیانو پیروان له اسلامه متنفرکړي،نن د هغوی (مستشرقینو) دپراخو علمي جعل کاریو، فریبونواودمغرضانه لاسوهنوله امله نړیوال داسلام دحقیقي انځور لیدوڅخه محروم دي.

بل هغوی دمشرقي علومودمطالعې له لارې کوم نیمګړې او ناقص ډول معلومات ترلاسه کړي،بیا د هغو په رڼاکې خپل سیاسي اوپوځي پلانونه په داسې بڼه جوړوي چې په مټ یې نړۍ کې مغربیت تقویه اومستحکم ګرځي

دوهم محاذ:استعماریت دی،دکفارومقتدرخلک تل زیارکاږي چې په نوره نړۍ اوخلکو دوی غلبه ولري،نړیوال د دوی تر واک اوبیرغ لاندې دې وي،څو دهغوی ټول طبیعي وسائل قبضه کړي. د ماضي څو پیړۍ په دې وجه دبنکېلاکګرو هیوادونو دعروج پیړۍ شمارلی شي، چې هغوی په دغو پیړیوکې د نړۍ دمختلفو وچو دهیوادو په وسائلودخیټو اچولو فرصت ترلاسه کړ لکه ۱۵مه پیړۍ کې انګریزان په لومړي ځل دسوداګرودیوې قافلې په شکل کې هندوستان ته راغلل،اودا دمشهورمغل پاچا«جلال الدین اکبرپاچا» زمانه وه،اکبرپاچا دخپلې کم عملۍ،او ازادخیالۍ په وجه دهغوی تود هرکلی وکړ،اوترې دومره متاثر شو،چې ور ته یې دنصرانیت لپاره دتبلیغ اجازه ورکړه

انګریزانودایسټ انډیاکمپنۍ یا شرکت لخوا په هندوستان کې مالي پانګونه وکړه،چې په لنډ وخت کې یې ترقي وکړه، اوخپل تجارت ته یې دومره وده ورکړه چې په زیاترو لویو ښارونوکې یې خپلې سوداګریزې خونې اودفترونه پرانیستل،اوبیا دخپلو شرکتونو او دفترونو دامنیت ساتلو لپاره یې دمغل امپراطورۍ دیوداسې تړون لاسلیکولوته اړ کړه دکوم له مخې چې «ایسټ انډیا کمپنۍ» د امنیت ساتلو لپاره دخپل جلا پوځ جوړولو اجازت ترلاسه کړ،اوکرار، کرار یې دهغه پوځ په شمیرکې زیاتوالی کاوهاو دپوځي روزنې لپاره یې دبرتانیې څخه یې زرکونه تجربه کار پوځیان راوستل او دلته یې په پوځي دندو وګومارل بالاخر هغه مسافراو سوداګرانګریزان دپوځي اواقتصادي پلوه دومره مجهز اوپیاوړي شول چې دهندوستان مغل واکمن به هم د دوی په اشاره کیناستل اوپورته کیدل،یعنې د هندوستان سیاسي واک د دوی دارادو تابع شو، ددې فرصت نه په ګټه یې دمسلمانانو مغزونه ووینځل، دسیاسي اقتدار اوخلافت مفکورې په ویستوکې یې حیرانوونکی برې ترلاسه کړ،او بیا دهمدې په پایله کې یې په ۱۸۵۷ زکې شاملي میدان کې مسلمانانوته په لوی شکست ورکولوېې هندوستان کې دتل لپاره مغل سلطنت رنګ کړ،او

وروستی مغل پاچا(بهادرشاه ظفر)چې دغه مهال ۸۲کلن و،اوپه توم پاچاو،ددهلي ښار دننه ټول واک انگریزانو سره و،دشاملي

میدان دبري وروسته انگریز جنرال(هډسن) دهغه خلور واړه زامن«مرزاغلام،مرزا خضرسلطان،مرزا عبد الله، مرزا ابوبکر) ونیول اوسرونه ترې قلم کړل اوبیا یې په مجموکي کیښودل بهادرشاه ظفرته یې دیوې ډالۍ په توگه وړاندې کړل اوټول هندوستان یې «برتانوي هند» اعلان کړ...

ددې برې وروسته په ۱۸۳۸- ۱۸۳۹ زکې په افغانستان یرغل وکړ اوپلازمینه (کابل» یې اشغال کړه، په ۱۸۴۲ زکې دافغانانو لخوادکلک مقاومت په نتیجه کې ما ت اوتښتیدل،په ۱۸۷۸- ۱۸۸۰ زکې دوهم ځل بیایې زموږد هیوادپه حریم د یرغل جسارت وکړ دکوم چې ترټولو بدمرغه میراث موږته د «گندمک شرمونکی تړون» پاته دی دکوم له امله چې ترننه زموږ ولس لگیادی دوسپنونیني چیچي.

انگریزانوورته یرغلونه په نورو اسلامي هیوادونو هم وکړل، لکه په ۱۸۵۱ زکې دنائجیریااشغال ، ۱۸۸۸ زکې مصرنیول، ۱۸۹۴ زکې سودان ، ۱۹۱۴ زکې عراق او جزیرة العرب ته انگریزي پوځونه ننویستل او په ۱۹۲۳ زکې زکې رسماً دعثماني خلافت پای اعلانول...

داسلامي جغرافیې په بل استقامت شوروي ښکېلاک هم په دغه زمانه کې د منځنۍ اسیا ټول اسلامي هیوادونه (ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، کرغیزستان،اوقازقستان) د۱۹۲۰ زک څخه تر۱۹۹۱ زیورې اشغال کړي وو، اوپکې یې دکمیونزم الحادي او غیرفطري نظام نافذکړی و.

په دریم استقامت شمالي افریقا،الجزایر،تیونس او مراکش، فرانسوي ښکېلاک لخوا اشغال شوي وو ،په صومالیا،لیبیا او اریتریا باندې اټالیا منگلې خښې کړې وې ، لنډه داچې په ۲۰مه پیړۍ کې یادو درې ښکېلاکگرو هیوادو نیږدې ټوله اسلامي جغرافیه یانې اشغال کړې وه

هو! دا هرڅه آتاً فآتاًپیښ نشول، بلکې ددې ترشا دپیړیو، پیړیو، زیار،خوارۍ اوپلانونه پراته وو،چې مرحله په مرحله ترسره کیدل، اوپه حقیقت کې همدا پلانونه یاکوښښونه دفکري جگړې نوم دی؛ کومه چې ۱۵مه پیړۍ کې هغه مهال پیل شوه کله چې دنویو سوداگریزولارو په مندلو پسې کولمبس له هسپانیې څخه ووت

دریم محاذ : عالمگیریت(نړیوال نظام) دی داپه اصل کې استشراقي او استعماري اهدافو ته درسیدو لنډه او اسانه لارده

یا دا چې نړیوال نظام (علمگیریت) داستشراق او استعمار یوبدل شکل دی اوسهي تعریف یې دادی چې علمگیریت هغه تحریک دی چې هدف یې اقتصادي،کلتوري، دیني، ملي او وطني امتیازات له منځه وړل دي، اوټوله نړۍ دیهودو او امریکاد شریکو گټو سره سم دیانگوال نظام په چوکاټ یا قالب کې ځایول دي (العولمة، صالح الرقب ٦مخ)

علمگیریت یا نړیوال نظام په حقیقت کې دیهودو دیو پخواني (نړیوال) خوب تعبیر دی، چې په اړه یې هغوی دپیړیو،پیړیو راهیسې په مختلفو پلانونو جوړولو بوخت پاته دي مرکزیاپلازمینه به یې یروشلم (بیت المقدس) او پاچا به یې دجال وي

خلورم محاذ:التنصیردی:یعني، مسلمانان مرتد کول،د اسلام نه یې بیرون کول او نصرانیان گرځول ،داکار دوی دجبراو تبلیغ دواړو له لارې کوي په جبر سره دنصرانې کولو لړۍ هم له ۱۵مې پیړۍ نه په اندلس کې داسلامي خلافت ړنگولو سره یوځای پیل شوه،اوبیا په اړه یې وروسته مسؤلیتونه ځو عیسوي ډلو ته وسپارل شول، داکبرپاچاپه دوره کې نصرانیت ته ددعوت اجازت یې یوبل مثال دی

غرض داچې د« باطل او حق» ترمنځ جنگ یواځې تر پوځي ډگروتومحدود ندی، بلکې له پخوانه باطل دحق مغلوبولو لپاره ډول ډول

حربي کاروي،دخپلو فریبونو په چال کې دمسلمانانو دتبلولوکوښښونه کړي، په پوځي او فکري دواړو میدانونوکې ورسره په جنګ لګیادی، تردې چې دپوځي جګړې څخه زیاته توجه فکري جګړې ته لري،ولې غلیم درک کړې چې له دې لارې په اسانه برې مندلی شي ،دازادو قومونو جغرافیه او طبعي وسایل په اسانه قبضه کولی شي یا پربل سپیناوي دازادوولسونو دښکېلولو لپاره فکري جګړه په دې زیات اهمیت لري،چې پوځي یرغلونه اکثریت دمقاومتونو او مزاحمتونو سره مخ کېږي اوپه وړاندې یې پاڅونوال پورته کېږي جنګیږي، بیا په نتیجه کې یرغلګر قوت دشکست سره مخ کېږي اوهرچې فکري یرغل دی،دښمن ځان دخیرغوښتونکي،دوست،مهربان اوغمخوارپه شکل جوړولو سره خپل فکراو ایدیاتراړوندو هیوادو اوخلکو رسوي،او کرار، کرارهغوی ترخپل تاثیر اونفوذ لاندې راولي

د تاریخي قدامت له پلوه فکري جنګ د پوځي جنګ نه وړاندې پیل شوی دی،کله چې شیطان ادم علیه السلام ته په دې دلیل [چې زه د اورڅخه پیدایم او ته له خاورې] دسجدې کولوڅخه انکار وکړ، او هم یې د ادم علیه السلام سره دقوي مخاصمت کولوسوګند وخوړ، لیکن بل پلو ته هم هغه (شیطان) ادم علیه السلام ته دخیر خواه، دوست ،مهربان اوغمخوار په شکل سوګند وخوړ که ته! له دې ممنوعه «ونې» خوراک وکړې ټول عمر به دجنت مزې اوته یې! نتیجه کې یې ادم علیه السلام له جنته وویستل شو ، وروسته دنورو «پیغمبرانو علیهم السلام» خلاف هم شیطان دهغوی قومونه پورته کول او معاذالله د«لیونیو، جادوګرو، دروغژنو» تورونه یې پرې لګول او خلک به یې ترې متنفرکول، تردې چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دقراني دعوت څخه دخلکو پام په بله اړولو لپاره دقریشویو یوتن سردار(مالک بن نضر) به دوامداریو داسې محفل جوړاوه، چې پکې به یې خلکوته شعرونه، افسانې، کیسې، او دپخوانیوپاچایانونکلونه کول څو دخلکوپام دحقانیت نه په بله خوا وګرځوي.

دلویدیځ لخوا دفکري یرغل موخې:

نن بعینه! په هغه شکل د خلکوتیرایستو لپاره،اسلام نه دمسلمانانو منحرف کولو لپاره پخوانۍ حربې کارول دوام لري ، دکفري نړۍ دذهني اوفکري غلامانو یوډیرلوی لښکر د استادانو، فروفیسرانو، فلسفیانو، ډاکترانو،څېړونکو،قلموالو،لیکوالو،ژورنالستانو، اوشاعرانوپه شکل کې شتون لري چې دځو ډالرو په عوض کې دمختلفو هنرونو اوتدبیرونو په کارولو دمسلمانانو ترمنځ داسلامي لارښوونویه اړه شکوک وشبهات شیندي،ټوله نړیواله میډیا که هغه تلویزونونه دي، برښنایي پاڼې، سایټونه، راډیوګانې، اویا چاپي ورځپاڼې، اوونیزې او مجلې دي،په ټولو کې داسلام او مسلمانانو خلاف له زهرو ډکې لیکنې ،مضامین، مقالې، تبصرې، راپورتاژونه،ددرواغو افسانې،کیسې،اوبربنډ انځورونه خپرېږي، چې هدف یې مسلمانانو ته اذیتونه رسول دي، نړی دمسلمانانو ناسم انځور وړاندې کول اوخلک داسلام نه بیزارۍ ته وربلل دي ،دجدیدیت،ترقی، پرمختګ، اومدنیت د غوړو اوچربو عنوانونوپه پلمه دمسلمانانو داسلامیت ځپلوکوښښ دی

لنډه داچې دلویدیځ دفکري یرغل موخې په لومړي ګام کې دمسلمانانو له زړونوڅخه دجهاد روحیه ویستل دي، اوبیا په اسلامي طرزباندېد ژوند تیرولو په اړه شکوک اوشبهات شیندل دي،دحقیقي اسلام مخنیوی او په اسلامي هیوادونوکې واکونه خپلو لاسپوڅو ته سپارل ، دمسلمانانو ترمنځ دایثار، همدردۍ او یوبل سره په غم و دردکې دهمکارۍ روحیه وژل او پخپلو منځوکې دهغوی جنګول دي

دلویدیځ اوسنی ثقافت دپخواني جاهلیت تسلسل دی:

اوس مهال دلویدیځ او اسلام ترمنځ روان فکري کشمکش دژوندانه په فلسفه،کلتور اوثقافت په برخوکې په شدت سره روان دی، لویدیځوال

مفکران دعوه لري چې لویدیځ دکوم ثقافت یاکلتور علمبرداردی،هغه نوی،مترقي اوپرمختللی دی، په دې وجه نړی ته دهغه قبلول پکاردي،خو زمو ږ اسلامي مفکران اوعلما دلویدیځ پورته دعوه نا سمه بولي ولې ددوی په ثقافت یا کلتور کې هیڅ یوه داسې نوې خبره نشته چې هغه دې رښتیا نوې وګڼل شي؛ بلکې ټول یکې هغه څه شتون لري چې د پخوانی جاهلیت په دور کې یې شتون لاره او اسلام د جاهلي میراثونو په یادولو بشریت ته ترې نجات ورښه

دلویدیځ نوي ارزښتونه عبارت دي له[۱:سود،۲:زنا،۳:موسیقي ـ ګډا،۴: کهانت،۵:لواطت،۶:قمار،۷:شراب څښلو۸:بت پرستی،۹: بې پرده ګی-لوڅتوب،۱۰:او دقومي ولساني عصبیت نه] داټول داوسني غربي تمدن ښکاره علامات دي،خو یو هم ددې مستحق ندی چې څوک دي هغه په «نوي» تعبیر کړي، بلکې داټول دپخواني جاهلي دور میراثونه دي، چې اسلام پخپل راتګ سره دپښو لاندې پایمال کړي،او داسلام په مقابل کې به دجاهلي دور پخوانیو علمبردارانو کول،نن غربي تمدن یا ثقافت د پخواني جاهلي دور تسلسل دی ورته نوی تهذیب یاثافت ویل انصاف ندی

حاصل داچې نن مسلمانان دکوم تونـد اوپـراخ فکري یرغـل دتوپـاني څپوپه وړاندې قرار لري، پوی شي! چې دا دهم هغه پخواني جاهلي دور تسلسل دی، دیته ارتیاده چې ورسره دوغړي وهلو لپاره دمسلمانانو ځوانان،سیاسیون، مجاهدین اوپوهان ځیرک اوبیدار اووسي.

دځوانانو دفکري استعدادونولوړولو لپاره په کتابي بڼه د علمي مباحثواومکالموچاپولو ترڅنګ په مباشرډول روزنیز سیمنارونه اوغونډې دودول دوخت مهمه اړتیاده، هغه غورځنګونه اویا جهتونه چې داسلام او مسلمانانو دپخواني عروج یابرم دبیرته راګرځولوسره علاقمندي لري هغوی باید ځوان استعدادونه اوفکرونه داسلام اوشریعت په معاصره روحیه وروزي، دمسلمانانو ځوان نسل لپاره د سالم فکري منهج ترڅنګ د مطالعاتي ارتقالپاره مناسب چاپېریال برابرکړي، دوختي تزاکتونو اوحساسیتونوپام کې نیولو سره داسلامي ژورنالزم اوصحافت میدان کې د معیاري ورځپاڼو،معنوي محتوا لرونکومجلو اوکتابونو،معلوماتي مضامینو ، اوعلمي مقالوخپرولوته پام ډیرشي څو دځوان اوخام نسل د ذهني اوفکري تشوونما سره مرسته وکړي

دفکري جګړې په اړه داتېک سیمي اردوژبي څېړونکي عالم مولانا محمد اسماعیل ریحان پخپل کتاب «نظریاتي جنګ کې اصول» کې کاږي:

تړی کې دجګړې دوه لارې یاطریقې مروج دي،یوه په وسلو،مهماتو،پوځونواودوینو توپولو جګره ده،او دوهمه دوینو توپولو پرته [یعنې د خولو بهولو] په عقایدو، او نظریاتو دبرید جګړه ده،کومې ته چې [دمغزونو] جګړه(الغزو الفکري) ویل کیږي

دفکري جګړې تعریف:

هو الغزوبالوسائل غیر العسکریة

په غیرپوځي وسائلو جګړه کول ...

دوهم تعریف:

هو اسلوب جدید للغزو ضدّ المسلمین بعدهزائم متکرره

دېرلپسې شکستونو وروسته دمسلمانانو پرضد دجنګ نوی اسلوب ..

دریم تعریف:

الغزو الفکري هو الوسائل غیر العسکریة التي اتخذها الغزو الصلیبي لإزالة مظاهر الحیاة الإسلامیة وصرف المسلمین عن التمسك بالإسلام مما یتعلق بعقیدتهم وما یتصل بها من أفکار ومعتقدات.

فکري جګره هغه ده چې دپوځي وسائلوپرته داسلامي ژوندانه اقدارو دمحوه کولو،داسلام اواعقایدونه دمسلمانانوېې لارې کولو په هدف صلیبیانوایجادکړي

نوربیا...

په ایماني ټرون تړلي نه سره بیلیږي

لیکوال: عاکف مهاجر

له تیرو دوه لسیزو راهیسې افغانستان د امریکا په مشرۍ د ټولې غربي نړۍ له لوري اشغال شوی او هڅه یې کړې چې دلته د اشغال لمنه وغځوي او ټل دغه هیواد خپله یوه مستعمره وګرځوي.

خو په ایماني ځواک سمبال ولس خپل بچي د دې لپاره وقف کړل چې هیواد ازاد او کفار د خپلو نیکونو په څیر له خپل تاتوبي تیت سترګي او شرمیدلي پسې واخلي چې همداسې و هم شول او زر ده چې هیواد مو ازاد او د بهرنیو اشغالګرو له منګولو خلاص شي.

غربیانو د نورو ټولو پلانونو سربیره یو مهم پلان په کار واچولو او د دې لپاره یې ملیونونو ډالر مصرف کړل رسنۍ یې په کار واچولې چې ازادي غوښتونکي د اسلام په ګانه سمبال ځوانان د نورو هیوادونو تر لاس لاندې او د دوی تر څنګ ولاړ د دوی له لوري اخیستل شوي د خپلو خلکو وژونکي څو تنه ازاد معرفي کړي چې دا دې دوه لسیزې تیرې شوې خو بیا هم دغه پلان کې پاته راغلل.

راځو هغه څه ته چې کوم شی دی هغه چې امریکا او نورې نړۍ له دومره ډالرو سره بیا هم دغه خلک پردي معرفي نشو کړلی، د ولس او ازادي غوښتونکو زلمیو ترمنځ د واټن زیاتیدو پر ځای دغه اړیکه نوره هم ورځ تر بلې په ټینګیدو ده.

هغه څه چې دغه اړیکه یې کمزوره نشوه کړلی هغه ایماني ټرون ده!

په ایماني ټرون تړلي کله هم نشي بېلیدلی او نه سره بېلیږي.

هغه محمد ابن قاسم چې په هند کې د یوې پیغلې مرستې ته له زرګونه کیلومیټره لرې راتلی شو او هغه صلاح الدین چې د اقصا د خلاصون لپاره یې زرګونه میله مسافه طې کوله او له لښکرو سره یې د اقصا د خلاصون لپاره ځان رسولو هغه یواځې د ایماني ټرون لامل وو.

څو ورځې وړاندې د امریکا ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند جوبایډن و ویل چې افغانان یو ملت نشي جوړیدلی.

هوکې جوبایډن ربښتیا وایي خو نوموړی هغه افغانان یادوي څوک چې دوی په ډالرو پیرلي هغوی چې د ډالرو په مقابل کې له دین تیریدلی شي نو د قدرت په بدله کې له یو والي هم تیر دي، خو هغه افغانان چې د ایمان او اسلام په رسۍ سره تړلي دي هغوی بیا کله هم نه بیلیدلی شي او نه به سره بیل شي.

اسلامي ټرون هغه څه ده چې غلام بلال یې د عربو سردار معرفي کړ او ټولو به سیدنا بلال په نوم یادولو.

همداراز د وخت عمر خپل ټول شته او واک د یو مسلمان لپاره زار کړل خو کفري نړۍ ته تسلیم نه شو.

امریکا زموږ یو والي ماته کړه او دا ملت کله هم بیلیدای نه شي او نه سره بیلیږي.

ګلورینې پاڼې

هیواده!

شاعر: سکون

شان اونشان به دې کړي پورته پرجهان هیواده
دننګ شمله به درته وتړي نشان هیواده

دازادۍ په سپېنه مینه به دې وناز وي
دفخرځلی به دې هسك کړي تراسمان هیواده

غله غداران تښتي په منډه دي سروته باسي
فاتح واکمن درځي سرتېري طالبان هیواده

غلیم دې غرونو کې حصار دتېښتې لارې نشته
ورته راتاو دي سرښیندونکي فدایان هیواده

هرې یوې سترې قربانۍ له تیار دي درته
لوګی لوګی به درته تاؤ راتاؤ کړي ځان هیواده

دا د ایتمونو خاوندان به مات نړدې اوګورې!
چې سرنګون شي پل په پل دې دښمنان هیواده

دانن چې کور په کور ژړا او جنازې روانې
یتیم بچیان به دې الله ج کاندې خندان هیواده

غربي قانون ډیموکراسي منل کیدلی نشی
درکې نافذ به شي سپیڅلی سپین قرآن هیواده

دشهیدانوپاکې وینې به زرغون کړې کلان
ګل او ګلزار به شي او تښتي به خزان هیواده

دازادۍ لیلا دمینې مجنونان دې ژوندي
دشتې او غرونه ښکلوي دې در روان هیواده

چې دې اعلان دخپلوا کۍ پاس له ممبره وشې
بیا به زخمي زړوته سکون شې اطمینان هیواده

د ازادۍ وربښمینې زلفې

الیاس فاتح

د سرو وینو غوټۍ وموسکېدې ګل شوې
د خوښۍ ساندې په خوله د هر بلبل شوې

له وړمو شوې د ژوندون جزیرې ډکې
چې د سولې بهاري شیبې یې مل شوې

د نرګسو او سنبلو راج او باج دی
مرۍ پرې د بدرنګیو په اجل شوې

د وطن د ازادۍ وربښمینې زلفې
د طالب زخمي تتندې باندې ول ول شوې

د لالا په څېرې یې زړونه سترګو داغ کړل
ځوانۍ سرې لکه غاټول یې په اوربل شوې

دا د مشکو قافلو لنګر راوړی
او که وینې نذرانې بیا پر کابل شوې

په مزار دې شمعه او ښکو سره لاړه
د ګوګل لېمې دې پاتې لمدې تل شوې

د فاتح د تخیل شعمي خندا کړه
چې زینت د عاشقانو د محفل شوې

#پیر محمد کاروان

چې په رڼو موسکا ویشي، بس جانان دی پرې مین یم
که نرگس دی که گلاب دی، که انسان دی پرې مین یم

چې غوټۍ غوټۍ مې گل کړي، چې ورمې د مینې راوړي
تور و سپین دی غنمرنگ دی، که الوان دی پرې مین یم

چې پر څانگو یې نغمې دي، د ژوندون د مارغه ناستې
که سنځله که څېړۍ که، ارغوان دی پرې مین یم

زړه چې ډک لري له مینې، دی ددې نړۍ خاورینې
وینې سرې اوښکې یې سپینې، راته گران دی پرې مین یم

یو غروب د مازدیگر دی، د کاروان له زړه خبر دی
بل د سپینو سپینو ستورو، ډک آسمان دی پرې مین یم

د استاد فضل ولي ناکارنوی شعر

نڅا کــــه څــــو د بړبوکــــو ســــاده ده
بیــــدیــــا ده ژبــــه د اغــــزو ســــاده ده

وخــــت غــــواړي لوســــت لکــــه کتــــاب غــــواړي
پانــــه د مــــغ د سیپــــارو ســــاده ده

د انــــنگــــو کــــلان دې ونــــه رژي
شــــدل در کــــورمه پښتــــو ســــاده ده

پنجــــابو یــــې هســــې دي پیښــــې رااخیســــتي
پښتنــــه څــــه د جینکــــو ســــاده ده

پــــه ســــین راتیــــت شــــه پــــه غــــره ســــیوری وکــــه
د بــــودی تــــالــــه! ســــتا ورشــــو ســــاده ده

شــــفقــــه! تــــک وهــــه هــــلال پــــه تیتــــر
چــــې نــــنــــداره د لــــوپتــــو ســــاده ده

نــــاکــــاره! فــــن یــــې رنــــگ د سیمــــې لــــري
مســــلمانــــې هــــم د هغــــو ســــاده ده

#عرفان الله عرفاني

اوس مې هم یو لاس کې توره بل کې ډال دی
دا مــې فــن دا مــې هــنر دا مــې کــمال دی

لــه فطرتــه مــې نفــرت لــه غــلا مــی دی
مــا پــه سرو وینــو گــټلی اســتقلا ل دی

پرمــا پــاتې خــواب څکــه دچــا نشــته
مــا حــل کــړی دهــر چــا پیچلــی ســوال دی

لا مــې غــشي دظلــیم پــه تــت خښ دي
مــا مــات کــړی د هرعــصر هــر دجــال دی

ډیــر سرمســته مــې لــه زوره عورخــولي
ورشــه ویــې کــړه پوښــته څــه یــې حــال دی

لــه جهــاد اولــه جنگونوســتړي نــه یــو
لــه پخوانــه مــو کلــك عــزم لــوړ مــورال دی

پــر اُفقــو پورتــه شــوې بیــا ســپیدې دي
د تــورتم زړه کــې بــل کــړی مــو مشــال دی

(عرفــاني) چــا چــې زمــونږه ســیالي کــړې
اوس پــه حــال د تنــزل او د زوال دی

دفلسطین لپاره دټرمپ نوې طرح
او داسلامي نړۍ کمزورۍ دریځ

حسن مومند

د روان ۲۰۲۰م کال دجنورۍ په ۲۸ مې نېټې په سپینې مانۍ کې دامریکا د اسلام دښمنه یهود پلوي ولسمشر ټرمپ له لورې دفلسطین لپاره د ډیل آف سنچري (دپېړۍ معامله) ترعنوان لاندې دسوله یېز حل په نامه هغه طرحه اعلان شوه دکومې لپاره چې هغه او دهغه یهودي زوم کروشنر درې کاله مسلسلې هڅې کړیدي .

جیرډکوشنر ویلي دي چې ددې پلان جوړولو لپاره مې ۲۵ کتابونه لوستي دي او دهغې په رڼا کې مې دا دومره لوی پلان جوړ کړیدی.

داسلامي نړۍ او په ځانګړي ډول دمنځني ختیځ روانو بدو حالاتو ته په کتو دا اعلان پر ټولې اسلامي نړۍ ډېرستر ګوزار دی .

دټرمپ یهودي زوم او ددې طرحې اصل طراح جیرډکوشنر داد منځنی ختیځ لپاره دامن ، پرمختګ او خوشالۍ او دفلسطینیانو لپاره دښو چانسونو دترلاسه کولو یو غوره پلان ګڼلی .

خو فلسطیني ولس دا طرحه یوه دسیسه او احمقانه وړاندیز بللی.

دفلسطین پراخ بنسټه ولسمشرمحمود عباس هم دا پلان دفلسطینیانو لپاره د دخپېړو طرح وګڼله او زر کرته یې رد کړه.

پدې اړه دعرب لیګ له لورې په قاهرې کې په جوړې شوې بېړنۍ غونډې کې چې دکابو ټولو عربو هېوادونو دیاندنیو چارو وزیرانو ګډون کړی و دفلسطیني اداري مشر محمود عباس تېزې خبرې وکړې او ددې طرحې په منفي اړخونو یې رڼا واچوله .

محمود عباس وویل ؛ ما د ولسمشر ټرمپ سره دتلیفوني خبرو نه انکار وکړ او دهغه دپېغامونو دجواب مې هم ورنکړ ځکه چې ځه پوهېدم چې ټرمپ به بیا وایې چې ددې طرحې په اړه یې موږ سره مشوره کړې وه.

ځه نه غواړم چې په تاریخ کې دبیت المقدس دپلورونکي په نوم یاد شم ؛ فلسطینیان داسرائیلو دقبضې پای ته رسولو او دداسې ازاد فلسطیني دولت رامنځته کېدوته تربل هروخت زیات ژمن دي چې پلازمېنه یې شرقي بیت المقدس وي ؛موږ داسرائیلو سره دمذاکراتو او دفلسطین دستونزې دحل په هکله امریکا دیواځني ثالث په صفت نه شو منلی . دغونډې په پای کې عرب لیګ مشترکه اعلامیه خپره کړه ؛ دا طرحه یې رد او دا یې د فلسطیني مسلمانانو سره ډېره لویه بې انصافي وبلله.

ددې ترڅنګ عرب لیګ دا اعلان هم کړی چې ددې طرحې په عملي کولو کې دامریکا سره هیڅ ډول مرسته نه کوي .

وروستې بیا په جدې کې داسلامي کانفرانس له لورې جوړې شوې غونډې کې هم دا طرحه رد شوه او دامریکا په کانګرس کې یې هم په مخالفت کې اوازونه راپورته شول خو د ملګرو ملتونو په امنیت شورۍ کې دویټو حق لرونکو هېوادونو هیڅ دیادولو وړ عکس العمل ښکاره نکړ بس روسې یواځې همدومره وویل چې اسرائیل او فلسطیبیان باید دیو بل سره مخامخ کینې او داستونزه په شریکه حل کړي .

دټرمپ دطرحې پرضد په امنیت شورۍ کې تیونس او انډونیشیا درخواستونه جمع کړي وو خو دمنظورۍ لپاره یې چې څومره رایې پکار وې دهغو رایو په ترلاسه کولو کې دپاتې راتللو له امله دغه درخواستونه بېرته واخستل شول .

دټرمپ پدې اعلان شوې طرح کې راغلي دي چې فلسطين چې يواځې دلويديځې غاړې اوغزې نه عبارت دی اوس به مستقل دولت نه وي بلکې داسرائيلو تر څارنې لاندې يوه داسې اداره به وي چې امنيتي او نورې چارې به يې اسرائيل سمبالوي ؛ دفلسطين دا نوی دولت به دامنيت لپاره پوليس لري خو دفوځ جوړولو اجازه به نه لري او مکلف به وي چې حماس ، اسلامي جهاد او نورې وسله والې ډلې په کلي ډول بې وسلې کړي دټولو هېوادونو سره په ګډو پولو به يې اسرائيلي فوځيان پراته وي او د پولو ساتنه به يې داسرائيلو په غاړه وي .

دځينو لويديځوالو رسنيو له لورې پدې اړه په خپرو شويو راپورونو کې دا هم راغلي دي چې داسرائيلو دغوښتنې سره سم ټرمپ دا هم ويلي دي چې دغزې نه به ټول فلسطيني مسلمانان سينا ته استول کېږي ؛ هورې به ورته دهستوګنې لپاره کورونه جوړېږي او ټوله غزه به اسرائيلو ته ورکول کېږي .

ټرمپ داهم ويلي دي چې دفلسطين خاورې ته دفلسطينيانو دراستنېدو خبره دتل لپاره ختمه کړای شي .

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دنړۍ دمختلفو برخو نه دراوستل شويو يهودانو دمېشت کولو په موخه غاصب صهيونستي دولت دفلسطيني مسلمانانو ډېرې زياتې ځمکې نيولي او مسلمانان يې تړې هجرت کولو ته اړ کړيدي چې نورو هېوادونو ته دخپلو ځمکو او کورونو نه ددې مهاجرو شويو فلسطيني مسلمانانو شمېر ۷ مليونو ته رسېږي چې دا مهاجرين يا دمهاجرينو بچې ۷ لسيزې پس هم خپلو کورونو ته دستنېدو په هيله شپې ورځې تېروي او خپلو کورونو ته ستنېدل يې ډېره ستره هيله ده .

دخپلوکورنو نه جبراً ويستل شوي دامظلوم فلسطينيان او دعربي هېوادونو نه په خپله خوښه اسرائيلو ته راغلي يهودان اوس ټرمپ په يوه تله تلي او وايي چې اسرائيلو ته راغلي يهودان چې بېرته خپلو سيمو ته دتللو نوم نه اخلي نو بايد دفلسطين نه کډه شوي مسلمانان هم دلته بېرته دراتلو نوم وانخلي او دې خاورې ته دفلسطينيانو دراستنېدو خبره دې دتل لپاره ختمه کړای شي .

ټرمپ دعربو هېوادونو نه دا هم غوښتنې چې هغو يهودانو ته دې معاوضه ورکړي چې ددوئ له هېوادونو تللي دي او دلته يې جايدادونه پاتې شويدي .

مسلمانانو په هکله دامريکا همدا انصاف دی؟!

دمصر په شمول ديو شمېرنورو عربو هېوادونو نه راغلو هغو يهو دانو لپاره له دولتونو معاوضه غواړي چې يو يې هم چا په زور ندی راويستلی او نه کوم يو خپله ځمکه پرېښې ده خو دمظلومو فلسطينيانو نه چې صهيونستي دولت په زور ځمکې غصب کړيدي نو هغوئ ته نه بېرته دځمکې ورکولو او نه هم دمعاوضې خبره کوي بلکې وايي چې دلته دې د راتلو خبره نه کوي ؟!

دقيديانو په هکله يې هم همداسې خبره کړيده چې که فلسطينيانو سره کوم يهودي وي نو بې قيد اوشرطه به يې پرېږدي خو داسرائيلو په زندانونو کې دفلسطيني مسلمانانو دراخوشې کېدو لپاره يې داسې شرطونه اېښي دي چې معنی يې همدا ده چې بايد يو فلسطيني هم داسرائيلو له قيد نه آزاد نه شي .

مثلاً دا چې قتل يا دقتل اقدام به يې نه وي کړی ؛ په اسرائيلي فوځيانو ، پوليسو او ولسي وګړو به يې بريد نه وي کړی او نه به هم وربانډې دتروريستانو سره دتړاو تور وي .

که کوم فلسطيني دپورته يادو شوو شرطونو واجد وي خوشې دې شي او که څوک داسې نه وي نو هغه دپرېښودو حق نه لري خو که اسرائيلي دولت وغواړي نو پرېښودی يې شي .

نو ددې شرطونو اېښودلو معنی داده چې يو فلسطيني هم بايد داسرائيلو له زندان نه خوشې نکړای شي ځکه چې اسرائيلو زندان ته ورې وي نو خامخا به په يادو شويو خبرو کې پرکومې تورن وي ؛ که بل هيڅ هم نه وي نو تروريستانو يانې حماس سره دتړاو خبره خو چرته تللې نده .

ددې پلان له مخې به يروشلم يانې القدس ښار دفلسطيني مسلمانانو او اسرائيليانو ترمنځ شريک نه بلکې ټول القدس به د اسرائيلو ترکنټرول لاندې وي او دښار نه بېرون کفر عقاب اوسهانات سيمو ته به دشرقي القدس نوم ورکړل شي او همدابه د نوي فلسطيني دولت پلازمېنه وي .

پدې طرح کې دا هم راغلي دي چې دا پلان به هغه وخت عملي کېږي چې حالات داسرائيلو لپاره برابر شي ؛ فلسطينيان بايد په راتلونکو ۴ کلونو کې پدې ټولو شرايطو عمل وکړي او داثابته کړي چې داسرائيلو امنيت ته ددوئ له

لوري خطرونه ندي متوجې نو بيا به داسرائيلو دولت دفلسطيني دولت دنورو چارو په اړه اقدامات کوي. طرح کې داهم راغلي دي چې شرقي بيت المقدس ؛ اردن دري اوپه فلسطيني خمکو کې داسرائيلي ښارګوټوپه شمول به دفلسطيني مسلمانانو نه نيول شوې ټولې پراخې سيمې داسرائيلو نه جداکيدونکی جز وي .

دټرمپ پدې طرح کې داهم راغلي دي چې فلسطين اوعرب هيوادونه بايد په ۱۹۴۸م کال کې کړی خطا بيا تکرار نکړي ؛دمستقل فلسطيني هيواد درامنځته کيدو ددې وروستى تاريخي موکې نه دې ګټه پورته کړي ؛ دآزاد فلسطيني دولت پلازمينه به دشرقي يروشلم ابو ديس وي چې امريکا به پکې په خوښۍ او فخر خپل سفارت پرانيزي ؛ دفلسطينيانو د اقتصادي ستونزو دحل لپاره ۵۰مليارده ډالر په پام کې نيول شويدي چې يو مليون بې کارو فلسطيني ځوانانو ته به ورسره کارونه پيدا شي .

ددې طرحې د وړاندې کولو په موخه جوړې شوې غونډې ته چې ترمپ خبرې کولې او داسرائيلو لومړی وزير بن يامين نتن ياهو هم شتون درلود نو اسرائيلو سره دخپل اخلاص او همدردۍ ښکاره کولو ډېره هڅه يې کوله ويې ويل : همدا څه يم چې دايران داتومي پروګرام په هکله درامنځته شوي ترون نه مې امريکا راوويستله اوهڅه مې ده چې داسرائيلو دټولو دښمنانو مخه ونيسم .

دګولان په غرونو مې داسرائيلو واکمني ومنله او بيت المقدس مې دبل چا دشرکت پرته داسرائيلو پلازمينه ومنله ؛داړ اسرائيلو زما کومه خصوصي مهرباني نده څه خو چې څنګه واک ته ورسيدم دتل ابيب نه مې بيت المقدس ته دخپل سفارت دانتقالولو اعلان وکړ ؛ موږ غواړو چې په انجيل کې ديهودانو بيان شويو ټولو مقدسو مقاماتو ته ديهودانو اومسيحيانو لاس رسی شونی شي .

ټرمپ داهم وويل چې دامريکا يو ولسمشر به هم داسرائيلو په حمايت کې تر هغه سرحده نه وي تللی تر کوم سرحده چې څه ولاړم .

داسرائيلو لومړي وزير بن يامين نتن ياهو دټرمپ په خبرو خوښي څرګنده کړه ؛ ويې ستايلې او ويې ويل چې يوه د ۱۹۴۸م کال دمۍ مياشتې ۱۴ مه نېټه وه چې دامريکا ولسمشر او داسرائيلو لومړي وزير مشترک اعلان کړی و او يوه ننۍ د۲۰۲۰م کال دجنورۍ ۲۸ مه ده چې څه او ته له يو ستيج نه په يوه موضوع غږيږو .

ښاغلی ولسمشر ! تاسې دنړۍ يواځنۍ هغه مشرياست چې په تاريخ کې مو خپل نوم روښانه کړ ؛ تاريخ به مو تل يادوي ؛ زموږ دنيکونو او پلرونو قبرونو ته رسيدل مو موږ ته شوني کړل ؛ داردن غاړې او ورسره لګيدلې سامريه سيمې باندې مو زموږ واکمني ومنله چې دا زموږ دامنيت او په تورات کې زموږ دبيان شوي وراثت داحيا لپاره ډېره مهمه وه .

دټرمپ له لوري دپېرۍ دمعاملې په نوم وړاندې کړای شوې طرحې دا خبره روښانه کړه چې دکمزوري او غواکمن ترمنځ ترون . وعده اومعاهده ټول بې معنى امور دي اصل شي زور دی او يا ددې زور په مقابل کې دخپل زور ښکاره کول دي .

ښه داده چې پدې اړه دمسلمانو مشرانو دريځ يو دی ؛ دفلسطين مشرانو دعربي نړۍ مشرانو او دنورې نړۍ حاکمانو که پدې موضوع خپل اتحاد وښود او په سياسي لحاظ يې خپل استحکام وساتلو نو په تاريخ کې به يې دځانونو لپاره يو څه مقام جوړ کړی وي ګيني دتاريخ بې رحمه پاڼې بې يې معاف نکړي او راتلونکو نسلونو ته به ټول هغه څه په ډاګه کړي چې څه اوس تېر شوي وي.

هسې خولا ډېردمخه په ۱۹۹۵م کې دامريکا دولت بيت المقدس ته دخپل سفارت دانتقالولو پرېکړه کړې وه خوپه عمل کې به دامريکا هر ولسمشر اوقانونجوړونکو ددې پرېکړې دعملي کولونه ډډه کوله تردې چې دټرمپ په نوم اسرائيلوته خورا نږدې اوداسرائيلوډېر خوا خوږی شخص دامريکا ولسمشر شونوداسلام اومسلمانان سره پر دښمنۍ دولاړو ګنونورو اقداماتوترڅنګ يې د۲۰۱۷م کال ددسمبر په ۶مې نيټې يې اعلان وکړ چې بيت المقدس ته به خپل سفارت انتقال کړي او چې د۲۰۱۸م کال دمۍ مياشتې په ۱۴مې نيټې پر بيت المقدس دغاصبو يهودانو دقبضې ۷۰ کلونه پوره او اسرائيلي دولت يې ۷۰ يمه کليزه لمانځله نو په هاغه ورځ امريکا خپل سفارت له تل ابيب نه بيت المقدس را انتقال او نړۍ ته يې روښانه کړه چې يواځې دوينا ترحده نه بلکې امريکا په عمل کې دګريټر اسرائيل درامنځته کيدو

ټولو هڅو اوپلانونو ته ژمنه ده . امریکاپه ښکاره ټل دفلسطیني مسلمانانو دآزاد هېواد سره خپله همغږي ښودلې ده ؛ همېشه یې په بیت المقدس داسرائیلودقبضې اوداسرائیلودپلازمېنې په صفت ددې ښار له منلو سره خپل مخالفت ښکاره کولونوځکه یې غاصب اسرائیلي دولت دلته دډېروتصرفاتونه ډډه کوله ؛دټرمپ پورې ټولوولسمشریانود فلسطینیانو اواسرائیلوددوه مستقلوهېوادونودرامنځته کېدونه خپل حمایت ښکاره کړی ؛ پدې اړه یې دهرډول مرستې کولوخبره هم کړېده.

هر نوي ولسمشرچې دخپلې دورې دختمېدونه وړاندې دازادفلسطیني دولت درامنځته کولو خبره کړېده تودډېروګومان داوچې شایدامریکا په مشرۍ کې دمذاکراتو له لارې داستونزه حل اوورسره دمنځني ختیځ کړکیچ هم راکم شي خو دټرمپ مخکنو اقداماتو او اوسني اعلان دامریکا اصلي څېره خلکوته راښکاره اودفلسطین په موضوع کې دنفاق ټولې پردې یې له مخ نه پورته شوې.

امریکا نړۍ ته ځان ډېر دیموکرات ؛ امن خوښونکی ؛ دمذهبي بنسټپالنې اوتعصباتو خلاف ، اودسخت دریځۍ ضد معرفي کوي اودنړۍ ته هم تل داغوښتنه کوي چې دبنسټپالنې او سخت دریځۍ په له منځه وړلوکې دې خپل مسؤلیت ادا کړي خوپدې اعلان دنړۍ دترټولوستر دین اسلام پیروانو احساساتودمجروح کولو له لارې دامریکا دادروغجنتوب اومنافقت هم لازیات راښکاره شو اوټولې نړۍ ته ښه روښان شوه چې امریکا پخپله په خپلو لاسونو مذهبي تعصباتو، سخت دریځۍ اوبنسټپالنې ته وده ورکوي اوقصداً دنړۍ امن دخطرونوسره مخامخ کوي.

دفلسطین دستونزې دحل په نوم دفلسطیني دولت اوغاصبې اسرائیلي اداري ترمنځ څو ځلې دمذاکراتو لړۍ هم پیل شوې چې تر اوسه یې هیڅ نتیجه نده ورکړې. خوچې دصهیونستي رژیم پرضد دفلسطیني مسلمانانو دروان جهاد دکمزوري کولواودجهادپرځای دمذاکراتو سره دفلسطینیانود هیلو دتړلو لپاره دلویدیځ په اند مؤثره لار ده نوځکه یې ټول لویدیځ سخت طرفدار دی او دداسې اقداماتوسره په ښکاره خپل مخالفت ښکاره کوي له کومو چې دمذکراتو په نوم پر دې لوبې دفلسطیني مسلمانانو باور ته زیان رسېږي.

دټرمپ اوسنی اعلان دلازیات تشویش وړ ځکه دی چې دا په داسې وخت کې شوی چې عربي نړۍ په ډېروستروبحرانونوکې واقع ده ؛ دشام روان کورنی جنګ ؛ دعراق ناوړه حالت ؛دلیبیاضعیفه اداره ،ګډوډي اوطوائف الملوکي ؛ په یمن کې روان جنګ ؛ دقطر نزاع ؛ دسعودي اوایران ترمنځ دبرلاسۍ لپاره روان سوړ جنګ اوس داسیمه دلویې بربادۍ اودبحراني حالت سره مخامخ کړېده په ټول منځني ختیځ کې دپردیومداخلو اولاسوهنوله امله رامنځته شوی انتشار؛ فرقه یزې شخړې اوتعصبات؛دنظامونوړنګېدل ؛ کورني خونخوارجنګونه اوپه نتیجه کې یې دآبادو ښارونو وړانېدل ؛ په ملیونونوانسانان قتل کېدل اوپه لسګونوملیونونه دخپلوکورونو پرېښودوته اړکېدلونه پس دنړۍ په مختلفوبرخوکې دسترو دربدریو اونه ختمېدونکو مشکلاتوسره مخامخ کېدل ؛دلته روان خوراناوړه سیاسي جریانات دنړۍ مسلمانانو لپاره دسخت خفګان اوغم سبب شویدي اوله بلې خوا دامریکا دولسمشر له لورې ددې طرحې اعلان یې له شکه چې دنړۍ دمسلمانانو په غم ، خفګان اوذهني کوفت کې لا ډېر زیاتوالی راوستلو.

او س ددې خبرې ډېره زیاته اړتیا ده چې دبیت المقدس سره دمینې اوعقیدت داظهار تر څنګ ټوله اسلامي نړۍ اوخصوصاً دمنځني ختیځ هېوادونه عملي اقدامات هم وکړي ؛ دټرمپ دپرېکړې پر ضد داحتجاج تر څنګ اسلامي نړۍ په خپلوکې دیووالي اوددښمنیوو دختمولوډېر ه زیاته اړتیا ده ؛ ایران اوسعودي بایددفلسطین دستونزې دحل په موخه دبرلاسۍ دحصول لپاره خپلو روانواختلافاتواو روان سوړجنګ ته دپای ټکی کېږدي ترڅو داستونزه حل شي .

دفلسطین ستونزه یواځې دفلسطینیانوستونزه نده دادټول مسلمان ملت ستونزه ده اوټول مسلمان ملت پدې اړه مسؤلیت لري خوله بده مرغه چې داسلامي هېوادونوحاکمان پدې اړه دخپلو مسؤلیتونواحساس نه کوي او ددې ستونزې ټول بار دفلسطین دمسلمانانوپر کمزوروواوږو وربار دی اوپدې لار کې په یواځې ځان دعددپه لحاظ دې کمو اود وسایلو په لحاظ دې کمزورو مسلمانانو ډېره اوږده مبارزه وکړه اوډېرې سترې قربانۍ یې ورکړې نوکه او س هم مسلمان هېوادونه پدې اړه دخپل مسؤلیت احساس نه کوي او ددې ستونزې دحل لپاره اړین اقدامات نه کوي دابه دخپلې قبلې اودفلسطینیانودلویوقربانیو سره ډېره ستره جفا وي .

محمد ظاهر (منیب)

دزندان خاطري

دیو واضح حقیقت له محې نني نړۍ اوبه خانګړې ډوګه دافغانستان خاوره په لویه کې ددوه ډوله خلکوکوربه اوشاهده ده (۱) دمعنویت، خپلواکۍ، اوارزښتونوسانونکي (۲) دغلامۍاو بلواکۍ اتلان او دارزښتونوپلورونکي له کومې ورځې چې دافغانستان دطالبانواسلامي خوځښت دغیورملت په غوښتنه دشر اوفسادپرضدددخپل سرمسؤلیت له مخې ایجاد،اودیوریښتیني اسلامي نظام دقیام لپاره دملت تولو قشارو په ځانګړې توګه ددیني مدرسوطالب علمانوپکې په پراخ ډول دخدمت اوقرباني لپاره ګډون وکړ ماهم دافغانستان په جګړه ځپلې خاوره کې داسلامي نظام اودولت دجوړېدوپه پاردهمدې مساعد فرصت څخه په ګټه اخیستنې دیوعادي طالب په حیث له همغه پیله خپله مبارزه شروع اود،سلامي امارت ترایجادوروسته دسترقیادت په لزوم دیداوحکم دهیوادد پلازمېنې په ګډون د بېلابېلوولایاتو په مختلفوبرخوکې خدمتونه سرته رسولي.

کله چې دناټوپه ائتلافي جوړښت کې مغرورې امریکاخپلې اونورې خارجي اوداخلي شیطاني لښکرې دټولومسلّ شویوقوانینوخلاف په ګران هېوادافغانستان رامرش کړې اودنړۍ په کچه پرمختللې وسلې اومعاصره جنګي ټیکنالوژۍ یې زموږهیوادته زموږدهرارخیزتخریب لپاره انتقال کړه اوهمدارنګه دهیوادپه ټوله فضااوخاوره وحشت اوظلم حاکم و نوددیوحکمت اوجګړې ستراتېژۍله مخې دریاتوانساني زیانونودمخنیوي په پارمرحوم علیقدرامیرالمومنین دتاکتیکي شاتګ حکم صادرکړهغه مهال اتکل، اوبرداشت هم داو هغه څوک چې دافغانستان په اسلامي امارت کې په مهمو امنیتي (نظامي) برخوکې یې دخدمت ستره وندهِ اخستي وي بایددامریکااوناټواوداخلي اجیروملېشوله خوا ترځوراجدي تعقیب لاندې وي اوپه عمل کې هم همداسې کېدل دحامدکرزي په نوم ضمیرپلورونکی غلام به غربي رسنیوته په مغروراندازاوچالاکه ژبه ویل به دطالبانوتحریک شنه اوبه هم امارت هغه څوک چې زموږددیموکراسۍپه وړاندې ستونزې ایجادوی له سلوتریوسم سلوپورې افراددې دوی به بانیول کیږي اویابه وژل کیږي دریم اختیارنلري .څنګه چې مکاراوکبرجن دسمن له هرډول تاکتیک اوچل استفاده کوله موږهم خپل ژوندااو مبارزه دخرپ اوترپ(guerrilla tactics) له میتود څخه په ګټې اخستنې عباروله چې داتګلاره داهداو دتحقق لپاره ډېره اغېزمنه ثابته شوه کله چې په هیوادداسې وضعیت واکمن شي چې دمعنویت، خپلواکۍ اوارزښتونوځای غلامي، بلواکي اودارزښتونو پلورنه ونیسي- نو په طبعي ډول دهیوادداصیل بچیان دمختلفوسنونروسره مخ کیږي دخپل ځان په تړاومې تخمین داو چې یوه ورځ به دهمدې حمې لارې دپیروۍ په جرم یادافتخارمرګ (شهادت) برلاسه کووم اویابه نیول کیږم بالاخره دکلونوورووسته زمادګرفتارۍ شیبې هغه وخت راورسېدې چې یووررومې داسلامي امارت سره دغړیتوب په تور لادمخه په زندان کې و اویووررومې دیوتکړه نظامي سرګروپ په حیث ترجدي څاراوپلمې لاندې واودسمن ته خورامطلوب و. دامریکاداستخباراتي شبکې (CIA)دوحشي صفته ځانګړو قطعاتوپه ګډون یولوی شمیر داخلي ملېشوچې دکمپاین په نوم شهرت لري اواجرائي ماتلان په کې ځای پرځای شوي او تعدادې سلګونوته رسېده اوګڼ شمېرالوتکوېې ملیاکوله رمایه هسوګنځي راوځنل دمحاصرې اونیولوپرمهال دداخلي ملېشوچلندپه مراسوله امریکایانوقبیح اوبد و دپستومتل دی چې ونې ویلي و که لاستی مې له خپل ځان څخه نه وی په دې حالت به نه کېدم دنیولووروسته یې یوې مهمې امریکایي ادې ته انتقال کړم محققین دامریکاداستخباراتي شبکې کارمندان وو تحقیقاتي جریان چې په روحي اوفزیکي تعذیب ولاړ و، یوه شپه اوورځ دوام وموند له هغې وروسته یې په اصطلاح دملي امنیت افرادونه وسپارلم اوهلته له سره پلټنې پیل شوې ناورمې داو چې دملي امنیت په ودانۍ کې چې به لوړلګښت جوړه شوې وه په همغه کچه به اړونداَفرادهم لوستي باتجربه اومسلکي وي حودرنیس په ګډون یې تقریباًټول پرسونل غیرې مسلکي اونالوستي وو داپه داسې حال کې چې لوړدالریرمعاشونه،لوړ وړاتیفي مالي ،مکانات، دمرمۍ ضدنقلیه وسایل اوډژوندسهولتونه یې خوراډېراولوړ وو. ددقیومالوماتوپربنسټ دټیل شوې اداري ۷۵ سلنه بودیجه په امنیتي برخه کې مصرف کېده، په ملي امنیت کې هم تحقیقاتي روند دتېرپه څېردهرارخیزتشدده ډک و دموظف څارنوال دڅارلـه مخې تحقیقاتي جریان ۲۳ ورځې دوام وموندچې دا له حقوقي نګاه څخه جرم ګڼل کیږي یوموظف څارنوال حق لري چې دیوتورن شخص دوسیه په ۷۲

ساعتونوکې بشېره کړي که ۷۳ ساعته دوام وکړي خارنوال خیله پر،او دمجازاتوورډی، دېلتویه ترڅ کې به چې کله ددوی مشران زموږدلیدلولپاره راغلل تودسکنځلو، سپکوسپورو تحقیرامېزه الفاظو، دوهلواورټلوپرته يې بل څه نه درلودل هربندي به په جلاخونه کې ساتل کېده په عمومي توګه نرمه اوشدیده شکنجه دتحقیقاتومهمه برخه وه.

نواوس تاسې ووایاست، چې په هغه وخت کې زه دکوم جرم مرتکب شوی یم؟ خارنوال زیاته کړه، زمونږ دمعلوماتوپربنسټ، ته اوس هم دطالبانوپه لیکوکې دنده ترسره کوې، ومې ویل جناب ره نه یاستاسې دادعاپربنسټ دنده لرم اویانه خوداخوبایدتاسې ثابته کړئ! خارنوال دخپلوادعاوثبوت لپاره هیڅ نه درلودل محکمه ترسره شوه حوداسې څه دمحکمې په ترڅ کې خارنوال وراندې نکړل چې زه دې پرې دقانون له مخې پروېلل شم .دفضاتوله لوري دپیسواخستل یوه عامه خبره وه په دې ماناچې زندانیان په دپیسوتویه خپر دقاضیانو، خارنوالانو، اودکمپشنکارانو،له لوري په یواوبل خرڅېدل اودانساني خرځلاوبازارخوراګرم و اودپرسکېل افرادپه کې دمارکېنونواوریاتوشتمیو حاوندان شول، رماهم په لکونوپیسې مصرف سوې حودسلیفه یې نعامل له محې ابدائیه محکمې دروریږم سره پـه براویـې رانـه یوکـال اواووه میاشتې سفیـذي قیدراکړ. دقیدپه موده کې له بېلابېلوخاطراتواوپیښو سره مخ شوم،چې یواځې ترې دیوخویادونه کوم، ددوشنبې ورځ چې معمولاً دملاقات ورځ نه وه وره هم دخپلوانو سره په لیدلو بوحت وم چې پولیس رما نوم واحیست اورانه غږېې کړ، دباندې موحوک غواړي، رولـې رانـه واچـول شـوې دزندان دوداني دباندې يوشمېراطاقونه وو چې درندان اداري پرسونل اومهم چاروا کي به پکې کېناستل وروستل شوم پـه خـانګړې حونـه کـې دملګرو ملتونو د استازولي (یوناما) څلورکسان چې یوېې ژباړن اوبورخارجي اتباع وو ناست وو روغبړموکړ څانونه یې راوپېژندل زمابه هکله يې لادمخه معلومات درلودل، له مايې وپوښتل په خارجي ژبوحبرې کولای شې؟ ومې ویل نلې په پښتوژبورواني خبرې کولای شم. دوی په انګلیسي ژبي دخپل ملاقات اولیدني جزیات داسې راکړل چې مونږته دزندانونودحالت زیات شکایتونه شوي، غواړوستاسې له خولې هغه څه واوروچې یاورسره مخ شوي یاست، یامولیدلي اوهم اورېدلي وي، مااوویل ستاسې موخه څه ده؟ ځواب يې راکړ غواړوداحالت پای ته ورسیږي ورتـه مـې وویل ستاسې هدف یواځې دادی چې دانساني خواخوږی له مخې په زندانونوکې داحالت پای ته ورسیږي؟ نوددې کوم باور(تضمین) موجوددی چې داحالت به له منځه ځي؟ ددوی تیګارداو چې مونږبه چمتوشوی رابورنشرته وسپارو اوپه څنګ کې بې نورې هڅې هم جاري ساتو،نوماهم دزندانودبدحالت به دخلاصون په پاربشپړجزیات اومعلومات ورسره شریک کـړل، چـې لـه یـکـه مرعـه یـې سـه انعکـاس وموند،دهیوادپـه کچـه دزنـدانونوحالت دیومسـتـد رابـور پـه اسـاس خپورشـوحوتش پـه تـوم حکومت، لمړی نادرابورلـه واقعبوتـولرې وبالـه اوبیـایې دیوناما څخـه دهغومحبوسینو لپستونه وغوښتل، چې دمرکوپربنسټ یې یاد راپورترتیب شوی و حو(یوناما)یې غوښتنه ردکړه، اوپه تعقیب يې په اصطلاح بودولتي پلاوی دیادې موصوع دڅېړنې په پارتوظیف کړ، چې ددوی موندنوهم په رندانونوکی یادې پیښې تائندکړې اوپه نتیجـه کـې دشـکنجې ګـراف پـه نسبي توګه راسکته شو. همدارنګه يوه ورځ دمرکزي رندان مرستیال چې دانګلیسي په برخه کې زماشاګردهم و،له ماوغوښتل چې په روان سیاسي اونظامي وضعیت، اوددوی په حکومتولي، يوڅه ووایم ماده ته وویل، دامریکاپه لویه صـحراکې دامېرېـه نامـه یووحشـي ـ ژوی ژونـدکوي، اوددې وحشي ژوي طبعي عادت دادی چې له خانه کوچني حشرات پیداکوي، نیسي يې، وسه يې زیبسي اوبالاحره وژني يې، په واقعي دول امېریـالیزم هم لدې نشئت کړی امریکاپه نړۍ کې په لسګونوهیوادونه نیولي، اوپه هغوهیوادونوکې يې داسې افرادواک ته رسولي چې خلک نیسي، وینه یـې زبیسي اووژني يې چې څرګنده بېلګه يې همداساسې اوسني اداره یادولای شو، دلـه دېری رندانیان دېرې په لرلوراوړل شوي، دېکې په شـتون زنداني کیږي، چې کله يې دوسیه به اصطلاح محاکمو ته راجع شي نودزرګونودالرو، اولکونوافغانیوعوسته ترې کیږی چـې داحالـت اوشرایـط نالوستوقاضیانوته امیریالیزم، اوناروااشغال برابرکړي. یوه بله ورځ

له امله شهادتونه هم رامنځته کېدل خوراک په نسبي توګه ډېرېد نه و مابه چې کوچنی فرصت هم وموندملګروته به مې دداپه توګه ویل مه خپه کېږئ یوه ورځ خامخا دهمدې مبارزې پرمټ به مغروره امریکامـاتیږي اوداتپـل شـوې ګـوداګي اداره بـه زمونږدحـق جهادپـه وړانـدې پـه ګونډوکیږي ځکه چې له موږسره دلوی متعال رب مرسته ده اودولس قوي ملاترېرعکس له دوی سره سه دخـدای (ج) مرسـته شـته اونـه دولـس ملاترله څان سره لري دوی یواځې دډالروپه راټولولو، دچوکیوپه ساتلو، دچوراوعصب به خیال اودخپل سه ژوندپه فکرکې دی خومونږدلـوی رب په مرسته اودولس په قوي ملاتړاتکاءکوو مونږیوریسنیی اسلامي سیاست کوو خودوی دسیاست په نوم څه نه پیژني د۲۳ ورځني تحقیاتي جریان وروسته دوسیه بشپړه شوه اوزه يې مرکزي زندان (بندخونې) ته ولېږدولم هلته هم دیوڅه وخت لپاره په جلاخونه کې وساتل شوم پـه حقیقـت کـې مرکزي زندان دانجیترۍ داصولوله مخې د۲۰۰ محبوسینولپاره جوړشوی و خودزیاتوزندانیانودشتون له امله پکې ۶۰۰ زنـدانیان دګنوسـتونزوسره بوځای اوسېدل .خوااوشـا۸ میاشـتې وروسـته مـې دلـومړنۍ محکمـې دترسره کېـدومهال راوبسپداروندپولیسـوزمادنوم داخسـتلوترڅنګ دګـن شمېرنورونومونه هم دورکړل شوې لسب له مخې أعلان کړل دمعمول په څېردپسو، ملا، اودلاسونوزولنې راته واچول شوې اودمحکمې نالارته پـه داسې حال کې دننـه شـووچې دمسؤل خـارنوال ترڅنـګ دامنیـت عامـه ددېـوان درئـیس پـه ګـډون اړوندقاضـیانوهم شـتون درلـود. تـورن پـه

ځانګړوچوکیوکې، څارنوال اوقضات په خپلوځایونوناست وو دپښځلسوپورتنودپوستنواوځوابونوورسته زماوبت راغی څارنوال ماته په خطاب کې وویل دانوي خوانان چې دسه اوبدتوپیرنه شي کولای اوکاملاًنالوستي دي له دوی دومره ګیله نه کیږي ته خوتعلیم یافته هم یې نونه داسې ولې کوې؟اوتاځواشاپه۱۳ مواردوکې زمونږدنظام په وړاندې سستماتیک جرمونه ترسره کړي که دحرموتوشمېرموکم وی بومورېه درسره په اصطلاح ګزاره کړې وه. ما دپلټنوپه اوږدوکې درک کړیوه چې رماپه تراویې هیڅ دقیق معلومات نلرل اورمافطري عادت هم دا دی عوام تل سه استاریتوب وکړم څارنوال ته په خطاب کې مې وویل صېب تاسې ته په بشپړدرناوي زه په هغه قانون له تاسې سره خبره نه کوم چې پرې باورلرم ره په هغه قانون درسره عرېږم چې تاسې یې دلته نمایده ګي کوئ تاسودیوموئظف څارنوال په توګه دخپل اساسي قانون د۲۳ مې مادې او۳ مې فقرې پربنسټ مکلف یاست چې دخپلوادعاوودثبوت اوکره توب لپاره هم مدارک اثباتیه ولرئ هم شواهداثباتیه اوهم دلایل اثباتیه تاسې څه لرئ؟ څارنوال چوپ پاتې شو ماورغبرګه کړه معمولاًحکومتونه په یوهېوادکې دولس دخدمت په پاررامنځته کیږي ددې پرځای چې تاسې له مونږسره مرسته وکړئ زه درسره مرسته کوم، ویې ویل داڅنګه؟ ومې ویل تاسې په ۱۳ مواردوکې په مادجرم ادعالرئ ځوکه تاسې په یومورديوکمزوری سندوړاندې کړئ تول ۱۳ مواردبه ځان منم څارنوال وویل قراین (لاسوندونه) داسې چې ته مجرم یې ماوویل لطفً صېب که لږوضاحت ورکړئ ویې ویل ته داحمداومحمودوورونه یې؟ ماوویل ولې نه ده زیاته کړه داخپله ددې ښکارندویي کوي چې ته خپله هم ددې لارې پیروی یې ومې ویل څارنوال صېب که تاسې دخپل اساسي قانون (۲۵) ماده اوګورئ دذمې برئت اصلي حالت دی ترڅوچې دباصلاحیته محکمې په قطعي حکم منهم محکوم علیه ثابت نه شي بېګناه ګڼل کیږي دا زماورونه کومې محکمې مجرم ګڼلي؟ او که احیاناً زما ورونه ستاسې په اندمجرمین هم وي که تاسې دبشردحقوقودنړیوالې اعلامې ۱۱ ماده اوګورئ اوضمناً دخپل اساسي قانون ۲٦ ماده اوګورئ جرم یوپردي عمل دی اوهیڅانه سرایت نه کوي نوتاسې دکوم معقول استدلال اومنطق له مخې دهغو جرمونه ماته منسوبه وئ؟! داپه داسې حال کې وه چې زمایوه ورورته لومړنۍ محکمې دبرائت حکم صادرکړ اودوهم وروړمې لانیول شوی نه و. څارنوال پرمادنوروبولېست ولوست، اوماپې ټولې دعوې ردکړې، څارنوال دلېست شویوادعاوله مخې وویل دنیول کېدوپرمهال له ماسره ٦ تلفونونه موندل شوي اوپه هغوکې ۴۰۰ شمېرې ثبت دي تاسې بایدله یوتلفون استفاده کړې وای د٦ تلفونونوسابل هم ستاتخریبي فعالیت په ډاګه کوي ماوویل لکه څنګه چې ننیوارتباطي وسائلونړی ته دیوکلي حیثیت ورکړی، زه هم دیووګړي په توګه حق لرم چې له دې اسانتیاووګټه واخلم له یواوډېروتلفونونوڅخه استفاده کول زماحق دی، دمانه ووایاست چې دکومې شمېرې اوکوم تلفون څخه مې غلطه استفاده کړې؟څارنوال زیاته کړه تادطالبانودحاکمیت په اوږدوکې په لوړوپوستونوکارکړی څکه تاسې مجرم یاست، ومې ویل جناب په خپل ژوندکې مې دخوښۍ اوافتخارشېبې هغه وې چې دافغانستان داسلامي امارت دحاکمیت په اوږدوکې مې دخپل ولس خدمت کاوه که دطالب دواکمنۍ سره خدمت کول جرم وي نودکرزي په ګډون داوسنۍ اداري ۸۵ سلنه مامورین بایدڅارنوالۍ اومحاکموته معرفي او محول شي،څکه چې دطالب دواکمنۍ سره یې کارکړی، خوزه چې دحقوقودیوشاګردپه صفت څومره پوهېږم، اوپه همدې برخه کې مطالعه لرم دیونظام سره خدمت کول جرم نه ګڼل کیږي، ترڅوخپله یوڅوک دیوجرم مرتکب نه وي.

خوا اوشا لس بجې وې اړوند پولیسو نولوزندانیانوته اعلان وکړچې له خپلواطاقونووځي دونلوپرمهال پوه شوو چې دجنوب حتیزون د پولیسو مشر (عصمت علي زی) دزندانیانودلیدلولپاره راغلی دزندان په ګراوند کې تول محبوسین دپولیسودمشر دوینا داورېدلو لپاره سره راټول شوي وو جنرال عصمت علي زي ویناداسې مهال پیل کړه چې دبېلابېلو تلویزیوني شبکو ژورنالسانو، اوانځور اخستونکوېې ملتیاکوله علي زي په لندوخبرو کې وویل، مونږداسې وروسته پاتې ولس یو، کوم توکر (کالي) چې زموږپه تن دي زموږخپل صنعت نه دی، اوبله داچې دامریکا نظامي حضور دړی، به ډېری هیوادونوکې واضح اوځرګندحقیقت دی، لکه څنګه نورهیوادونه ددوی له نظامي حضوره مثبته ګټه پورته کوي راځئ چې مونږهم برې عظمې ګټه واخلو. دجنرال خبروزیات دوام ونه موند،اومونږخپلواطاقونوته په داسې حال کې دننه شووچې دعلي زي په ویناډرندان په هره برخه کې ناوده بحثونه روان وو .ډېری زندانیانوپل چې څومره دکهاله ډکې اوبااررسته خبرې یې وکړې، یوځوملګروخوزماشخصي موقف او لیدلوری هم پرې وغوست ماپه واضح ډول وویل، هغه څوک چې دسیاست له الف اوبابې خبره دي هغوی تل ږوندقضاوت کوي چې دې مستنې زمونږحالت له بده بدترکړی، ماپه خپل ژونددومره یې بندوباره اوغیرې منطقي خبرې نه وې اورېدلې، ماواضح کړه چې د یوهېوادعلمي بنستونه په بیلابیلوبرخوکې اشخاص تربیه کوي اوپه همغه برخه کې ترې دمسؤلیت تمه کېدای شي، لومړی خودی نظامي افسر. و، ده ته داحق چاورکړچې په سیاسې موصوعاتوځرګندونې وکړې؟ اوبله داچې دافغانسان دبربادۍ سرلامل څوک دي؟ زه خودطالب په نوم زنداني یم چې هیڅکله دبل چاډول ته په اصطلاح نه یم نخېدلی علي زی اوملګری یې هغه څوک ووچې کله سوسیالېزم افغانستان دتولومنل شویونورموخلاف اشغال کړ،دوی یې ډول ته ونخېدل اومحتلف توجهات یې ورته پیداکول کله چې مجاهدین واکمن شول دهغوډول ته یې ختې اوغورځولې اوکله چې داسلامي امارت واکمني رامنځته شوه هغه وخت یې هم له چل اوفرېب استفاده وکړه اوکله چې امپریالېزم هیوادته راغی نواوس په ډېراخلاص دغربي دیموکراسۍ ډول ته اړن کوي نوداهېوادچې ولس یې خپل صنعت نه لري دچاملامتي ده؟دنني طالب اوکه دپروې (عصمت

علي ري)؟ ده هڅه وکړه، له مسؤلیتونوبېسته وکړي، اوهمدارنګه داخنګه نظامي افسر و، چې په توره نرۍ کې امریکايي شتون اوبیاپه افغانستان کې امریکايي شتون سره په مساویانه توګه تحلیل اومحاسبه کوي؟ په افغانستان کې خارجي یرغلګر،زمامسجد، مدرسه، خیرات اوجنازې اودودونومراسم په وحشي نوګه بمبارده وي،کلي اوبازارونه په بشپړه توګه له منځه وړي، برعکس په یوعربي هیوادکې یوخارجي عسکر ترهغه دخپلې ادې نه دوتلوحق نلري چې له کوربه هیوادڅخه اجازه لیک ترلاسه نکړي،اوهمدارنګه لړترلړه په یوه ترافیکي پېښه مجازات کیږي نوپه یوعربي هیواد، اوافغانستان کې خارجي شتون په هیڅ منطق سره دپرتلې اومقایسې وړنه دی. همدارازتاسې حریاست، چې یرغلګراوداخلي ملاتړي یې دبیان ازادي دمهولاسته راوړنوپه توګه یادوي، خوپه حقیقت کې داسې نه ده، یوه ورځ دګهیځ مهال دچای په څښلوبوخت ووچې ناڅاپي څمکه درلزلې په څپرولړزېده، اوپه تعقیب یې دلویې چاودنې غږواورېدل شو، ددقیق پوهاوي په پارمې راډیوچالان کړه دازادي راډیوسیمه ایزخبریال یاده پیښه دمرکزي ستوډیو (پراګ) سره په ژوندۍ بڼه شریکه کړه، چې کله دمرکزي ستوډیوچلونکي دتلفاتوپه تراو،له خپل سیمه ایزخبریال وپوښتل نوهغه یې په خواب کې زیاته کړه، چاودنه خوراقوي وه چې له امله یې ۱۱ امریکايي، اوترڅنګ یې ٦ افغان فوځیان ووژل شول دمرکزي ستوډیوچلونکی ترې وپوښتل داارقام موله کومې سرچینې ترلاسه کړل؟ سیمه ایزخبریال زیاته کړه دامې په حپلوسترګوولیدل، نوماخپلومدګروته وویل تاسې دې خبروښ چې سیمه ایزخبریال به په اتوماتیک ډول خپله دنده له لاسه ورکړي، باوروکړئ دهمغې پیښې راپوردبل ولایت څخه یوبل خبریال مرکزي ستوډیوته ورکړ، اوحق ویونکي خبریال خپله دنده زماداټکل سره سمه له لاسه ورکړه.

دحقوقي کړنوپه رڼاکې ابتدائیه محکمه حق لري چې دوه میاشتې یوتورن په زندان کې وساتي، اودویمه محکمه یا (استناف) هم حق لري چې دوه میاشتې متهم په زندان کې وساتي، همدارنګه د دقیقو کړنو په پاردریمه محکمه (تمیز) حق لري چې پنځه میاشتې یوتورن په زندان کې وساتي، په دې ماناچې په نهومیاشتوکې بایدد یو تورن ټول قضايي پروسه بشپړه شوې وي خوزمادویمه محکمه دقیقاًیوکال وروسته ترسره شوه، دتېرپه څېرزولنې راواچول شوې ،ومادمونظف څارنوال صورت دعواهم له ځان سره راواخسته، څارنوال زمایه پخوابي قیدراضي نه و، اوویل یې چې حرایم یې زیات اوسنګین دی، اوقاصیانوورنه کمه سزاورکړې،ماهم غوستل چې دڅارنوال سره دخپل معقول استدلال په ژبه خپله خبره شریکه کړم، په یوسلوڅانګروموترونوکې داستناف محکمې ته چې په سارکې یې موقیعت درلود، انتقال شوو دیوڅه ځندوروسته دمحکمې خونې نه ننونو چې قضاتوهم حصوردرلود، دامنیت عامه ددیوان رئیس چې په تسبې نوګه ښه سړی و مانه وویل مونږستاپه تراوتصمیم نیولی، پوسته مې وکړه جناب څه ډول تصمیم؟ وېې ویل ستاپه دوسیه کې داسې څه نشته چې تاسې ته دې لوړحبس درکړل شي، یواځې یوکال ،ولس ورځې چې کال مون پوره کیږي اولس ورځې به بورهم په ربدان کې وې ماورغبرګه کړه چې زمالپاره لږیاډېرفبد دومره مهم نه دی، حوباسې دخپل مکلفیت پراساس څارنوال راوغواړئ، څارنوال دخپلې صورت دعوې په یوه برخه کې ادعاکړېوه چې تورن هغه مهال نیول شوی چې خپل ماین یې دامریکايي فواوپه وراندې په ځمکه کې خساوه، مافاضیانوبه په حطاب کې وویل، یوځوک چې ددریمې نړۍ دهیوادوبوپه یوډېرورسته پاتې هیو دکې ۱۸ کاله زده کړې وکړي اوخوااوشاشپړکاله په دپرواهموامنیتي اوسیاسي پوستونو، درئیس اومرسیال په توګه پاتې شي اوحواوشالس کاله مطبوعاتي اوژورنالسیکي هلې ځلې وکړي داسړی دې ماین کیږدي؟ ایادتورن جګرال په یوسټ چې یوځوک کاروکړي دده له خوادماین ایښودل تاسې ته څومره منطقی سکاری؟ که څارنوال ادعاکړې وای چې تورن دملامحمدعمرخای ناستی دی دامنطق ته نږدې وه اوکه داادعایې کړې وای چې له بورستان څخه ترفراه اوهرات پورې تولې نظامي اوسیاسي چارې دی سمبالوي دامنطق ته نږدې وه اویوچاورسره منله،اوکه دادعوه یې کړې وای چې دده ترقوماندې لاندې لس زره مسلح کسان جګړه کوي دایوڅه منطقي وه،

نوزه په دومره لوی حیثیت ماین کیږدم؟!هغه و چې دیوکال اودیارلسوورځوپه تېرېدو،دمتعال رب په مرسته، داستناف محکمې په پرېکړه، دزندان دروحي اوجسمي عذاب څخه په نسبي ډول خلاص، اودازادۍ باارزښته غېږې ته ورستون شوم معمولاًزندان دهغه چاپاره دی چې په عمومي توګه دټولنې نظم، باور، ارزښتونه، اوعدالت له منځه وړي اوپرځای یې بې عدالتي، انارشېزم اوګډوډي رامنځته کوي، خوتن زموږپه ګران هیوادکې واقعیت دادی چې بااستعداده دیني عالمان،نامتوپوهان، مخورقومي مشران، مسلکي ژورنالیستان، دارزښتونوملاتړي، ملي تجاران،په کارپوه ډیپلوماتان، حقیقي شاعران اوادیبان،دهیواددسرحداتوساتونکي، او په ټوله کې په اسلام، ملت، اوخاوره مین اشخاص په مختلفوتوموسو، دبې بنسټوباره غربي دیموکراسۍ دمدعیانو، اوبرېخوله خوا،دټولومنل شویو قوانینوخلاف په رسداتونوکې د حوراسختوشرایطوترڅنګ، دبېلابېلوتعذیبونوسره په سیستماتیک وحشت کې پراته دي،دوی یواځې په همدې جرم چې ته په حپله خاوره اشغال مې، اوبه هم دنړۍ په کچه مطلق فاسدنظام چې دخارجي یرغل ترسیوري لاندې په ګران هیواددټولوقوانینوخلاف وتپل شوی، منلو ته تیاردی په پای کې، دټولومظلومو زندانیانو د ژرخلاصون، اوله اشغال څخه دبشپړې ازادۍ،او د یو پرمختللي او باثباته افغانستان په هیله

مسئولیت های ما

در قبال استحکام بیشتر امارت اسلامی؛

پیشنهادها و مشوره های چندی

بخش دوم

ابوظهیر مولوي شمس الدین منصور
ترجمه : حبیبی سمنگانی

نیاز به تطهیر ذهن و تعمیر فکری افراد صف اسلامی :

چون استحکام، ثبات و نیرومندی امارت اسلامی مسئولیت شرعی و ملی ماست، اقدامات مسئولانه درین راستا نیز مکلفیت شرعی و مسئولیت ملی ماست. کوشش های که در عرصه های جهادی، علمی، سیاسی و اقتصادی جریان دارد، به هماهنگی میان آن ها ضرورت است. باید همه این امور، با در نظرداشت اصول اجتماعیت، اتحاد، ائتلاف، امتزاج و نظم و نسق تنظیم شود.

برای استحکام امارت اسلامی، مهم تر است که بجای گذشته به آینده دیده شود. تعمیر فکری اهمیت زیادی برای آینده تابان امارت اسلامی دارد. اما پیش ازان «تطهیر اذهان» لازم است. خاصتاً قشر جوانی که تازه به صف امارت اسلامی می پیوندند، باید پیش از اینکه به وظائف گماشته شوند، نخست به تطهیر ذهن و سپس به تعمیر فکری شان توجه شود. ما باید در روشنی مسیر معتدل شریعت اسلامی و مصالح ملی، نصاب ویژه ای را از مواد عقیدوی، علمی، معلوماتی، سیاسی و فرهنگی ترتیب و تهیه نمائیم و سپس برای تدریس آن میکانیسم فراگیر بسازیم.

تجارب نشان داده است که تطهیر اذهان جوانان و استعدادهای خام، ضامن آینده درخشان صف می باشد. توجه به تعمیر ذهنی و فکری نسل جوان، صف را از لحاظ نظم و نسق ممتاز می سازد و آزمون ها و مشکلاتی را که در برابر بقا و استحکام صف حائل می گردد، از بین می برد. اذهان تطهیر شده، تعمیر را به زودی و آسانی می پذیرد. دهقان تا زمین را از خار و علف های نابکار تطهیر نکند، نمی تواند باغ بسازد.

نیاز به کوشش های مداوم برای تقویه بیشتر صف جهادی:

امر پنجم در حدیث حارث اشعری جهاد فی سبیل الله است. جهاد ماخوذ از جهد به معنای

«استفراغ الوسع فی مدافعة العدو ظاهراً و باطناً» یعنی: به خرج دادن تمام توانایی به گونه علنی و مخفی، برای از بین بردن دشمن و یا دفاع خود از دشمن (مفردات امام راغب).

کوشش عام است که به مال باشد، یا جان، یا زبان و یا هم قلم. (و جاهدوا المشرکین باموالکم و انفسکم و السنتکم، رواه ابوداود و احمد و نسائی و ابن حبان عن انس).

جهاد نه تنها عنصر قوی و حیاتی برای بقا و استحکام امارت اسلامی است، بلکه وسیله شناخت و اعتبار امارت اسلامی است و اسلام بدون جهاد نامکمل است. به تعبیر اقبال لاهوری ؛ پیامبری بدون جهاد ارزش

برگ حشیش را هم ندارد. همچنان دولت اسلامی بدون جهاد هیچ مفهوم و معنایی ندارد. بناءً حیات و بقای هر صف اسلامی به جهاد موقوف است. داشتن نیروی قوی جهادی ارزش حیاتی برای آینده امارت اسلامی دارد، چنانکه زندگی ماهی بدون آب متصور نیست، همچنان زندگی و بقای اجتماعی مسلمان ها بدون جهاد متصور نیست. بناءً لازم است که تربیه و پرورش جهادی از مسئولیت های بنیادی امارت اسلامی باشد و باید امارت اسلامی پلان ها و مراکز مجهز تربیوی داشته باشد. هیچ نظام، گروه، قوم، قبیله و انسانی نمی تواند بدون جهاد، حق زندگی و بقا داشته باشد. آیا کسی است که بخواهد زنده بماند و از جهاد دست بگیرد ؟

بلی، آنچه را دیگر جهانیان به نام های دیگری تعبیر می کنند و برای زندگی و بقای خود لازم و ضروری می دانند، همان چیز را اسلام به لفظ جامع «جهاد» تعبیر می کند. بدون شک، آینده امارت اسلامی به جهاد وابسته است. برای تقویه بیشتر نیروی جهادی، استفاده از تمام تدابیر و تکتیک های معاصر و توجه به اعداد و تربیه مجاهدین، شرعا واجب است.

زیرا در احکام شریعت اسلامی پس از عقائد بنیادی، دیگر هیچ رکن، فرض و عبادتی به اندازه جهاد اهمیت و ارزش ندارد. در قرآن و احادیث مکرراً آمده است که بقای زندگی اسلامی موقوف به جهاد است. تا زمانی که جذبه جهادی در قلب مسلمان ها زنده باشد و هر فرد مسلمان اراده محکم قربانی جانی و مالی در راه جهاد داشته باشد، هیچ قدرت زبردست جهان مسلمان ها را مغلوب نمی تواند. اما هرگاه مسلمان ها از شوق و جذبه جهاد محروم شوند، با مرگ های جمعی رو برو می شوند. قرآن کریم درین مورد مثال یهود را بیان می کند که تا جذبه جهاد در یهودیان زنده بود، عزت و دولت در دست آن ها بود. اما هرگاه شوق عیش و عشرت بر آن ها غالب شد، داغ ذلت، خواری، محکومیت و غلامی بر پیشانی هر یهود نمودار شد و برای همیش رسوا و روسیاه شدند.

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ .

به اساس رهنمودهای شریعت اسلامی، جهاد دفاعی بر مسلمان ها زمانی که دشمن بر مسلمان ها هجوم بیاورد، لازم نه بلکه الزم می گردد. اما از نگاه عزم و استقلال، حکم جهاد به وقت خاصی محدود نیست، بلکه در هر حال و هر زمان بر مسلمان ها فرض است که برای دفاع از خود در برابر دشمن هر لحظه آمادگی داشته باشند و با تمام نیروی مادی و معنوی آماده جهاد باشند. قرآن عظیم الشان درین آیت مبارکه صراحتاً به اعداد و تدریب جهاد و عزم و طلب آن، حکم می کند:

وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ –الانفال: ۶۰

مولانا شبیر احمد عثمانی - رحمه الله - در حاشیه ای که بر ترجمه استاد خود شیخ الهند مولانا محمود الحسن دیوبندی – رحمه الله – نوشته است، در تفسیر این آیت می نویسد : معنای توکل نمودن بر خدا – جل جلاله - این نیست که اسباب ضروری و مشروع ترک شود، بلکه بر مسلمانان فرض است که حتی الوسع وسایل جهاد را فراهم نمایند. در عهد فرخنده نبوی – صلی الله علیه وسلم – مشق اسپ سواری، شمشیر زدن و تیر انداختن داخل اسباب جهاد بود. امروز ساختن و استعمال نمودن توپ، تفنگ، طیاره، کشتی های تحت البحری، تانک؛ آموختن فنون جنگ، ورزش و سائر تمرینات بدنی همه وسایل جهاد است. همچنان اسلحه و آلات حربی که برای آینده آماده می شود ان شاء الله تعالی همه در این آیت داخل می باشد.

امروز تغییرات عمده ای در اسباب و ابزار جنگی آمده است. تیکنالوژی های پیشرفته روی کار شده، توپ ها، تانک ها، طیارات، کشتی های جنگی و اسلحه اتمی ایجاد شده و میزایل های خطرناک و رهبری شده ساخته شده است. این همه امکانات و ابزار جنگی بالفعل در جنگ

ها بکار برده می شود و دشمنان اسلام خود را به این لوازم مدرن جنگی تا دندان مجهز ساخته اند. بر مسلمان ها فرض است که اینگونه وسایل جنگی را برای مقابله با دشمن بسازند و به دست بیاورند و برای دفاع از کشورها، شهرها و مردم خود ازان استفاده بکنند.

اصل مشهور فقهی است که «ما لا یتم الواجب الا به فهو واجب» (الاشباه و النظائر ج ۱ ص ۱۳۶) ، یعنی آنچه حصول واجب بر آن موقوف باشد، آن نیز واجب می گردد. دفاع از مسلمان ها و ملت واجب است و برای دفاع از مسلمان ها به اسلحه و وسایل ضرورت است، پس از کدام اسلحه که دشمنان اسلام برای حمله بر مسلمان ها استفاده می کنند، بر مسلمان ها فرض است که همان اسلحه را بدست بیاورند.

نیاز به استحکام اقتصادی و مالی:

هر نیروی جهادی و نظام سیاسی برای بقای خود به پشتوانه محکم مالی و اقتصادی نیاز دارد. قوت مالی و همانند خون در بدن انسان، ارزش حیاتی برای ثبات جامعه و نظام دارد. تا آنکه خون صاف در رگ های بدن گردش می کند، آن بدن از هر گونه بیماری ها مصئون می باشد. اما هرگاه جسم انسان ضایع کند، یا گردش نورمال خون با مشکل دچار شود و یا هم خون میکروبی شود، آن را جسم بیمار گفته می شود، طبیبان بر تداوی آن توصیه می کنند و بسا اوقات بر اثر عفونت خون، جسم انسانی از بین می رود. بعینه، سلامتی وضعیت اقتصادی نیز برای زندگی و بقای فرد و جامعه تاثیر گذار است. بناءً اسلام در روشنی اصول زرین خود، اصرار می ورزد که مفاد شخصی هیچ فرد باید با مفاد اجتماعی مزاحم و متصادم نباشد، بلکه هر دو معاون و همکار یکدیگر باشند.

در جهان معاصر، مسلمان ها بالعموم و افغان ها بالخصوص شکار ضعف و عقب ماندگی اقتصادی هستند. فقر و فاقه ای را که شریعت اسلامی ناگوار دانسته است در جامعه مسلمان ها و به ویژه در کشور ما به کثرت دیده می شود. حالانکه رسول الله – صلی الله علیه و سلم – از کفر و فقر پناه می خواست. اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ (ابوداود، کتاب الادب، باب ما یقولوا اذا اصبح، ۵۰۹۰) . در حدیث دیگری می آید که گاهی فقر انسان را به کفر می رساند. کاد الفقر أن یکون کفراً . همچنان رسول الله – صلی الله علیه و سلم – از شر فتنه فقر پناه خواسته است.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ.......وَشَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ (البخاری، کتاب الدعوات، باب التعوذ من فتنه الفقر، ۶۳۷۷) (مسلم، کتاب الذکر و الدعاء، باب التعوذ من شر الفتن ۵۸۹) (ترمذی، کتاب الدعوات، ۳۴۹۳) .

بلی، اسلام تنها به پناه خواستن از شر فقر و تنگدستی اکتفا نکرده است، بلکه برای احکام و رهنمودهای زیادی برای سد باب ناداری و گرسنگی دارد. صریح ترین و عمده ترین حکم شریعت اسلامی درین راستا زکات است، که رکن اسلام نیز است. شریعت می گوید :

تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ.

زکات از ثروتمندان مسلمان ها گرفته می شود و به فقرای شان توزیع می شود. (بخاری، کتاب الزکاة، باب وجوب الزکاة، ۱۳۳۱)

خداوند متعال می فرماید : وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ – الذاریات ۱۹ (الذاریات : ۱۹)

ترجمه : و در مال های ایشان حصه ای بود برای سوال کننده و بی بهره (که سوال نمی کنند). علما می فرمایند : این حق دائمی هم شده می تواند، مثلا زکات و دیگر صدقات وجوبی، و موقتی هم شده می تواند، مثلا مالیه که حاکم وقت در اثنای ضرورت از اتباع ثروتمند خود می خواهد .

نیز حکومت وقت مکلف است که برای از بین بردن فقر و تنگدستی، جلوگیری از بیماری ها و محو جهالت تلاش کند. مطالبات مالی آنست که فقها برای آن، اصطلاح نوازل یا نوائب را بکار برده اند، که به گونه پالیسی دولت و نظام وجود می داشته باشد و از نگاه بعضی علما، همین مالیه اساس برای کفالت عامه است.

بدون شک، رزق را خداوند متعال به ذمه گرفته است. حکومت یا زعامت اسلامی به اساس نیابت الهی، بر ایفای این ذمه مکلف است. همین رهنمودهای قرآن عظیم الشان و احادیث نبوی - صلی الله علیه و سلم - بود که خلفای راشدین برای انجام دادن این مسئولیت بسیار حساس و فکرمند می بودند، مثلا امیرالمؤمنین عمر فاروق - رضی الله عنه - می گفت : لو مات جمل ضياعاً على شط الفرات لخشيت أن يسألني الله عنه. اگر شتری در ساحل فرات هم بمیرد، می ترسم که خداوند متعال در مورد او از من می پرسد. (ابن سعد، الطبقات الکبری ۵۰۳/۳).

نظامی که برای کفالت عامه در شریعت اسلامی وجود دارد، در حیات پاک رسول الله - صلی الله علیه و سلم - عملا آغاز شده بود و ظرف چند سال حالت به حدی رسیده بود که زکات دهنده گان بودند، اما کسی نبود که زکات می گرفت. عمر فاروق - رضی الله عنه - در آخرین روزهای حیات خود تصمیم گرفته بود که به زودی نظامی را آغاز می کند که در نتیجه آن، فقر و بی بضاعتی را از بین می برد. او پس از فتح قادسیه در یک سخنرانی طولانی فرمود : حتی نستوی فی الکفاف، حتی ما حوائج اولیه را تهیه کنیم. اما واقعه شهادت عمر فاروق رضی الله عنه رخ داد و آن پلان تکمیل نشد.

علما «کفاف» یعنی تهیه حاجات اصلیه (مثلا غذا برای گرسنه گان، لباس برای برهنه گان و سرپناه برای نادارن) را نیز از مسئولیت های اصلی و بنیادی نظام و حکومت یاد کرده اند. اینجا ممکن شائبه ای در ذهن کسی پیدا شود که کمونیسم نیز وعده می داد که اشیای مذکوره را برای مردم فراهم می کند. آیا این شعار کمونیستی نیست ؟ واضح است که احکامی را که فقهای شریعت اسلامی درین مورد ذکر کرده اند، تنها حاوی این چند چیز نیست، بلکه صحت، تعلیم، امنیت، عدالت و مساعدت برای زندگی متاهلانه نیز شامل حاجات اصلیه است. از همینست که خلفای اسلام مصارف نکاح و ازدواج جوانان بی بضاعت را از بیت المال می پرداختند. عمر بن عبدالعزیز - رحمه الله - در اخیر هر سال فرمان صادر می نمود که اموال و اسباب اضافی/زائد از ضرورت که در بیت المال وجود دارد همه اش در عروسی پسران و دختران جوان خرج شود. در آغاز سال آینده، به عمر بن عبدالعزیز - رحمه الله - اطلاع داده می شد که پس از پرداخت مصارف عروسی ها، هنوز هم اینقدر مال در بیت المال مانده است. درین مورد چه می فرمائید ؟ فرمود : در عروسی پسران و دختران جوان غیر مسلمان مصرف کنید. پس روشن می گردد که اسلام برای رسیدگی به حاجات اصلیه مردم تاکید می ورزد.

تکمیل حوائج اصلیه مسلمانان بی بضاعت، واجب کفایی بر امت است. حکومت از سوی عامه مردم وکیل است و عموم مردم مؤکلین هستند. حکومت حوائج اصلیه را از طرف مؤکلین به حیث وکیل ادا می کند. ابن حزم حتی چنین می گوید : اگر نظام و حکومت به حوائج اصلیه مردم رسیدگی نمی کرد و مردم از فقر و بی چارگی به حالتی رسیده بودند که برای خوردن و پوشاندن خود چیزی نداشتند، حق دارند که برخیزند و زمام امور را به دست بگیرند. رسیدگی به حوائج اصلیه را کفاف گفته می شود. یعنی فراهم نمودن آن حوائج ضروری و لازمی که زندگی بدون آن ممکن نباشد بر حکومت وقت لازم است. پس از کفاف، درجه ضروریات است. ضروریات، ضرورت های لازمی و دائمی را گفته می شود. مثلا لباس ضرورت دائمی هر انسان است. پس ازان درجه حاجیات است. حاجیات ضرورت هایست که لازمی می باشد، اما لزوم آن نسبت به ضروریات کمتر می باشد، و عموما دائمی می باشد، اما بعضی اوقات غیر دائمی هم شده می تواند. پس ازان درجه تکمیلیات است، که حیثیت آن اضافی است، یعنی لامتناهی است. هر کس می خواهد حالت او خوب و خوبتر باشد. اما مزاج شریعت اینست که حاکم یا حکومت امکانات خود را برای کفاف و ضروریات خرج می کند و برای حاجیات دران صورتی اسباب خود را صرف می کند که وسائل فراوانی در اختیار داشته باشد. هرچه درجه تکمیلیات لا متناهی است و اگر کنترول نشود انسان به سوی عیش و عشرت میلان می کند. رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرموده است :

لو كان لابنِ آدم وادیانِ من ذهب لابتغی ثالثاً (بخاری، کتاب الرقاق، باب ما یتقی من فتنة المال، ۶۴۳۹) (ترمذی، کتاب الزهد) یعنی : اگر کسی دو وادی (دره) پر از طلا داشته باشد، وادی سوم طلب می کند. قرآن عظیم الشان می فرماید : وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ – العادیات : ۸ – ترجمه : و هر آئینه آدمی به دوستی مال سخت است. در جای دیگری می فرماید : وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ –النساء : ۱۲۸–

ترجمه : و حاضر است نفس ها بر بخل، یعنی حرص و بخل به منفعت مال در هر یکی جا گرفته است.

بناءً شریعت در درجه تکمیلیات حکم به اعتدال می کند و انسان ها را به استغناء، قناعت و زهد توصیه می نماید، تا کسی در درجه تکمیلیات از حدود تجاوز نکند. بلی، پس از تکمیل کفاف، ضروریات و حاجیات، باز هم اگر دولت اسباب و وسایل زیادی داشته باشد و در تکمیلیات خرج کند، باکی ندارد.

اینجا می خواهم به نکته دیگری هم اشاره کنم، که اسلام در عرصه مالی، مساوات من کل الوجوه را میان انسان ها رد می کند. یعنی مساوات مالی درمیان انسان ها غیر فطری است و همچنان تفاوت یکسره مالی نیز غیر فطری است. اسلام با هر دوی این حالت ها مخالف است.

زیرا خداوند متعال انسان ها را از یکدیگر مختلف آفریده است، مثلا صلاحیت های شان غیر متساوی است، اعمال شان غیر متساوی است و عادات و خصلت های شان غیر متساوی است، پس درآمد، عوائد و نتائج تلاش های شان نیز متفاوت و مختلف است. بناءً تقسیم متساوی جبری عوائد غیر فطری است. در نصوص زیادی، قلت و زیادت رزق ذکر شده و همچنان به قلت و کثرت کارها اشاره شده است.

این چیزی است که نظام اقتصادی اسلام را از کمونیسم تمییز می دهد. زیرا کمونیسم پرچم بردار مساوات غیر فطری است و اسلام علمبردار مساوات فطری است. بسیار این نکته لطیف را درک نمود. خوشبختانه، علمای کرام درین مورد مضامین مفصلی نوشته اند و نظام میانه رو اقتصادی اسلام را به حیث بدیل نظام کاپیتالیسم (سرمایه داری) و سوسیالیسم (مالکیت اجتماعی) پیش کرده اند، که تفصیل مزید آن اینجا گنجایش ندارد.

فشرده کلام اینست که رهنمودهای دین اسلام برای محو فقر و ناداری از جامعه مسلمان ها، نسخه های کیمیا است. تاثیری که تنها در نسخه عشر و زکات نهفته شده است، می توان در ظرف چند سال اثرات مثبت آن را برای نابودی فقر و تنگدستی مشاهده کرد، به شرط اینکه به گونه واقعی برای نفاذ آن تلاش شود و گام های جدی درین راستا برداشته شود.

هدف اینست که حصول قوت مالی و اقتصادی نقش حیاتی در پیشبرد هر نظام دارد. امارت اسلامی باید برای رشد و پیشرفت اقتصادی، لائحه و پالیسی جامعی داشته باشد.

روابط جهانی:

امارت اسلامی باید به روابط سیاسی، دفاعی، اقتصادی و تعلیمی خود با جهان بسیار متوجه باشد، پلان های را برای استفاده درست از تجارب جهان و علوم ساینسی و صنعتی آن ها به راه بیاندازد، نقش عمده ای را برای وحدت و یکپارچگی مسلمان ها ایفا نماید و طرح ایجاد بازار مشترک تجارتی، ارتش مشترک و پول مشترک را به کشورهای اسلامی پیشنهاد کند.

فعال داشتن سازمان اسلامی و یا فورم مؤثر دیگری به هدف ابراز موقف مشترک مسلمان ها در قضایای جهانی، از ضروریات مبرم این زمان است. تا در هر جایی که مسلمان ها مورد ظلم و شکنجه قرار دارند، تلاش های مثمر برای نجات آن ها صورت بگیرد.

روابط با غرب :

جهان اسلام در وسط قرن نزده میلادی، در نتیجه برپایی انقلاب و تمدن جدید مادی و صنعتی غرب، گرفتار حالت حساس و پیچیده ای شد. اگر چه ابراز موقف قاطع و یا رای واضح در مورد آن انقلاب و تمدن کار

ساده ای نیست. زیرا آن انقلاب با همه کمبودها، خامی ها و بی راهی ها، مواد مفیدی هم داشته است که استفاده سالم ازان، نتائج خوبی برای اسلام و جهان خواهد داشت. نیز استفاده خوب مسلمان ها از دستاوردهای تحقیقی، ساینسی و صنعتی اهل غرب، قباحت یا ممانعت شرعی هم نخواهد داشت.

تا اکنون سه گونه باورها در مورد تمدن غربی در جهان اسلام وجود داشته است. یکی باور منفی و سلبی است که جهان اسلام باید در برابر تمام دستاوردها و پیشروی های اهل غرب موقف بگیرد، به حرف های خوب و بد آنان گوش ندهد، از همه علوم و فنونی که غربی ها دران برتری دارند انکار کند، استفاده از علوم و تیکنالوژی جدید را حرام قرار دهد و از استعمال آلات، اسباب و مواد جدید ماشینی اجتناب کند.

مفکر اسلام و عالم ثقه مولانا سید ابوالحسن علی ندوی - رحمه الله - در مورد این دیدگاه می نویسد:

»هر آن کشوری که برای گریز از اثرات قوی تمدن جدید، گوش های خود را قفل و چشم های خود را می بندد، و یا آن تمدن را به گونه یکسره رد نموده، از دنیای محدود خود بیرون پا نمی گذارد، نمی تواند تا دیر زمانی در حالت معتدل و مطمئن باقی بماند. آن کشور با انقلاب های پیهم دست و گریبان می شود و جنبش های نافرمانی و خیزش های مردمی در بخش ها و کناره های مختلف آن کشور بروز می کند. زیرا این سرپیچی از آن فطرت بشری است که همواره به پیش نگاه می کند، طلبگار و خریدار چیزهای جدید می باشد و جذبه سربلندی، نیرومندی، تجدد و احیا در رگ های آن موج می زند. «

باور دوم عبارتست از شکست و تسلیمی در برابر تمدن غرب. حامیان این موقف به حد ایمان بر اصول مادی و اقتصادی غرب باور دارند. این موقف را بار نخست اتاترک در ترکیه تجربه کرد، او حتی اسلام و ایمان را هم تحقیر کرد و طرح ناکام تشکیل ترکیه جدید را در قالب تمدن غرب عرضه کرد. اما به سبب شناخت سیکولار آن، با واکنش تند مواجه شد و ناکام ماند. امروز امواج شدید بغاوت از نظام و مفکوره الحادی اتاترک دران جا مشاهده می شود و سیکولاران با ناکامی تاریخی رو برو هستند. زیرا این موقف با مزاج و حالت عمومی مسلمان ها مطابقت ندارد و مسلمان ها ازان نفرت دارند. مسلمان ها در بعضی کشورها (مثلا ترکیه و مصر) به سبب آن، از ارزش های دینی و ملی خود محروم شدند. حالانکه کشورهای آزاد و مستقل هیچگاه محرومیت از ارزشهای ملی و دینی خود را تحمل نمی توانند و این را مرادف مرگ ملی و اجتماعی خود می دانند. بناءً این موقف ناکام و رسوا شد.

موقف یا باور سوم اینست که مطلوب از خطر بودن تمدن غرب این نیست که استفاده از بعضی سهولت ها، ایجادات ساینسی و وسائل تفریحی غرب مطلقاً حرام پنداشته شود و دروازه های خود به روی آن بسته شود. حالانکه دین اسلام در مورد استفاده از هر مواد صالح و مفید، ذهن وسیع، چشم بینا و قلب گشاد دارد. البته، واقعیت اینست که مفهوم تمدن غرب بر علاوه از آلات، ایجادات و تجربه های مفید زندگی، حاوی معانی دیگری هم است. به الفاظ دیگر ؛ شامل افکار و اقداری نیز است که پذیرفتن آن از روح اعتدال و معیارهای طهارت و نظافت اسلامی بیگانه است و مسلمان ها را ازان زندگی اسلامی دور می کند، که نمونه اش را پیامبران خدا، رفقای شان و متبعین راستین شان بیان نموده اند.

بلی، خلا یا کمبود بزرگ جهان اسلام، نداشتن رهبر حوصله مند و مدبریست که با جرات، اعتماد و یقین برخیزد، تمدن غرب را به چالش بکشد و از میان قالب های مختلف آن و مکاتب گوناگون فکری، راه میانه ای جستجو کند. زعیم که از شخصیت کامل و جوهری برخوردار باشد می تواند راه میانه ای را برای مسلمان ها پیدا کند که از یکسو ایمانی داشته باشد که محض فیض نبوت است، دینی داشته باشد که خداوند متعال به واسطه رسول الله - صلی الله علیه وسلم - به امت اسلامی موهبت نموده، سرمایه علمی داشته باشد که به کشور، قوم و زمان خاص مخصوص

نیست، و از سوی دیگر، آن وسایل و آلات جهان غرب را نیز به دست بیاورد که اهل غرب پس از عرق ریزی ها و تلاش های طولانی بدست آورده اند، اما به سبب نداشتن ایمان و مقاصد شایسته، بر ضد بشریت به کار می برند.

من مطئمن ام که اگر رهبری امارت اسلامی برای تدارک این خلا و کمبود تصمیم بگیرد و با بصیرت اجتهادی خود چنان راه معتدلی را برای کشور و ملت خود انتخاب کند، که در روشنی اصول دینی، با اختیار کردن موقف استفاده از علومی که به هیچ کشور، قوم و زمانی مخصوص نیست، مقاصد علیای را برای پیشرفت مادی کشور تعیین کند، درین صورت توانسته است که وجیبه شرعی و ملی خود را برای پر کردن خلای بزرگ قرن جاری میلادی، به گونه خوب انجام داده باشد.

بلی، غرب را به حیث امام و رهبر نپذیرد و نه هم خود را شاگرد و مقلد آن بگرداند، بلکه آن را رقیب معاصر و آن رفیق سفر خود بداند که در اثر حالات خاص، در بعضی عرصه های مادی و اقتصادی پیشرفت کرده است، و درین رقابت اگر در بعضی موارد مسلمان ها به غرب نیاز دارند، غربی ها نیز در موارد زیادی محتاج مسلمان ها هستند.

امید است که امارت اسلامی با درک فرایض ملی و مسئولیت های دینی خود، با در نظرداشت ظروف و شرایط زمانی و مکانی، مسیر خوبی را برای پیشرفت ملت و کشور تعیین بتواند و فجایع چهار دهه ملت آزرده افغانستان را با ترقی و توسعه واقعی صنعتی و اقتصادی کشور جبران نماید.

نیاز به خدمات در عرصه آموزشی:

چقدری که اسلام و قرآن عظیم الشان بر اشاعت علم تاکید داشته، هیچ دین یا کتاب دیگری نداشته است. بنیاد نظام اسلامی بر دو نهاد معنوی گذاشته شده است. یکی عدل و دیگری علم. ویژگی یا نشان امتیازی جامعه اسلامی اینست که مهد علم و هنر بوده است. هر اندازه که علم در کشور و جامعه ای رشد می یابد و مردم آن به زیور علم آراسته می شوند، همان قدر ثبات، استقرار، رفاه و خوشحالی نصیب آن کشور و جامعه می شود و گلیم بدبختی های اجتماعی برچیده می شود. بناءً هر حکومت اسلامی مسئولیت دارد که برای اشاعت و ترویج علم زمینه سازی کند و در پهلوی علوم دینی، به حصول مهارت های دنیوی نیز بکوشد.

فقها در مورد اینکه مسلمان ها و حکومت وقت در کدام بخش ها باید مهارت داشته باشند، می نویسند : حکومت اسلامی برای تمام آن مهارت های که امت اسلامی به آن نیاز دارد، مردم را تربیه می کند. حتی مهارت در عده ای از امور بر مسلمان ها فرض کفایی است. رسول الله - صلی الله علیه و سلم - فرموده است : من صنع منکم شیئاً فلیحسنه، کسی که از شما چیزی بسازد، باید آن را خوب بسازد. اینجا لفظ صنعت آمده است. امروز چه اندازه که حصول علوم صنعتی اهمیت دارد و مسلمان ها به آن نیاز دارند، از کسی پنهان نیست. پس این فرموده رسول الله صلی الله علیه و سلم - که «صنعت» را بهتر بسازید و دران خوب بکوشید، به معنای اینست که اگر امروز کسی به خاطر عمل بر حکم رسول الله - صلی الله علیه و سلم - در صنعت خود خوب زحمت می کند، این کار او عبادت محسوب می شود.

امارت اسلامی باید با داشتن پلان جامع دست بکار شود و در پهلوی علوم دینی، برای حصول تیکنالوژی پیشرفته و علوم و فنون صنعتی نیز گام های عملی بردارد و تیم های مسلکی تربیه کند،تا در آینده امور تعلیمی کشور را مطابق با تقاضاها و میتودهای عصری، تنظیم و به پیش ببرد.

درپهلوی تعلیم ذکور، ترتیب ددن میکانیسم فراگیربرای تعلیم و تربیه طبقه اناث با در نظرداشت رهنمودهای دینی و اخلاقی اسلام، ضرورت مبرم وقت است، زیرا در بعضی بخش های مهم زندگی مثلا طب و تعلیم و تربیه، از ضرورت و اهمیت زنان انکار ممکن نیست. شریعت چنانکه حصول علم را برای مردان مهم

می داند برای زنان نیز مهم می داند. البته ؛ فراهم نمودن سهولت های حجاب و پرده مسئولیت نظام است. ما درین مورد نه تنها نمونه های از خیر القرون داریم، بلکه رسول الله - صلی الله علیه وسلم - نیز از زنان مشوره می خواست و آن ها را به کار می گماشت. محقق شهره دکتور محمد حمیدالله به حواله ابن حجر می نوسد : رسول الله صلی الله علیه وسلم - شفاء بنت عبدالله را که از نزدیکان عمر رضی الله عنه بود و با سواد بود، در مدینه منوره به کاری گماشته بود، و کاری را به او سپرده بود که با نوشتن و خواندن تعلق داشت. این بیانگر مزاج اسلام در مورد تعلیم و تربیه زنان است. بناً؛ ترتیب دادن میکانیسم جامع در مورد تعلیم زنان که دران به احکام اسلامی و عنعنات افغانی ارج گذاشته شده باشد، ضروری و از مسئولیت های عمده امارت اسلامی است.

نیاز به تقویت سنگر فرهنگی و مطبوعاتی :

عصر کنونی، عصر پیشرفت های شگفت آور ساینس و رسانه ها است. امروز هیچ نهضت و جریان جهان از رسانه ها و مطبوعات بی نیاز نیست، ضرورت و اهمیت میدیا در جهان معاصر مسلّم است. اما هنوز هم بعضی کوتاه اندیشان خدمت در بخش رسانه ها را بی ارزش می دانند، اما حقیقت اینست که رسانه ها نقش بسیار عمده ای را در جهان امروزی بازی می کنند.

کشورها و اقوامی که اهمیت میدیا را درک کرده اند، اگرچه از نگاه نفوس کم اند، اما امروز بر جهان حاکم هستند. مثال روشن این واقعیت «یهود» است. یهود از نگاه جمعیت از مسلمانان، مسیحیان، هندوها و بودایی ها بسیار کم هستند، اما رسوخ و نفوذ شان بالاتر از ادیان بزرگ جهان است. اگرچه برتری یهود اسباب و عوامل زیادی دارد. اما یکی از اسباب عمده اینست که میدیای جهان در دست آن هاست. آن ها کنترول رسانه های جهان را به گونه اتفاقی به دست نیاورده اند، بلکه زمام رسانه ها را در اثر پلان های پیهم و تلاش های مستمر در دست گرفتند. آن ها ۱۲۲ سال پیش فیصله کردند که اگر می خواهیم بر جهان غلبه یابیم، باید ذخائر طلا را به دست بگیریم و ذرایع ابلاغ را نیز در کنترول خود بیاوریم. ما باید هیچ روزنامه مؤثری را به دست دشمنان خود ندهیم، تا آن ها به خواست خود نشرات بکنند و نباید اجازه بدهیم که بدون سانسور و نظارت ما، خبری به جهان برسد. این پلان بعدا به شکل پروتوکول های یهود افشا شد.

یهودیان در راستای تعمیل پلان های خود برای غلبه بر جهان، بیشتر بر آن بخش میدیا تمرکز داشته اند که به نسل جوان اقوام تعلق می گیرد، تا سرمایه اصلی اقوام را دزدی،صلاحیت های سازنده آن ها را فلج و توان مندی قشر جوان را از بین ببرند. آن ها به این هدف بر علاوه از روزنامه ها و مجله ها، آژانس های بین المللی خبری هم ایجاد کردند. زیرا این وسیله بزرگی بود که می توانستند برای اهداف خود به کار ببرند. یهودیان از طریق آژانس های بین المللی خبری مغزها و قلب های ما را شستشو می کنند و از طریق فیلم ها، که بخشی از میدیا است، جوانان مسلمانان را به بی راهه می کشانند و افکار و خیالات خود را به اذهان آن ها تزریق می کنند، تا به اشاره یهود کار بکنند و ذهنا غلامی یهود را بپذیرند. آن ها با فیلم های دو ساعته می توانند، عقل جوانان ما را فلج و سیرت شان را مسخ بگردانند. در حالی که استادان سال ها و ماه ها را برای تعمیر آن صرف می کنند.

اثرگذاری سحرآگین رسانه های چاپی آنقدر برای یهود اهمیت دارد،

که هر نهاد و اداره یهودی، ده ها روزنامه و هفته نامه ها را چاپ می کند. «دی نیوز هاوس» شرکت نشراتی یهودی ها هست. این شرکت ۲۶ روزنامه و ۲۴ هفته نامه را چاپ می کند.

اکنون پنج شرکت بزرگ رسانه یی در جهان وجود دارد. صاحبان امتیاز، مسئولان و مدیران این شرکت های دیوهیکل یهودی هستند. «والت دزنی» در رتبه اول قرار دارد. تمام مسئولان، تهیه کننده گان و مسئول مدیران این شرکت یهودی هستند. «تائم وانر» دومین شرکت بزرگ در عرصه میدیا است. تمام کارمندان خورد و بزرگ این شرکت یهودی هستند. «پیراماونت پکچرز» سومین گروپ بزرگ رسانه یی جهان است که تمام کارمندان آن نیز یهود هستند. «نیوز کارپوریشن» چهارمین شرکت بزرگ در عرصه میدیا است. این شرکت نیز در دست یهود است. شرکت پنجم «سونی» از جاپانی ها است. اما یهود کوشش دارند این شرکت را نیز بخرند.

نمونه دیگری علاقه مندی یهود با میدیا اینست که اکنون دو هزار یهودی در جاپان زندگی می کنند، هزار تن آن ها کسانی اند که به شکلی از اشکال به میدیا وابسته اند.

می آیم به اینکه امارت اسلامی از کدام جهت و با کدام استقامت که از ۲۵ سال به اینسو کار می کند، و با چقدر جرات، صبر و حوصله مندی به مبارزه خود دوام داده است، لازم است که توجه خود را به عرصه میدیا بیشتر مبذول بدارد و از میدیا برای خنثی نمودند دسایس و عزائم دشمن به عنوان وسیله مؤثر عصری استفاده کند. باید استعدادهای با حوصله، با تدبیر، زیرک و هوشیار را برای این عرصه انتخاب کند و از نگاه مادی و مالی سرمایه بزرگی را بر آن ها به خرج بدهد.

میدیای امروزی سه بخش یا میدان بزرگی دارد. یک بخش مهم آن میدیای چاپی است. اگرچه این کهن ترین بخش میدیا است، اما تا اکنون ارزش خود را نگه داشته است و با وصف ایجادات تازه ساینسی هنوز هم اهمیت و مؤثریت آن باقی است. هر روز صدها هزار روزنامه ها، مجلات و هفته نامه های خبری و تبلیغاتی از چاپ می براید و ملیون ها انسان ها آن ها می خوانند.

بخش دوم، میدیای برقی است. این هم میدان داغ میدیا است. صدها هزار کانال های رادیو و تلویزیون از یکسر جهان تا دیگر سراسر جهان موج می زند و دنیا را به سر خود بالا کرده است. این میدیای برقی است و هر کسی ازان به فایده خود کار می گیرد و بر ضد دشمنان خود پروپاگند می کند.

طخش سوم رسانه های اجتماعی است، که آسان ترین، ارزان ترین و کوتاه ترین راه برای رساندن تبلیغات است. این وسیله ایست که به آسانی می توان به آن دست یافت و ذریعه مهم تبادله معلومات و به دست آوردن معلومات در جهان است. صدها ملیون نفر ازین راه خبر به دست می آورند و برای پروپاگند برضد مخالفین خود بکار می برند.

امارت اسلامی که در هر سه عرصه موجودیت مؤثر و در هر بخش تیم های فعال دارد، باز هم با توجه به مسئولیت فراگیر امارت اسلامی به کار بیشتری نیاز است. باید این سنگر مؤثر بیشتر مجهز شود. استعدادهای جوان و با تجربه سرپرستی شوند و جوانانی که درین عرصه به کار گماشته شده اند، باید برای تطهیر اذهان آن ها پروگرام های تربیوی و سمینارها دائر کند. تعمیر اذهان آن ها به مواد مفکوره یی مصالح اسلام، افغانستان و مسلمان ها ضورروی است. نیز کمیسوین امور فرهنگی باید برای کاربران شبکه های اجتماعی حدود اخلاقی مقرر کن، زیرا بیشتر مبارزین شبکه های اجتماعی معیارهای اخلاقی را رعایت نمی کنند و می کوشند جانب مقابل را با دشنام و تندگویی خاموش سازند. چون امارت اسلامی یک مسیر متعهد و دینی است، لازم است که متخلفین شبکه های اجتماعی را مهار کند و شهسواران رسانه یی خود را به مزایای فکری و اخلاقی مجهزبسازد.

دسوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه

د اسلامي حکومت واکونه اومسؤلیتونه

۳مه برخه

م: ش: منصور

ظاهرپرستان یا سطح بین خلک چې کله دا ویني چې دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه وروسته بل هیڅ مسلمان واکمن دهغه پشان ساده ګې یاسختې په ځان نده زغملې،او یا هغسې سخته اوتنګه کومه چې سیدنا ابوبکرصدیق رضی الله عنه به په ځان تیروله ،وروستنیو واکمنوپه ځانو ل نده تېره کړې، نوهغوی له اسلام څخه په انحراف تورنوي؛حال داچې داله اسلامه انحراف په دې ندی،که یوواکمن یامامور شخص هغه ته ورسپارل شوې دنده یا وظیفه په سمه اوپوره توګه سرته رسوي اوپه مقابل کې یې خپل تول معاش اخلي، شرعاً دا نه تنهاچې روا دی، بلکې یوغوره عمل هم دی اوداخبره چې یوواکمن یامسؤل شخص باید دخپل معاش یوڅه برخه بیرته بیت المال ته دي وسپاري،نودامحض پر هغه پورې اړه لري، دایې ذاتي اوشخصي- فیصله ده،اویې له شکه! دادمسؤلیت اوتقوی لوړ معیاردی چې هرتن کولی شي پرې فایزشي،هو! داغوښته کول چې هرسړی دي خامخا داسې و کړي دشریعت حکم ندی!

اګرکه سیدناعمرفاروق رضی الله عنه پخپله زمانه کې دمعاشونو نظام برابرنکړ ،اوپه اسلامي خدمتونوکې د صحابه ووتقدم اوتأخرته په کتوبه یې معاشونه کم و زیات ورکول، لیکن دخپل ژوند مبارک په وروستیوشپو ورځوکې داوانګیرله چې په عطاياوو کې کمی زیاتی مناسب ندی اوصحیح طریقه هغه وه کومه چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه غوره کړې وه، یونیم کرت یې داهم وفرمایل چې: هغه طریقه یا غوره کول پکارده! اوویې فرمایل:که راتلونکی کال ژوندی وم ترټولو کم معاش به دټولو لوړمعاش سره برابروم، اوهرعام عسکرته به دوه زره درهم د معاش په توګه تاکم،اوپه خدای سوګندځوچې په بیت المال کې زیاتوالی راځي، هغومره به زه په معاشونوکې هم زیاتوالی راولم، هرڅومره مال چې راځي خلکوته به هغومره ورکوم، که دومره مال راغی چې شمارل کیدای نشو، نولوښي به ډکوم اوخلکوته به یې ورکوم، اوکه په دې هم ونشوه، نوبوجی(کڅوړې) به ډکوم اوپرخلکو به یې ویشمه، ځکه دادعامو خلکو مال دی ،دهغوی وسائل دي،اوبیرته یې هم دوی ته رسول پکاردي (سیاسة المال فی الاسلام ۲۱۵مخ)

له دې څخه ښکاري چې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه غوښتل، دعامة الناس په وسائلوکې هیڅ کمی را نشي، که حکومت سره وسائل وو،نو پوره به یې استعمالوي، څو هرسړي ته یې ګټه ورسي، په یوه بله موقع یې وفرمایل:که تر بل کاله ژوندی وم، دهرعسکر معاش به څلورزره درهمه تاکم ، زردرهم ددې لپاره چې ځان لپاره غوره نه غوره وسله واخلي،زردرهم دیې دذاتي مصرف لپاره او زردهم یې دکاله دمصرف لپاره او زردرهم داسوتو روزلو لپاره (الطبقات الکبری ۳ټوک ۲۹۸مخ)

غالباً دادحضرت عمرفاروق رضی الله عنه دژوند دوروستي وخت خبرې دي، چې غوښتل یې د«مساعدتونو» په نظام بیا له سره غوروکړي،عبیده سلماني مشهورتابعي اوددې روایت راوي دی،دعلماوو په وینا:نوموړي دحضرت عمررضي الله عنه سره په وروستي وخت کې لیدلي،او وړاندې یې ور سره دلیدلو امکان کم دی،اوممکن حضرت عمررضی الله عنه ته وړاندې دخپل دې خواهش دپوره کولو موقع نه وه مندلې، چې د کمې درجې معاش یې دلوړې درجې له معاش سره مساوي کړی وای «لأُلحِقنَّ

اخِرالنـاسِ بِـاَوَّلِهِم حَتّـى يَكُونُـوافِي العَطَـاءِ سَـواءً(عصرـ الخلافـة الراشـده:۱/۲۲٦مـخ، فصـل الخطـاب فـی سـیرة عمـربن الخطـاب ۱/۲۵۰مخ)

زه به خامخا دکمې درجې عسکرو معاش د دلوړې درجې عسکرو دمعاش سره برابره وم، څو پـه کومـک ترلاسـه کولـو کـې تول برابرشي

کله چـې دحضـرت عمررضـی اللـه عنـه وروسـته حضـرت عثمان غني رضی الله عنه خلیفه شو، نودا طریقه یې جاري وساتله چې په معاشونو کې ددرجو او مراتبو په حساب فرق کیده

دحضـرت علـی رضـی اللـه عنـه دورې بـاره کـې دوه ډولـه روایتونــه منــدل کېــږي، یــو داچــې دهغــه ډیــره زمانــه پــه ګډوډیواوبیړنیوحالاتوکې تېره شوې،دهغوپه وجه په قطعیت سره داویل ګران دي چې دنوموړي په دوره کې دعسکرومعاشونه سره برابر وکه کم وزیات ؟ یو روایـت چـې ډیرمشـهوردی دادی چـې دټولو معاشونه برابر وو، دځینو په اند:چې نه! برابر نـه وو،بلکـې پـه پخوانۍ پالیسی یې عمل کاوه، کومه چې دحضـرت عمـر رضـی الله عنه له زمانې څخه را روانه وه، نوپه هرصورت که علـي رضـی الله عنه معاشونه برابرکړي هم وو خودهغه وروسته برابرپاته نشـول بلکې بیا هم یکې دکم وزیات امتیاز رامنځته شو

کوموځیزونوتـه چـې «عطـاآت» ویـل کېـدل، پـه هغـو کـې مجاهدینو ته په معاشونو ورکولو سربیره دپس مانده ګـانوسره یـې هــم مســاعدتونه کیــدل، دمجاهدینوڅخــه عــلاوه دحکومــت دټولومـامورینو معاشـونه هـم دبیـت المـال څخـه اداء کیـدل، لـه معـذورینو اوناروغـانو سره هــم دبیــت المــال څخــه کومکونــه کیدل،هم هغوخلکوته چې هغـوی پخپلـه ځانونوتـه روزې ګټلـی نشوه، که مسلمانان وو او که عیرمسلمانان؛ ټولو تـه لـه بیـت المـال څخه لګښتونه ورکول

دحضرت عمر رضي الله عنه څخه وړانـدې پخپلـه درسـول الله صلی الله علیه وسلم له زمانې څخه داسلامي اقتصاد یوه اهمه شعبه«حسبه» وه حسبه یـوه هغـه جـلا اداره وه، چـې نیمـه قضـائي واکونه یې درلودل،اوپه عامه توګه به یې دټولنیز انصاف،اجتماعي اخلاقو، اوداسلامي حکومت داجتماعي اهدافو څخه ساتنه کولـه خو ددې مسؤلیتونو دسرتـه رسـولو ترڅنګ دبازارونوڅخـه کتنـه کول یې همه وجیبه وه،دسوداګری څارنه یې هم کوله څو بازارکې چا سره ظلم وزیاتی ونشي ،څوک ملاوټ ونکـړي، چـاسره دوکـه ونشي- پـه دې توګـه دژونـد ټولـو چاروڅارنـه او نګرانـي« حسبه اداري» کولـه، پـه دې وجـه موږ ویلـی شـو چـې د«حسـبه نظـام» داسلام داقتصادي نظام سره ژورتعلق لري، دبازارلپاره بـه محتسـب جلا شخص و، دزراعت لپاره محتسب به جلا شـخص و، دعـامو کمزورو اوبې وزله انسانانو لپاره به جلا شخص محتسب و، بلکـې څـارویو سره انصـاف کـول هـم دحسـبه اداري پـه فرایضـو کـې شمارو، څو په څارویو ظلم ونشی، ورسره زیاتی ونشي او په هیڅ څاروي باندې دهغه داسـتطاعت څخـه بیـرون بار،کینښـودل شي، داڅارنه دحسبه اداري لخوا کیده،ځکه رسول اللـه صـلی اللـه علیـه وسلم یواځې انسانانو لپاره رحمت لیږل شـوی نـدی بلکـې دټـول کائنـات لپـاره « رحمـة للعـالمین » لیـږل شـوی ، نوپـه پورتنیـو برخواوشعبوکې نظارتونه دحسبه اداري لخوا ترسره کیدل

نن سبا ددې لپاره چې اقتصادي پالیسـې ښـه بـاوري کـړای شي پـه اړه یـې جـلا اداري جـوړیږي اوهغوتـه واکونـه ورکـول کیږي،هغه واکونه (حسبه)اداري ته ددې لپاره ورکـول کېږي،څو داداري اواقتصادي پالیسیو دڅارنې فریضـه سرتـه ورسـوي، اوپـه ورباندې عمل کول یقني وګرځوي

داسلامي حکومت یوه اهمه ذیمواري د«احیاء الموات» هم وه، یعنې دمړو زمکوژوندۍ کولو ده، په دې باره کې ګڼ احادیث راغلي کوم چې په صـحیح بخـاري اونـورو کتـابونوکې شته اوپـه مختلفو الفاظو سره روایت شوي دي لکه« من احیاَ اَرضاً مَیتَةً فَهِی لَہٗ» چاچې کومه زمکه اباده کړه هغه دهم هغه لپاره ده، « من عَمَـرَ اَرضــاً لَـیسَ لِاَحـدٍ فَهُـوا اَحَـقُّ بِهَــا»(مســند احمــد، کتــاب المزارعة۸/۴۱۴مخ، سنن البیهقي کتاب احیـاء الامـوات، بـاب من احیاارضامیتة) چاچې کومه داسې زمکه اباده کـړه چـې هغـه دبـل چانه وه، هغه دهم هغه حق ده

ددې احادیثو په رڼاکې فقهاووچې کوم احکام مرتب کـړي دي، په هغوکې دراشدینو خلفاوو رضی الله عـنهم عملونـو تـه پـه کتولـوی شـمیر فقهـاوو لـه دې رایـې سره اتفـاق کـړی دی چـې دحکومت داجازې پرته هرڅوک کـولی شي چـې دحکومـت پـه اجازه یوه غیرمملوکه زمکه پخپل تصرف کـې راولي،اوهغـه پرتـه دکومې بیې پرې کولو څخه خپله کړي خوکه د درې کلو په مـوده کـې هغـه سـړی دهغـه زمکـې پـه ابـادولو کـې کامیـاب نشـو،بیا حکومت واک لري چې یا ورتـه نورمهلـت ورکـړي اویـا ورڅخـه هغه زمکه واخلي

مشهورصحابي بلال بن حارث المزني (دامؤذن حضرت بلال رضی الله عنه ندی)ته رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې تـه نیـږدې د«عقیـق پـه سیمه» کـې یولویـه زمکـه ورکـړه، صحابه ووعرض وکړ، دالله رسوله! پـه دې زمکـه کـې خـو فلاتـی فصل کرل کیږي، کوم چې دعامو خلکو لپاره هـم ضروروي دی که دا یواځې دیو سړي سره پاته وي،اثربه یې ښه نه وي،رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه زمکه له هغه بیرتـه واخیسـته او یـوه بلـه زمکه یې هغه ته ورکړه اودابادولو وعده یې ترې واخیسته، خوهغه

اباده نکړای شوه،حضرت عمرفاروق رضی الله عنه چې کله ولیدل، حضرت بلال بن حارث هغه زمکه اباده نکړه، له هغه یې بیرته واخیسته اونورومسلمانانوته یې ورکړه (کنزالعمال: ۹۱۶۵)

دزمکو ویشلو تفصیلات داحادیثو په کتابونوکې شته، په خاصه توگه ددولتي او غیردولتي زمکو ورکولو تفصیلات دحدیثو،اوفقهې په کتابونوکې په ښه تفصیل سره راغلي دي،رسول الله صلی الله علیه وسلم اوددرې راشدینو خلفاوودزماني گڼ شمیر نظایرامام ابویوسف،امام عبد الرزاق،یحیي بن ادم، اوامام ابوعبید رحمهم الله لخوا په کثرت سره نقل شوي دي،تقریباً دحدیثو په ټولو کتابونوکې ځای په ځای دا واقعات بیان شوي دي ددې ټولو نه دانتیجه راوځي چې دشریعت هدف دادی چې هیڅ یوه دولتي زمکه بې عائده دې پاتې نشي، اوهیڅ شاړه زمکه دې تل شاړه پاتې نشي، دا پر هغو اصولو دعمل کولو یو ښه صورت دی چې وسائل باید پوره استعمال شي زکه چې په ټولنه کې دوسائلو په استعمال کې څومره زیاتوالی راځي، ورسره هغومره په ټولنه کې خوشالي رادرومي،اودحکومت په عوائدوکې هم دزیاتوالي باعث گرځي اود«کفاف» درجه خوباید هرچاته حاصلوي

په اقتصادي ضرورتونوکې «کفاف» لومړی درجه ضرورت دی،مراد ترې کم نه کم اوهغه ضروري حاجت دی چې هغه هرانسان ته په سملاسي توگه مطلوب دی،دکفاف وروسته دوهمه درجه د«ضروریاتو» ده، هغه ضرورتونه چې نوعیت یې دلازمي اودائمي ضروت دی؛ هغه دائمي او لازمي دی لکه لباس دانسان لپاره یودائمي ضرورت دی، داسې نده چې چا نن لباس پیدا کړ،بس دټول ژوند لپاره دهغه ضرورت پوره شو،بلکې لباس ته ضرورت همیشني اولازمي دی،داسې زمانه کله هم نه راځي چې پکې دې انسان لباس ته ضرورت ونلري،دهغه وروسته دریمه درجه د«حاجیاتو» ده،داهم لازمي درجه ده، خو ددې لزوم دضروریاتو درجې څخه کم دی اودهغې په مقابل کې کمه درجه لري،عموماً دائمي ده، خوپه ځینو وختونوکې غیردائمي هم ده، څلورمه «دتکمیلیاتو»درجه ده،ددې حیثیت اضافي دی،دا متناهي کیدای شي،هیڅ انتها نلري، زکه هرسړی داغواړي چې حالت یې له ښه نه؛ ښه شي،داسلامي شریعت رجحان اومزاج دی «کفاف اوضروریات» حکومت به وسائل استعمالوي، دحاجیاتو لپاره ، حکومت به په هغه اندازه وسائل لگوي چې په څومره پیمانه ترلاسه شي ، دتکمیلیاتو درجه چون لامتناهي ده که کنټرول نشي او محدوده نشي نو ناسم رجحان به رامنځته کړي په یوحدیث کې راغلي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: لوكانَ لاِ بن آدمَ وَادِيَانِ مِن ذَهبٍ لابتَغى ثَالِثًا(بخاري کتاب الرقاق باب مایتقي من فتنة المال(۶۴۳۹) ترمذي کتاب الزهدباب ماجاء،لوکان لابن ادم(۲۵۰۸)

که دادم دکوم څوی سره دوه وادیانې له سروزرو دکې هم شي،بیا به هم هغه د دریمې مندلو پسې لالهاند وي، دا دانسان مزاج دی دقرآن پاک ارشاددی: وَاِنَّه لِحُبِّ الخَيرِ لَشَدِيد(العادیات: ۸) دمال سره دانسان سخت محبت دی، وَاُحضِرتِ الانفُسُ الشُّحَّ(النساء ۱۲۸)دبخل اومال محبت دانسان په زړه کې کېنول شوی دی

نودحکومت دمسؤلیتونوڅخه یومهم مسؤلیت«کفاف» دی، په کفاف کې اساسي درې څیزونه لازم او په هرحال کې شامل دي، وږي ته ډوډی ورکول،بې لباس ته لباس ورکول، اوبې کوره ته کور ورکول، دادټول امت په ذمه «واجب علی الکفایه » دی چې دافرض کفایه به دعامو خلکو له لوري دوخت حکومت سرته رسوي زکه حکومت دعامو خلکو وکیل دی اوعام خلک یې «مؤکل دي،په دې وجه یې دمؤکل له اړخه یې وکیل سرته رسوي، علامه ابن حزم څوتردې پورې لیکلي: که دوخت حکومت دامسؤلیتونه نه اداء کول، اویایې په سرته رسولو کې کوتاهي اوناغیرې کوله اوپه ټولنه کې داسې خلک شتون درلود چې هغوی ته په مړه خیټه ډوډی نه رسیده، داسې خلک موجودوو چې هغوی دځپلوبدنونوپټولو لپاره لباس نه لاره، اوداسې خلکو شتون لاره چې دهغوی سرپناه نه وه،نوعام وگړي حق لري چې پورته شي او په زوره دوخت دحکومت نه خپل حقوق ترلاسو کړي توربیا

هوکې ! هغه رښتیا مېړنی و

شهید مفتي عبدالوکیل ایوبي تقبله الله

ثناءالله معصوم

چا رښتیا ویلي چې: "مېړني مري خو! تاریخ یې نه ! "، مېړانه د تاریخ د باب هغه شفق او سورخي ده چې په تېره کې یې تر شاه ډېر داستانونه پرېښې، له پېړیو راسې مېړنیو دغه سورخي د خپلو وینو په رنګ تازه ساتلې ده، د مېړاني تاریخ یې د راتلونکو نسلونو اذهان او افکار د غلامۍ له تیارو ژغورلی شي خو! چې د هغوی پر پله یې ګام کېښود.

همدا لامل به وي چې د افغانستان خاورې، هوا او اوبو رالوی کړي رښتوني افغانان د مېړانې او ننګ د ښوونې او روزنې اړتیا نلري، بلکې هغه د یوې انرژۍ په توګه د مور له شېدو اخلي، له زېږ سره سم پرې تر دوو کلونو تغذیه کېږي، ورسره مو تېرو پرګنو دلته د اوږدو استعمارونو او امپراطوریو پر نړولو راته د مېړانې او ننګ تاریخ جوړ کړی، په دې ډول اوس موږ عقیده یو چې کوم ملت د خپلو مېړنیو اسلافو تاریخ تعقیب کړي هیڅ زور او زوړور یې خاوره نشي اشغالولی.

دلته د یوې سترې جهادي ساه او ستومانه مجاهد وجود پر ژوند غږېږو، هو! مفتي عبدالوکیل ایوبي صاحب تقبله الله چې له الله تعالی سره کړې وعده پوره کړه او اوس زموږ ترمنځ نشته.

پېژندنه:

شهید مفتي عبدالوکیل ایوبي تقبله الله د الحاج مولوي محمداکبر زوی د مرحوم حاجي امیرالدین لمسي پر۱۳۵۷هـ ش کال چې له۱۹۷۸زېږدیز کال سره برابر وه د لوګر ولایت ازرې ولسوالۍ د جانخیلو کلي په یوه دینداره، علمي او جهادي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې، پرهمدې کال چې تازه مو پر هېواد شوروي یرغل کړی وه کورنۍ یې د هجرت په لړ کې د ګاونډي هېواد د پېښور بډه بېر سیمې ته ګډواله شوه چې لا تر اوسه هملته ده.

علمي بهیر:

شهید مفتي عبدالوکیل ایوبي صاحب تقبله الله لومړنۍ عصري زدکړې تر نهم ټولګي د کډوالو پنډغالي په یو مکتب کې تر سره کړې، دیني زدکړې یې لومړی له خپل والد صاحب څخه پیل او بیایې د پېښور په بیلابېلو مدرسو کې ترلاسه کړې چې درېیمه درجه او د څلورمې درجې ځیني کتابونه یې د پېښور خیبربازار په دارالعلوم سرحد کې ولوستل او نور یې د اسلامي امارت له سقوط وروسته د پېښور باغبانانو په نور المدارس مدرسه کې وویل، پاتې فنون یې هم د پېښور په جامعه زبېریه کې له شیخ عبدالغني صاحب او قاضي محمدامین صاحب سره سرته رسولي وه.

پر۲۰۰٤زېږدیز کال یې د پېښور ځمکنډۍ په مرکزي دارالقراء کې وړه دوره له مرحوم شیخ الحدیث سراج الدین رحمه الله څخه وکړه او پر۲۰۰۵زېږدیز کال یې د پېښور صدر په جامعه امداد العلوم کې د حدیثو (لویه) دوره له نامتو محدث شیخ الحدیث حسن جان مدني شهید رحمه الله څخه وکړه او همدلته یې د ممتاز سند پر ترلاسه کولو د عالمیت پګړۍ وتړله.

وروسته یې پر۲۰۰۶زېږدیز کال د آسیا دوهمې سترې علمي یونیورستي (دارالعلوم حقانیه اکوړه ختك) کې د دوه کلن نصاب فقهي تخصص (تخصص في الفقه) لپاره داخله وکړه او پر۲۰۰۸کال یې د فقهي سند تر لاسه کړ، له هغه وروسته یې د بډه بېر سیمې په جامعه عمریه مدرسه کې څه موده د د دوهمې او درېیمې درجې کتابونه تدریس کړل او زیات ورته جهادي چارو پرېښودو، نوموړي په تصوف کې هم له مشهور بزرګ، ولي کامل حضرت مولانا عبدالسلام "پیرسباق" باباجي صاحب رحمه الله څخه لاس نیوی کړی و.

مفتي صاحب تقبله الله چې د لوړ علمي ذوق څښتن و جهادي چارو کې له بوختیا سربېره یې لیکنو ته هم پوره پاملرنه درلوده او له توري سره یې د قلم نېزه تېره ساتلې وه، نوموړي د تخصص پر مهال د ګڼو فقهي پوښتنو د ځوابولو ورهاخوا پراخې علمي څېړنې هم وکړې چې دوه کلن نصاب فقهي تخصص یې پرې څه کم دریو کلونو ته وغځېد او په دې موده کې یې د (فقه العباد، البشارة علي

مسئونية الاشارة، مروجه قضاء عمري) او (د توپې/خولۍ احکام د شریعت په رڼا کې) څلور اثار ولیکل چې چاپ شوي هم دي، لومړی اثر یې د جهاد پر موضوع او دوهم د مسبحه ګوتې پورته کولو پر موضوع غوره لیکنې دي.

جهاد او مسئولیتونه:

شهید مفتي عبدالوکیل ایوبي تقبله الله د هېواد له اصیلو، تاندفکره او ویښ ضمیره خوانانو څخه و، هغه له وروکتوبه له جهادي ولولې سرشاره او د یو داسې وخت په انتظار و چې پکې خان عملاً د جګړې په ډګر وویني، همغه و چې دغه تنکی زلمکی طالب چې عمر یې د۱۸او۱۹کلونو ترمنځ و پر۱۹۹۷زېږدیز کال د هجرت له ټاټوبي هېواد ته راستون او دلته د شته شر او فساد پر وړاندې له اسلامي امارت سره یوځای شو.

نوموړی په لومړیو کې د فرد په حیث جهاد کې برخه لرله، وروسته له کم عمرۍ، سربېره څه موده په نظامي خطونو او استخباراتو کې پر دندو هم پاتې شو، د۱۹۹۹زېږدیز کال په وروستیو کې د شمال تخار ولایت خواجه بهاوالدین ولسوالۍ په جګړه کې اسیر شو او بیا (۹) میاشتې وروسته ازاد شو او د هجرت ټاټوبي کې یې خپلو زدکړو ته دوام ور کړ.

د صلیبي یرغل او د اسلامي امارت سقوط د مهال شرائط خورا سخت و چې ځیني مجاهدین شهیدان، زخمیان او د دښمن پر لاس اسیران شول، ځینو پاتې نیمګرو زدکړو ته مخه کړه، ځیني نورو د مشرانو تر نوي أمر پورې انتظار وکړ او یواځې یوې برخې له مادي وسلو او وسپلو پر تش لاس خو پر ایماني زور او خواک مجهزو خوانانو د اشغال له لومړۍ ورځې ورته سنګر ونیو، یواځې همدا ایمان و چې پرې هغوی د جګړې پر ډګر لوېدل.

له دوی څخه یو هم د لوګر غیرتمنې او جهاد پالې غېږې شهید مفتي عبدالوکیل ایوبي تقبله الله و چې د اشغال پر وړاندې یې د مېړانې کمربند تر ملا وتاړه او د نوي جهادي بهیر له پیله یې د سیمې له مجاهدینو سره پر همغږۍ، هلې ځلې پیل کړې، هغه مهال چې د امکاناتو په تناسب خال خال چریک بریدونه د لومړنیو عملیاتو او نوې جګړې پیل په توګه کېدل، نوموړي د سبقونو ترڅنګ له اخترېزو، کلنیو او ځیني نورو رخصتیو په ګټه اخیستنه ورکې فعال سهم درلود.

وروسته چې د مجاهدینو جګړه ایز امکانات پراخ شول عملیات ورځ تربلې ګرندي کېدل او بڼه یې بدلوله، شهید مفتي صاحب تقبله الله هم پر ولسوالیو، بېزونو او مراکزو باندې تعرضونو، د دښمن پر ګزمو، پلي او موټریزو کتارونو بریدونو، د لارې غاړې ماینونو، لویو ورو تکتیکي چاودنو او له دښمن سره مخامخ نښتو او کمینونو په بڼه پر خورا بریالیتوب ګڼ عملیاتي فعالیتونه ترسره کړل او ډېرې قربانۍ یې ورکړې چې دلته یې راوړل او ترې یادونه ګران دي.

مفتي صاحب تقبله الله د جهاد په لاره کې ډېرې سرې تودې هم ګاللې وې، لکه د تخار خواجه بهاءالدین ولسوالۍ کې د اسارت یادونه مو یې وکړه، دغه راز پر۲۰۱۶زېږدیز کال د لوګر حصارك ولسوالۍ په عملیاتو کې چې د هغه په مشرۍ ترسره شول پر سر او اوږه ټپي شو، درې خله د ازرې ولسوالۍ منګل سیمه کې دښمن پرې چاپه و وهله چې هغه ترې روغ ووت، د عملیاتو، جهادي سفرونو، کمینونو او... پر مهال یې لوړو خطرونو، سترو ستومانیو او سترو ستونزو ته خان ور کړی و.

د نوموړي قربانیو، لوړې جګړه ایزې وړتیا او تجربې ته پر کتو پر۲۰۱۱زېږدیز کال د سیمه ایزو مجاهدینو یوه ډلګۍ ور وسپارله شوه چې تر شهادته یې مشرې ور له غاړې وه، له دې پرته یې د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د منځنۍ رتبې دندې هم ترسره کړې دي چې پر۲۰۱۲زېږدیز کال د ازرې ولسوالۍ پر استازیتوب د نظامي کمېسیون د غړي په حیث، پر۲۰۱۳زېږدیز کال د همدې ولسوالۍ د نظامي مسئول معاون په توګه، پر۲۰۱۴زېږدیز کال د محمدآغې ولسوالۍ نظامي مسئول، پر۲۰۱۶زېږدیز د لوګر ولایتي کمېسیون غړي په حیث دنده ترسره کړه.

پر۲۰۱۷زېږدیز کال د ننګرهار ولایت بټې کوټ ولسوالۍ نظامي مسئول او ورسره پر یو مهال د همدې ولایت چپرهار ولسوالۍ د نظامي خط مسئول وټاکل شو، پر۲۰۱۸زېږدیز کال د ازرې ولسوالۍ نظامي مسئول، پر۲۰۱۹زېږدیز کال د اسلامي امارت مشرـ تابه لخوا د (کنړ، ننګرهار، لغمان، نورستان) څلورو ولایتونو د حلقې غړی او ورسره هممهاله د کنړ ولایت د خوارجو (داعشیانو) پر وړاندې د نظامي خط (محاذ) مسئول په حیث وټاکل شو او هم د کاپیسا ولایت د معاون دنده ور له غاړې شوه، نوموړي ټوله موده خپلې دندې پر بشپړ اخلاص او بریالیتوب سرته رسولې.

شخصیت:

شهید مفتي عبدالوکیل أیوبي تقبله الله د جذابې او خندنۍ څېرې، غښتلو متو، صلب وجود او د نګ خوان وه، نوموړی د ژورې پوهې، پیاوړي منطق او استدلال پر بنسټ غوره داعي او بلونکی او په دریخ او پلان کې نه ماتېدونکی شخص و، د هېواد د

ازادۍ او دلته د اسلامي نظام حاکمیت په لاره کې له هیڅ ډول قربانۍ او فداکارۍ څخه مخ نه گرځاوه، هغه پر یو وخت هم د سنگر، هم د قلم او هم د ممبر سړی وه.

مفتي صاحب تقبله الله د لوړ جهادي فکر، ویښ ضمیر او ټاند عزم څښتن او خپلو دندو ته ژمن مشر و، له ټینگ هوډ او لوړ همت سره یې د ژوند کابو دوه برخې په جهاد او مبارزه کې تېرې کړې، هغه چې د اسلامي امارت په لیکو کې د مجاهدینو د منځني پوړ له مشرانو گڼل کېده تقریباً ټولې هغه ځانگړنې یې لرلې چې د جگړې د ډگر یو بریالی او برلاسی قوماندان یې باید ولري، تقوا، متانت، لوړه حوصله، غښتلی أمید، د خپلو چارو پر ښو پایلو ټینگ باور، توکل، اخلاص و... یې ترې نه بېلېدونکي مواصفات و.

په جهادي چارو کې هر اړخیزه کره تجربه، غوره اعداد او استعداد، د عملیاتو په پلان او د پلان پر تطبیق کې مهارت چې له أمله یې فعالیتونه لـه لاسـته راوړنـو ډك و د لوی زړه دغه مشر له ځانگړنو څخه و، مشرانو، اصولو او لائحو ته یې بشپړ احترام او التزام درلود او ترې د هیڅ تخلف تمه یې نه کېده.

نوموړی له دې سره سره متواضعه او انکساري تبه لرله، د خپلو ملگرو خدمت به یې کاوه او پر هغو یې ځان لوړ نه شمېره، د ملگرو ترمنځ د یو فرد پـه څېـر بـه په عادي موډ کې و، مېلمه پالنه، درنښت، له ملگرو او ولسي وگړو او نورو سره یـې همدردي او غوره چلند هغه څه و چې پرې د خلکو زړونه یې خپل کړي او هغـوی یې پرخان را ټول کړي ول.

مولوي عبدالله حسیني "مختار" صاحب حفظه الله وايي: مفتي صاحب تقبله الله د اسلامي امارت یو مخلص خادم او د مشرانو د أمـر منـونکی قومانـدان و، پـه جهاد کې یې ستړي قربانۍ ور کړې او ډېرې ستړې ستومانۍ یـې گـاللې، پـه دې لـړ کې یې د داعشي فتنه گرو پر وړاندې جگړې له دریو محاذونو د یـوه محـاذ مشري کوله او د کنړ په لوړو عروتو کې د یادې فتنې پـر وړانـدې یـې پـه ډېـره مېړانـه او بهادرۍ او د ډېرو ستړو ستومانیو، ستونزو او سختیو په گـاللو خپـل مسـئولیت پـه خورا ښه توگه سر ته ورساوه.

مولوي علي محمد معتصم صاحب حفظه الله وايي: مفتي صاحب عبدالوکیل ایوبي تقبله الله یو عادي دیني عالم نه، بلکې خاوند د تصنیف او تألیف، په درسگاه کې یو غوره أستاد او مدرس، په ممبر باندې ښه مقرر، په مجالسو کې د قـاطع نظـر او رسا رایې خاوند هم و او په سنگر کې بیا اللـه تعـالی د بـرلاسي قمنـدان او ښـې رهبرۍ د مورال حیثیت ورکړی و.

زما پر اند مفتي صاحب تقبله الله د خپل شجاعت، بهادرۍ او متانت پر مـټ ځیني بې سـاري تحـولات راوسـتل چـې د هغـه د جهـادي بصیرت، ژور فکـر او لـه اسلامي امارت سره د بشپړې وفادارۍ ښکارندوی دي، پر ۲۰۱۳ زېږدیـز کـال شـهید مفتي صاحب تقبله الله پر داسې مهال د ازرې د ولسـوالۍ معـاون وټاکـل شـو چـې هلته د شر او فساد پاتې شونو ملوك الطوائفي حاکمیت و او لـه شخصي- گټـو پرتـه یې هیڅ قانون نه پېژاند نه ورته ژمن و، شهید مفتي صاحب د ملگرو په ملتیا خورا زیاتې خوارۍ وکړې، دا هرڅه یې محو کړل او د ازرې ولسوالۍ په سردرو یې سپین بیرغ رپاند کړ.

پر ۲۰۱٤زېږدیز کال د یهودو او صلیبیانو د پروژې په توگه مفسدو خوارجو د ننگرهار له ولایت څخه سر راپورته کړ، پـر وړانـدې یـې د ځـانگړو قطعـاتو مسـئولیت مولـوي عبدالله حسیني حفظه الله ته ور له غاړې شو، نوموړي ټول ولایت په دریو محـاذونو و وېشـه او شـهید مفتـي صـاحب یـې د خوگیانو د سمت محاذ مسئول وټاکه، هغه د خپل بریالي پلان له مخې پر خوارجـو لـه دریو لوریو تندریز بریدونه پیل کړل او لـه ټولو وړاندې یې اړونده ساحه له داعشیانو پاکـه کـړه او دا هغـه مهـال د داعـش پروړاندې د تحول پیل و.
پر۲۰۱۸زېږدیـز کـال د اسـلامي امـارت پـه تشکیلاتو کې د ختیځې حلقې غړی او بیـا ورسته د کاپیسا ولایـت د مرسـتیال دنـده هم ور له غاړې شوه، ورسره پر یو مهـال د کنـړ ولایـت د خوارجـو پـه مقابـل کـې د نظامي خط مسئول تعـین شـو او د شـپږو میاشـتو پـه اوږدو کـې اللـه خـورا پـراخ فتوحات ورتـه نصـیب کـړل او پـه همـدې سلسله کې د شهادت لوړ مقام ته ورسـید. تقبله الله

شهادت:

د اچي شهید مفتي ایوبي صاحب تقبله الله د جگړې د میدان سړی و او بـل ځـای ډېـر نه موندل کېـده، کـه څـه هـم دښـمن تـه زیات مطلوب و، خو بیا یې هـم د جگـړې لـه میـدان او بیـا هلتـه د جگـړې لـومړۍ کرښې پرته چېرته ونه موند، همغه و چـې پـه کنـړ کـې شـپږ میاشـتې او درې ورځـې تشکیل تېرولو وروسته پـه داسې حـال کـې چې د جگړې په لومړۍ کرښه کې یې قرار درلـــود د۱۳۹۸هـــ ش کـــال مېـــزان میاشتې...مه او۱۴۴۱هـ ق کال صـفرالمظفر د میاشتې پر۱۶مه چې د۲۰۱۹زېږدیز کـال اکتوبر میاشتې له۱۵مـې نېټـې سره برابـره وه، د کنـړ ولایـت مـانوگۍ ولسـوالۍ پـه غریزه نومې سیمه کې د دښـمن لـه لـوري پـه نښـه او د شـهادت لـوړ مقـام تـه ورسید...انالله وانااليه راجعون، نوموړي تر شا والدین، د دوه زامنـو پـه گـډون پېنځـه اولادونـه، یـوه تـور سرې او د مجاهـدینو دلگۍ پرېښوده، اروا یې ښـاده او یـاد یـې تل تر تله اوسه.

....په تیرپسي
م: شمس....

غامدیت...

داوسني عصرلويه فتنه...

ددیت مسئله

دکوموګنو شرعي مسائلواوحکامویه تفسیر، تشریح اوتعبیرکې چې جاوید غامدي داسلامي امت دجمهورو علماوواجماعیاتوڅخه مخالف دی، یوه دهغوله جملې څخه ددیت مسئله هم ده، چې په اره یې غامدي صیب داسلامي امت دمتفقه اواجماعي موقف نه په ښکاره مخالف دی،د امت علماوولخوا پر دې اجماع ده چې د«خطاقتل» په صورت کې به قاتل لورې دمقتول وارثانو ته دیت ورکوي

اواسلامي شریعت ددیت ورکولومقدارسل اوښان اویا دهغو قیمت ورکول ټاکلی اوهرڅې دېنځې دیت دی،هغه یا دنارینه دیت څخه کم یعنې دهغه ددیت نیم یې ټاکلی

خوجاویدغامدي وایي: اسلام کې ددیت ورکولو مقدار معلوم یاتعین شوی ندی، اوهم نه هم دنارینه اوښځې په دیت کې کوم توپیرهم شته؛ ښاغلی لیکي:

اسلام همیش لپاره ددیت کوم خاص مقدار تعین کړی ندی او نه یې دافرادو له پلوه پکې کوم امتیازیا توپیرپر موږ لازمي کړی دی او دمیرمنې ددیت په اره دهروخت«حل وعقد» خاوندان واک لري چې هغوی یې پوره یعنې دنارینه سره برابریې وټاکي(میزان، لومړی برخه:۲۱۳مخ)

ښکاره ده داسلامي شریعت احکامو او لارښوونوته په کتو د غامدي پورته موقف سم ندی اودا اسلامي امت د اجماع پخلاف دی

موږ دلته دنوموړي پر دې موقف داسلامي شریعت دلارښوونو او احکامویه رڼا کې دبحث اوتبصرې پیلولوڅخه وړاندې په لنډوډول ددیت په معنی،تاریخ،ډولونواواحکامویه اره لږ ځانونه پوهول اړین بولو

هو! «دیت» دمقتول دوینې بیه ده چې دقاتل شخص لورې به یې دمقتول وارثانوته ورکوي؛ په پخوانیو بشري ټولنواو په خاصه توګه په عربوکې دوینې پور په وینه پرېکول ممکن نه و،قاتل او دهغه خپلوانو لخوا به دمقتول وارثانوته دتاوان په توګه نغد مال اوجنس ورکول کیده

علماء لیکي: په لاندې څلورو صورتونو(دقتل)کې دیت ورکول واجب دی:

۱:- خطا قتل ....۲:ـ شبه عمد قتل.... ۳:- قتل بالسبب.... ۴:ـ او دخطا قتل په قایم مقام کې....

په يادو څلور وارو صورتونوکې ديت دقاتل پرعصباتو واجب دی بلـه داچـې ديـت يـواځې دلانـدې درې دولـه مالونوڅخه په لاندې شکل ورکول کيدای شي:

۱:- سل اوښان... ۲:- زردينار... ۳:- لس زره درهم.

قاتل واک لري چې دپورته يادو دريووڅخه يو غوره کړي ، البتـه تـول اوښـان ديـوعمر ورکـول واجـب نـدي، بلکـې دمختلفوعمرونو لازم دي ، دهغوتفصيل په لاندې دول دی :

دخطا قتل په ديت کې بـه پنځـه دولـه اوښان ورکولی شي: (۲۰)«بنتِ مخاض» يعنې هغه ښځينه اوښې چې پـه دوه کلنی گډې شوې وي، (۲۰)«ابن مخاض» هغه نارينه اوښان چې په دوه کلنی گډ وي، (۲۰)«بنتِ لبون»هغه ښځينه اوښـې چې په درې کلنی گډې وي،(۲۰)«حقې» هغه چې پـه څلـور کلنی گډ وي(۲۰)« جزعې»هغه چې پـه پنځـه کلنـی گـډې وي هرچې «شبه عمد قتل » دی، دهغه ديت کې بـه۲۵ بنـت مخاض،۲۵بنت لبون،۲۵حقې، او۲۵جزعې ورکولی شي

قتل عمد: دلوستونکودمعلوماتو لپاره بايـد عـرض کـړو که يو تن پورته شو په وسله،يادوسلې په قايم مقام اويا پـه کـوم بل څه يې يوتن ووژه، لکه په تيزلرگـي يـې وواهـه، ياپـه درانـه کاڼي يې وويشته،اومرشو،شريعت دې قتل تـه «قتلِ عمـد» ويلي اوکبيره گناه يې گرځـولی دی ،دقاتـل تـه د سـزا ورکولـو لپاره دقصـاص حکـم يـې کـړی دی هـو! کـه قاتـل دمقتـول دوارثانو لخوا ونه بښل شو،قصاص کولی به شي،اوکه دمقتـول وارثانولخوا دشرايطو په ابښودو وبښل شوييا بـه هـم پـه قاتـل لوري دمقتول وارثانوته ديت يعنې خون بهاورکول واجب ده

شبه عمد قتل: که يوتن په يـو داسـې څـه مقتـول وواهـه چې عموماً په وهلوبې څوک وژل کيږي نه؛ لکه پـه واره ډبـره يې وواهه، په واره کاڼي يې وويشته، او پـه سـوک يـې وواهـه مړشو نو شريعـت دا قتـل « شبـه عمـد قتـل» بـولي پـه اره يـې صاحب هدايه ليکي:

الشِبْهُ الْعَمْدِ أَنْ يَتَعَمَّدَ الضَّرْبَ بِمَا لَيْسَ بِسِلَاحٍ وَلَا مَا أُجْرِيَ مَجْرَى السِّلَاحِ، اَیْ بِحَجَرٍ عَظِيمٍ أَوْ بِخَشَبَةٍ عَظِيمَةٍ.

شبه عمد داده چې قاتل پـه يوداسـې څـه دوهلـو قصـد وکړي چې هغه وسله نه وي او نه د وسلې قايم مقام وي، لکـه په غټ کاڼي اويا درانه لرگي يې وواهه

حضرت عمروبن شعب دخپل پلارنه روايت کـوي چـې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

عَقْلُ شِبْهِ الْعَمْدِ مُغَلَّظٌ مِثْلُ عَقْلِ الْعَمْدِ وَلَا يُقْتَلُ صَاحِبُه

ديت؛ دشبه عمد قتـل؛ دقتـلِ عمـد؛ سره دمشـابهت پـه وجه سخت دی البته قاتل پرې قصاص کيږي نـه! (احمـد بـن حنبل، المسند، ۲: ۱۸۳، رقم:۶۷۱۸، مصر: مؤسسة قرطبة)

او دخطا قتل هم دوه صورته دي:

يو: خَطأً فِي الْقَصْدِ: وَهُوَ أَنْ يَرْمِيَ شَخْصًا يَظُنُّهُ صَيْدًا ، فَإِذَا هُوَ آدَمِيٌّ، أَوْ يَظُنُّهُ حَرْبِيًّا فَإِذَا هُوَ مُسْلِمٌ

يوداچې په غشي يـې ښکاروويشـته خـو هغـه ښـکارنه ؛ انسان وخوت ، يا يوتن په جنگ کې دښمن په گومـان يـې پـه غشي وويشته خو هغه مسلمان وخوت

دوهم: خطافي الفعل:وَهُوَ أَنْ يَرْمِيَ غَرَضًا فَيُصِيبَ آدَمِيًّا

خطا په عمل کې دا ده غشـي ويشـتونکي نښـان ويشـته خو لارېه يو انسان پريوت

ـ څلورم: قائم مقام دخطا قتل:

مَا أُجْرِيَ مَجْرَى الْخَطَأِ مِثْلُ النَّائِمِ يَنْقَلِبُ عَلَى رَجُلٍ فَيَقْتُلُهُ فَحُكْمُهُ حُكْمُ الْخَطَأِ فِي الشَّرْعِ.

هغه قتل لکـه يـو ويـده انسـان ؛ پـر بـل ويـده انسـان ور واوښت او مړيې کړ،په شريعت کې ددې حکم هـم دخطاقتـل حکم دی (مرغيناني ، الهداية، شرح البداية،کتاب الجنايات، ۴: ۱۵۹)

قرآن او ددیت مسئله:

اوس راځو غامدي موقف ته چې وایي:اسلام کې ددیت ورکولو مقدارمعلوم يامقررندی، او نه دافردوله پلوه يکې تویپر لحاظول پر موږ لازمي دي...

اوبل دمیرمنې د دیت په اړه «حل وعقد» خاوندان واک لري چې هغوییې پوره يعنې دنارينه ددیت سره یې برابروټاکي

ترکومه چې په عظیم الشان قرآن کې د«خطا قتل» په صورت کې ددیت دوجوب حکم دی، نویه دا لاندې ایتونوکې راغلی:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا ۚ (النساء:۹۲)

دهیڅ مومن لپاره په کارنده چې هغه بل مومن قتل کړي مګر په خطاسره،اوڅوک چې مومن په خطاسره قتل کړي،دهغه کفاره داده چې يو مومن دي له غلامۍ نه ازاد کړي؛ او دمقتول وارثانوته دي دیت ورکړي البته داچې هغوی دیت وبښي.

دې ایت کې مقتول ته په «مؤمنًا »تعبیرشوی ، چې په پښتو کې یې معنی « مومن سړی» کېږي،او هرچې مؤمنه میرمن ده، هغې لپاره عربي کې« مؤمنةً» لفظ راځي،کوم چې دلته ندی راغلی، بناً دلته مفسرینواو اسلامي فقهاوو دکوم معنوي تاویل پرته د«مؤمناً» څخه« مسلمان سړی » مراد ګرځولی،او دایت له الفاظو« وَدِيَةٌ مُّسلمةٌ إلى اهله»(دمقتول وارثانوته دي دیت ورکړای شي) څخه یې ددیت ورکولویه وجوب استدلال کړی دی ،لیکن ددیت دمقدارتعین په دې ایت کې ندی شوی او هغه (ددیت صحیح مقدار) موږته له احادیثو معلوم شوی دی

څنګ چې ابوبکر جصاص رحمه الله په « احکام القرآن» کې لیکي:

لما لمن یکن مقدارالدیة مبینا فی الکتاب، کان فعل النبی صلی الله علیه وسلم فی ذلک وارد مورد البیان وفعله صلی الله علیه وسلم اذا ورد مورد البیان فهوعلی الوجوب(۲توک ۲۹۳مخ)

چون په الکتاب يعنې عظیم الشان قرآن کې ددیت مقداربیان شوی ندی ،له دې وجې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعمل څخه یې وضاحت ترلاسه کېږي او درسول الله صلی الله علیه وسلم دعمل دوضاحت نه ثابتیږي، چې یادایت کې يواځې ددیت اجوب مراددی

په ورته توګه مشهورتفسیر(مظهري) کې راغلي چې:

ددیت مقدار مجمل دی، چې په څه دیت واجب دی؟ دابیان هم په ایت کې نشته، بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې بیان کړی دی

امام جصاص رحمه الله د« دِيّةٌ» په لفظ باندې بحث کړی او لیکي:

ان دیة المرء لایطلق علیها اسم الدیة وانما يناولها الاسم مقیدا الاتری انه یقال دیة المرءة نصف الدیة واطلاق اسم الدیة انما یقع علی المتعارف المعتادوهو کمالها(احکام القرآن ۲توک ۲۳۸مخ)

په حقیقت کې دښځینه په دیت باندې د«دیت» لفظ اطلاق نه راځي، بلکې میرمنو لپارهیې محدود مفهوم مرادادی، دا چې ویل کېږي دمیرمنې دیت نیم دی، زکه په اصل کې د« دیت» د لفظ عام استعمال دپوره دیت مفهوم افاده کولو لپاره کېږي

ګواکي دامام جصاص په نزد هم تربحث لاندې ایت کې يواځې دمسلمان نارینه دیت مراددی اوپکې دمیرمنې دیت له سره مذکورندی.

دځینو بیا دا فکردی چې چون عربي کې په عامه توګه مذکر صیغه کې مؤنث هم تغلیباً ورګډیداشي، نوله دې وجې

د یادایت په« مؤمناً» لفظ کې میرمن هم راځي، نو کوم دیت چې دمقتول مسلمان نارینه دی هم هغه دمیرمنې لپاره هم دی، اودمقدارله پلوه په نارینه اوښځینه کې کوم توپیرنشته

لیکن نور جمهورعلماء لیکي:چې «تغلیب» دعربي ژبې هیڅ کوم قطعي اصل ندی، چې دهغه په وجه دې په هرځای کې دمذکر صیغه کې مؤنث ور گډیدای شي ،بځپله عظیم الشان قرآن کې داسې ګڼ نظایرشته چې هلته د«تغلیب» قاعده باطله ده، اودمذکر صیغه یواځې دمذکر لپارهاستعمال ده او مؤنث پکې شامل ندی

دمثال په توګه دسورة نور ۳۳ ایت دی

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ۚ

اې پیغمبره!مومنانوناریته ووته ووایه،چې خپل نظرونه ښکته نیسې اودخپلوشرمګاوو حفاظت کوئ

دلته « المؤمنين» مذکرصیغه ده، اومؤنث ورکې داخل ندی، یعنې دمومنین نه مراد یواځې « مسلمان نارینه» دي اوښځینه پکې ندي شاملې ، ځکه چې په ۳۱ ایت کې همدا حکم مؤمناتومیرمنو ته شوی دی

په ورته توګه دانفال سورة ٦٥،دجمعه سورة ۹ایت،د احزاب سورة ۵۰ ایت،او داحزاب سورة ۳٦ ایت،اودتوبه سورة ۷۱ ایت ، په ټولوکې لفظ« مومنین» راغلی چې مراد ترې مسلمان نارینه دي، همدا رنګه دسورة البقره ۱۲۸ ایت کې [ربنا وجعلنا مسلمین لک]اې زمو ربه!موږدواړه خپل مطیع وګرځوي

«مسلمین» لفظ مذکر صیغه ده،اوپکې مؤنث داخل ندی، ځکه دلته دعا کوونکي دوه نارینه «حضرت ابراهیم او حضرت اسماعیل علیهماالسلام» مراد دي،اوپکي هیڅ میرمن شامل نده، لنده داچې دقرآن مجید اودعربي ژبې داکوم قطعي اصل یا کلیه نده چې هرځای به دتغلیب لاندې نارینه صیغوکې مؤنث هم شاملولی شي، که ځینې وخت دتغلیب لاندې مذکر صیغوکې مؤنث مرادیدای هم شي،خو ځینې وخت داسې مذکر صیغه کې مؤنث نشيـ شاملیدای، اودتغلیب قاعده باطله ګرځي

دتغلیب دبحث وروسته ددیت په ایت چې کله غورکوو نو دلته هیڅ داسې قاطعه قرینه نشته چې دهغې په وجه « مؤمنًا» نارینه او میرمن دواړوته شامل شي، اوس که یوسړی پخپل تول زورسره دا ووایي:چې دلته دتغلیب لاندې مؤمنًا کې ښځه هم داخل ده، نویوبل سړی هم په پوره زور سره ویلی شي چې دلته دتغلیب قاعده مؤثره نده بلکې باطله ده او که ولیدل شي نو دوروستني سړي دریځ بوځه دروند ښکاري ځکه هغه دلفظ«مومن» هیڅ معنوي تاویل نکوي بلکې هغه په سهي لغوي او اصطلاحي معنوکې اخلي.

او حدیث او ددیت مسئله:

داحادیثو په کومو معتبرو کتابونوکې چې په صحیح سند سره د خطاقتل دیت په اړه کوم روایتونه راغلي دهغو الفاظ په لاندې ډول دي:

«ان فی النفس مائة من لابل»(موطا، امام مالک، کتاب العقول، نسائي، کتاب القسامة، والقود، والدیات)

دلته د«نفس» لفظ راغلی دی، معنی یې ده (تن)دالفظ په عربي ژبه کې دمذکر اومؤنث دواړو لپاره هم راځي، اوځینې وخت یواځې دمذکر لپاره ....، دمثال په توګه: دالنساء سورة« ۱» ایت دی:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا

خلکو! خپل رب نه وډارشئ،کوم چې تاسو دیونفس نه پیدا کړي یئ،اوهم هغه نه(نفس) یې جوړه پیداکړې

دلته تول مفسرین د« نفس واحده» یو«تن» ادم علیه السلام مراد اخلي، اوښکاره ده چې حضرت ادم نارینه و

دآل عمران سورة دمباهلې ٦ ایت کې: فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ

دلته هم په« انفس» کې میرمنې شامل ندي، بلکې یواځې نارینه مراددي، زکه دښځینه ذکر جلا په« نساء» لفظ سره وراندې شوی، نومعلومه شوه چې د«انفس» خاص دنارینه لپاره هم راځي چې ښځینه پکې مراد نه وي

دکهف سورة ۷۴ ایت دی:

«فانطلقا حتی إذا لقیا غلاما فقتله قال أقتلت نفسا زکیة بغیر نفس»

دلته د «نفسا زکیة»پاک تن) اطلاق یواځې په نارینه کېږي.

دسوره قصص ۳۳ ایت کې:

قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ

دي ایت کې د«نفس» نه مراد یوقبطي سړی دی څوک چې دموسی علیه السلام په لاس په مصرکې وژل شوی

بله داچې پخپله عظیم الشان قرآن کې دیو مقتول مومن کفاره یواځې(تحریرُ رقبةٍ) دیو مسلمان غلام ازادول راغلي، یعنې دهغه دیت یې له سره ایښی ندی یواځې کفاره ده، الله تعالی فرمایلي:

فإن کان من قوم عدو لکم وهو مؤمن فتحریر رقبة مؤمنة

بیا که مقتول ستاسې ددښمن څخه و،دهغه کفاره دیو مسلمان غلام ازادول دي

گواکې ددغسې مومن دخطا قتل په صورت کې په قرآن اوشریعت کې هیڅ دیت مقررندی، ایاپه حدیث کې د«نفس » لفظ عمومي اطلاق به په دې « مقتول مومن» نه راته؟ یقیناً به نه راته؛ اوددغه «مومن مقتول» لپاره به هم په قرآن کې ددیت ذکرراته، چې مقداریې په حدیث کې سل اوښان مقرر دي

ثابته شوه چې دیاد حدیث « نفس لفظ» کې عموم نشته بلکې دنارینه دیت پکې بیان شوی چې الفاظ یې دادي:

(فی النفس مائة من الابل) دتن ددیت مقدارسل اوښان دي

مطلب داچې دنفس دیت سل اوښان دي، اوس که کوم شخص داویلی شي ددې حدیث په لفظ« نفس» کې میرمنې هم مرادیدای شي، په ورته توگه یوبل تن هم ویلی شي چې د یادحدیث په« نفس» لفظ کې میرمنې مرادندي زکه چې نفس یواځې دنارینه لپاره راځي ښځینه لپاره نه

دلفظ نفس لغوی مفهوم اواستعمال په اړه دپورته بحث نتیجه دا راوزي، چې په عربي ژبه کې چیرته دالفظ راغلی هلته په حتمي توگه نه دعموم مفهوم مراد وي چې نارینه اوښځینه دواړوته شامل شي،او نه په حتمي توگه یواځې خاص مفهوم مرادوي بلکې د« نفس » دننه دغه دواړه احتمالات شته

نو حاصل داچې ددیت په باره کې مذکورحدیث کې«نفس» لفظ مجمل دی او تشریح ته حاجت لري،څومره چې ددې مطلب احتمال دی چې نارینه اوښځینه دواړوته شامل دی، دااحتمال هم شته چې په مفهوم کې یې یواځې نارینه مراد دی

تراوسه دبحث حاصل داشو چې دښځینه ددیت په باره کې عظیم الشان قرآن کې مذکور لفظ(مومن)او یا په حدیث کې مستعمل لفظ (نفس)نه دا استدلال نشي- کیدای، چې ددواړو په مفهوم کې نارینه اوښځینه دواړه مراد دي، زکه دا دعربیت له مخې پرځای استدلال ندی

اوس موږ دیوصحیح حدیث نه استدلال کوو چې دنارینه اوښځینه دیت برابر ندی بلکې ترمنځ یې توپیر شته دی په صحیح حدیث کې دي چې:

«عقل المرءة مثل عقل الرجل حتی یبلغ الثلث من دیته» (رواه النسائي، دارقطني وصححه ابن خزیمه)

.... تفصیل په راتلونکې برخه کې

مذاهبِ أربعه

ائمه،تلامـذه، فقهي مناهج أمهـات الكتب

داجتهـــاد نيکمرغه او زرينه دوره:

م: فضل الرحمان
دريمه وروستۍ برخه

پــه لانــدې کرښــوکې دتيربحــث لنډيزراوړل کيږي:

حنفي مذهب:

دحنفي مذهب ياحنفي فقهې مؤسس امام ابو حنيفه نعمان بـن ثابـت رحمـة اللـه عليه دی، نوموړی دهجرت په ۸۰ يم کـال کوفه کې زيږيدلی او بيا په۱۵۰ هـق کـې په بغدادکې وفات شـوی،دنوموړي رحمـه اللـه پـه مشـهورو شـاگردانوکې امـام ابويوسف ،امام محمد،امام زفر،امام حسن بـن زيـاد، امـام وکيع،عبـد اللـه بـن مبارک،عاقيـه بـن يزيـد، يحـی بـن ابـی زائده،او دقاسم بن معن رحمهم الله نومونه راځي.

دفقهـي مـنهج اسـاس يـې يـوولس اصول دي،۱:کتـاب،۲:سـنت، ۳:اجـماع، ۴: قياس، ۵:استحسان۶:دصـحابه وو اقـوال، ۷:عرف۸:مصالحِ مرسـله، ۹:سـدزريعه،۱۰ :استصحاب حال،۱۱:شرائع من قبلنا.

امهات الكتب:

مبســـوط، جـــامع الصـــغير،جامع كبير،سيرصغير،سيرِ كبير، مبسوط سرخـي ،بـدائع الصـنايع،هدايه،فتاوی هنديـه،او ردالمختـار اونـور دفقهـي پـه أمهـاتً الكتاب کې راځي.

مالكي مذهب:

دمالكي مذهب يافقهې مؤسس امام مالــک بــن انــس رحمــة اللــه عليــه دی،نومـوړی دهجـرت پـه ۹۳کـې مدينـه منوره کې پيداشـوی واوهـم هلتـه يـې پـه ۱۷۹ هـق کـال وفـات شـوی،په مشـهورو شاگردانوکې يې دعبـد الـرحمان بـن قاسـم، اشـهب بـن عبـد العزيز،محمـدبن المـواز الاسكندري،عبد السـلام بن سعدسـحنون التفوقي،عبـد الملـک بـن حبيـب اندلسـي۔ اونورشاردي .

دفقهي مـنهج اسـاس پـه ۱۲ اصـولً ولاړدی ۱:کتـاب، ۲:سـنت، ۳:اجـماع، ۴: قياس، ۵: داهلِ مدينه تعامـل،۶: دصـحابي قول، ۷:استحسان،۸:سدِ زريعـه،۹:مراعـاة الخلاف۱۰: استصـحاب حـال،۱۱:مصـالح مرسله ۱۲:شرايع من قبلنا.

دمالكي فقهـي پـه أمهـات الكتـب کـــې «المدونـــة، الواضحة،المســـتخرجة، الموازيه، مختصرخليل اونور شماردي

شافعي مذهب:

دشافعي مذهب مؤسس محمـدبن ادريـس شـافعي رحمـة اللـه عليـه دی نومـوړي دهجرت په ۱۵۰ کال دفلسطين په په غـزه کې زيږيدلی اوپه ۲۰۴ هـق کـې مصرکـې وفات شوی دی پـه ممتـازو شـاگردانوکې يې يوسف بن يحی البويطي،اسماعيل بـن يحی مزني،عبد الله بـن زبيرحميـدي،ربيع بـن سـليمان المرادي،حرملـه بـن يحـی اونورراځي:

دفقهي مـنهج يـې پـه څلورواصـول بنادی:۱: کتاب ۲: سنت، ۳:اجماع، ۴:قياس

امهات الكتب کې يې الأُم،مختصر۔ المزنی،المهذب،مغنی المحتاج، نهاية المحتاج اونور راځي

حنبلي مذهب:

دحنبلي مذهب مؤسس امام احمـدبن حنبل رحمة الله عليه دی، نوموړی په ۱۶۴ هق کې بغداد زيږيـدلی و، اوپـه ۲۴۱ هـق کې هم هلته وفات شوی دی، په مشـهورو شــاگردانوکې يې:صــالح بــن احمــدبن حنبل،عبـد اللـه بـن احمـد بـن حنبـل، ابوبكراحمدبن محمدالاثرم،ابوبكراحمـدبن محمد المروزي، عبد الملک بن عبد الحميـد اونور شماردي .

فقهي منهج يې په ۸ اصـول ايښـی: ۱:کتـاب،۲:سـنت؛ ۳:د فتـوا دصـحابي، ۴اجـماع، ۵: قيـاس،۶استصـحاب حـال ۷مصالحِ مرسله۸:سدِزريعه.

دحنبلي فقهي په أمهاتً الكتب کې مختصر الخرقي، الكافي، المغنـی، العمـدة، الانصاف،الاقناع، منتهـی الارادات اونـور مشهوردي پای .

محسن

پر سوال غوښتې د تېښتې پلمه او پرې ملنډې

آمريکې دلته سوله نه غوښته او نه يې پر ٪۸۵سلنه هېواد د طالبانو راوړې سوله زغملې شوه، همدا د ګڼو پلمو او بهانو په منځ کې يواځنی لامل وه چې هغې زمونږ پر هېواد يرغل وکړ، د يرغل په لومړيو کې هرڅه او پر خانګړې دول د کشالې د سوله ايز حل په اړه د طالبانو وړانديز نه منلو او له هغو يې بې قيد او شرطه د تسليمی غوښتنې په ډاګيز ډول دا جوتوله چې دلته دوی سوله له منځه وړې او د سولې پر وړاندې د جګړې له ټېنګ هوډ سره راغلي نو ځکه ورسره د هغې د تودوخې ګراف ورځ تربلې لوړېده.

طالبان ښايي له پيله د امريکې د غرور او سرکشۍ پر بنسټ ولاړ دغه يرغل پر تعبير ډېر نه پوهېدل، چې لا يې هم ورته د سولې وړانديزونه کول او بيايې تر اوسه د هغې دروازه د يوې غوره لارې او د جګړې د ښه بديل په توګه د کشالې د هوارۍ لپاره پرانيستې پرې ايښې، که پوهېدلی نو ښايي هغه وخت يې دغه وړانديز نه وای کړی او بيا يې تر ډېرې مودې او د امريکې تر بشپړې ماتې د سولې دروازه هم ورته تړلې وای، ترڅو لومړی يې په خرپ جګړه کې راښکېلولو سره ښه وځپي او بيا چې هغه سولې ته رامنډه کړي هم څه موده پر شا اېسار او بيا په يو سخت او بد حالت کې يې ورته دروازه پرانيستله شوې وای.

که هغه مهال طالبان پوهېدلی چې دوی زمونږ په هېواد کې شته سولې سره ستونزه لري او د هغې له منځه وړل يې هدف دي، نو بيا ورته د هغې وړانديز بې مانا و، همدارنګه ورته د سولې دروازې پرانيستې پرېښودل هم تاوانې ثابتېدلی شوای چې له پيله لا د اوس په څېر أمريکې سولې ته له ننوتلو سره سم د هغې له نوم څخه په ګټه اخېستنه پر داسې وحشتونو لاس پورې کړی وای لکه د سولې بهير له تېر يوه کال راسې چې د يرغل د لومړنيو کلونو په پرتله ډېر زيات او تول پر ولس را تول دي.

د۲۰۱۹کال له لومړيو چې طالبانو د أمريکې له لورې د سولې خبرو وړانديز منلی او ورسره د مېز سرته کېناستلي له هغه را وروسته خپرو شويو شمېرو له مخې د بهرنيو او کورنيو ځواکونو له لورې په بمباريو، چاپو او چاودنو کې نږدې (۲۰۷۹) خونړی پېښې ثبت شوې چې پکې (۸۰۰۲) تنه ولسي- وکړو ته مرګ ژوبله اوښتې، له دوی څخه (۵۱۵۲) تنه يې وژل شوي او (۲۸۵۰) يې ژوبل شوي دي او له دې پرته (۱۳۰۷)تنه بنديان شوې هم دي.

پر دغو ځاني تلفاتو سربېره(۱۲۸) بابه مسجدونه او مدرسې شهيدان او د (۱۴) نورو مسجدونو يې دروازې منفجر کړې، نږدې (۴۰) بابه مکاتب او صحي مرکزونه، د ولسي وګړو (۲) هوټل، (۳۳۷۰) بابه کورونه او دوکانونه وېجاړ او د(۶۲۷) نورو دروازې منفجر کړې، (۲۸۱) عرادې موټر (۱۱۰۲) موټرسائکل، (۴۲) د غنمو او اوربشو درمندونه وېجاړ او له منځه وړل شوي دي.

هغه ميليونونه نغدې افغانۍ، سلګونه څاروي، قيمتي توکي، موټر، موټرسائکلونه، د دوکانونو او هټيو سامانونه او لمريزې بريښنايي تختې چې بهرنيانو او داخلي عسکرو چور کړي شمېره يې هم له دوی سره موندلی شو، دا ټول د سولې له خبرو سېپلنې شول او له دې ور هاخوا پر ولسي- وګړو ترسره شويو بريدونو او وُروَل شويو بمونو شمېرې زرګونو ته رسېږي او مخکې له مخکې لا څرګندې شوې چې په هر لحاظ او بشپړ ډول۲۰۱۹زېږديز تر ټولو خونړی کال جوتوي.

د سولې حقيقت او د دوه اړخيزې جګړې او هم ډېپلوماسۍ په اړه ځمکنيو حقائقو (د بهرنيانو ماتې او د تېښتې د پلمې لټون) ته پر کتو تر بل هر وخت بايد پر۲۰۱۹کال جګړه سړه او ولسي زيانونه پای ته رسېدلي او يا هم کم وای، خو چې اوس کېسه سرچپه ده يواځېنی لامل يې همدا د طالبانو پر پرانيستې د سولې دروازه د بهرنيانو ننوتل بريښي چې کله په دې برخه کې د فشار په پلمه، کله د خپل بخت او کله هم د طالبانو د حوصله ازمايښې په پار دا ډول وحشتونه او جنايتونه تر سره کوي.

د سولې خبرو کې له دومره پرمختګ او وروستۍ مرحلې ته يې رسېدو سره بياهم د تېرو دوه اونيو په کندز، تخار، بلخ، فراه، بادغيس، هلمند، کندهار، ميدان وردګ، غزنې، ننګرهار او د هېواد په ګڼو نورو سيمو کې د بهرنيانو او داخلي عسکرو چاپې، بمبارۍ، هاوان بريدونه، وژنې، ځورونې، لوټنې او ورسره همهال له طالبانو د تاو تريخوالي کمولو پرلپسې- غوښتنې دا څرګندوي چې دوی دلته له منځه وړې ورکې سولې ته د طالبانو لخوا د جګړې پر زور اړ شول، بياهم د تېښتې له همدغې پلمې (سولې خبرو) او فرصته يې د ولس پر وړاندې د يوه جګړه ايز تکتيك کار أخلي.

امريکه زمونږ د ولسي وګړو پر وژنو او ورته زيانونو اړولو جګړه توندوي، خو د سولې خبرو او مېز څخه پر استفادې بيا د تاوتريخوالي کمښت هم له طالبانو غواړي تر څو هغوی د دې وحشتونو پر وړاندې چوپ پاتې شي او غبرګون ونه

ښيي چې دا له شك پرته د سولې له نوم پر ناوړه استفاده د هغې پر روان بهیر د ملنډو، د ولس وژنې په غبرګون کې د طالبانو د بریدونو د مخنیوي او د طالبانو له لاسه د سولې خبرو کې د فشار همدې یواځینۍ وسیلې اخیستلو په مانا دي او بس.

همدارنګه د سولې روانو خبرو سره پر یو مهال دلته د آمریکې د خپلو تر ټولو منحوسو ګوډاګیو له لارې د ریښتونې سولې د مخالفت هڅې، زموږ پر خاوره د همدغو ګوډاګیو ټپل(تاکنې)، په اخلاقي او سیاسي هر ارخیزو فسادونو او جنایتونو کې یې ملاتړ او...هم دا مانا لري چې دوی د سولې په تش نوم د طالبانو د وسلوالې مبارزې د کمزوري کولو هڅه او خپلو وحشتونو او جنایتونو ته دوام ورکوي.

پر یوه او بله پلمه له طالبانو د اوربند یا لږ تر لږه بریدونو کمولو د غوښتنې مانا هم هماغه د یرغل په پیل کې تسلیمۍ ګڼلی شو، په دومره توپیر چې هغه وخت د زور له لارې بې قید او شرطه او اوس د زاریو له لارې د ځینو پلمو په قید او شرط تسلیمي، خو دا له اوسنیو شرائطو سره چې د طالبانو پر لور دې هیڅ اړخ نه لګوي، طالبان چې هغه وخت له خپلې ټولې کمزورۍ سره نه و تیار اوس یې په دې ځواکمنتیا کې ترې تمه لېونتوب دی، طالبان د نور تر څنګ د بهرنیانو دا لېونتوب هم زغمي.

د غوره جګړه ایزو، ډیپلوماتیکو او تبلیغاتي ورتیاوو سربېره طالبان حیرانونکې لوړه حوصله او زغم هم لري چې په تېر مذاکراتي کال کې په بشپړ ډول په اثبات رسېدلی او تردېره بریده د همدې زغم پر مټ په خپلو چارو کې موفق او بریالي دي، د طالبانو زغم ښيي چې د هېواد او مظلوم ولس دیني او ملي ارزښتونه او ګټې چې د سولې پرېکړه لیك پرې را څرخي دوی ته تر خپل سر، ازادۍ، ارام ژوند او روغ وجود ډېر ارزښت لري، ترخپل درد د هېواد او ولس له دردہ زیات کړېږي او د هغو ارزښتونه او ښېرازي یې د ژوند له تر ټولو مهمو موخو څخه دي او د خپل هرڅه په بیه یې د ترلاسه کولو هڅه کوي ، همدا لامل دی چې د بهرنیانو لېونتوب او هغه غوښتنې چې له طالبانو یې لرل د هغوی پر موقف او د سولې پر روانو خبرو د مسخرو مرادف دي هم زغمي.

په داسې حال کې چې هغو په وچ زور د کشالې سوله ایز حل ته امریکه اړ کړې، پر همدې زور یې پر تبښته کړې او اوس یې هم ابستلی شي، د سولې خبرې یواځې او یواځې د خوندي وتلو د یوې تشې پلمې په توګه بهرنیانو له طالبانو غوښتې، هغوی هم چې پکې د خپل ولس او هېواد ریښتونې سوله او ښېرازې وینې عملاً ورته منلې او تر وروستې بریده پرې ګډ کار شوی دی، بیاهم همدغه امریکه د سولې بهیر په بریالیتوب کې څنډ او څنډ رامنځته کوي، تر بل هر وخت زیات وحشتونه او جنایتونه ترسره کوي، پر سوله له بشپړې موافقې سره سره (چې یواځې لاسلیك یې پاتې دی) د ولسي وګړو وژلو، ځورولو، زیانونه ور اړولو او پر ورو ورو تشو پلمو اشغال ته دوام ورکوي او سربېره پرې له طالبانو اوربند یا تاوتریخوالي کمول هم غواړي او په دې ډول پر سوال غوښتې د تېښتې پلمه (سولې خبرو) باندې ملنډې وهي.

له دې څخه دا هم ښه څرګندېږي چې مکاره امریکه پر څومره وړو پلمو (له بشپړې موافقې سربېره یواځې د لاسلیك نه شتون) د ولس پر وړاندې خونړي جنایتونه ترسره کوي، خو داسې هم نه چې دا پلمې هغې ته ګټه کوي، همدا وړې پلمې د امریکې د ضعف نقطې دي او پر همدې وړو پلمو یې له تر ټولو کمزوري سیال (طالبانو) سره په جګړه کې ځان ښکېلولو خپل نړیوال برم، پر مختللی اقتصاد او پر نړۍ پروت رعب صفر ته راټیټ کړی، طالبان دا هرڅه پر خپله ګټه تغیروي او ورسره سم پر سره سبنه خپلې جګړه ایزې او ډیپلوماتیکې چارې پر مخ وړي.

له همدې ځایه ده چې ورمه ورځ په قطر کې د طالب مشر ملابرادر آخند او څو نورو لوړپوړو ډیپلوماتانو یې ، قطري چارواکو او خلیلزاد یوه ناسته درلوده، خو جزئیات یې نه و رسنیز شوي، په تعقیب یې پرون رسنیو خبر ورکړ چې ملابرادر آخند له خلیلزاد څخه د سولې موافقې د لاسلیك په اړه خوږ ځواب غوښتی او ګواښ یې کړی که یاد ځواب ورنکړي دوی به د سولې خبرې وځنډوي چې ورسره سم خلیلزاد هم له امریکایي چارواکو سره د سلامشورو وخت غوښتی او وروسته تېره شپه ناوخت د امریکې سي این این خبري شبکې د پنتاګون دوو چارواکو پرحواله خبر ورکړ چې شاید په راتلونکې یوه اونۍ کې د طالبانو او امریکایي لوري ترمنځ د سولې پرېکړه لیك لاسلیك شي، په ورته مهال د امریکې بهرنیو چارو وزارت هم د کابل ګډ حکومت دوارو مشرانو ته په دې اړه د پرمختګ خبر ورکړی دی.

پر نېکو خلکو د الله تعالی په ازمون کې د هغوی تر ټولو لوړې ګټې نغښتې وي، موږ وینو طالبانو په زندانونو، ښارو او غرونو، لوړو او تندو، یخونو او ګرمیو، د سر پر سترګو د خپل مرګ لیدلو صحنو ، د څنګ ملګرو له ټوټه ټوټه کېدو او له داسې سختیو څخه چې مرګ ترې غوره دی دغه زغم زده کړ، څومره چې پرې لوی ازموینښتونه تېر شول هومره پر خپل موقف کې پاخه، د هېواد او ولس پر وړاندې د خپل رسالت جوګه او پر ترسره کولو یې بوه شول او اوس یې د الله تعالی پر مرسته د جګړې، ډیپلوماسۍ او تبلیغاتو ډګرونه ګټلي او موږ ته یې په عمل کې وښوده چې د هېواد، ولس، دیني او ملي ارزښتونو لپاره څنګه او څومره ورتیا باید ولرو؟ پر څه ارزي او څه باید ورته وکړو؟ له کومې زاویې ورته وګورو او څنګه یې وکړو؟ او... الله تعالی دې موږ او دوی ټولو ته ثبات او استقامت را په برخه کړي آمین

مجاهدو طالبانو ته څو عاجلې توصیې

فاتح افغان

مجاهدو طالبانو، لکه څرنګه چې خبر یاست له صلیبي اشغالګرو سره د توافقنامې د لاسلیکولو لپاره به دواړه اړخونه د یوې اونۍ لپاره د مناسبې فضاء په رامنځته کولو کار کوي او په عملیاتو کې به محدودیت راولي.

خو دا چې دښمن مو په غدر، فریب او مکر کې ژوره مخینه لري، له همدې امله مجاهد طالبان مکلف ګرځي چې دا مرحله په سمه توګه مدیریت کړي ترڅو دښمن ورڅخه د جهادي صف د پاشلو او جهادي داعیې د کمزوري کولو لپاره استفاده ونکړي، د دې لپاره مجاهدو طالبانو ته لازمه څو مهمو نکتو ته متوجه شي.

له خپلې وسلې غافله نشئ.

په دې نړۍ کې د عزتمن ژوند لپاره وسله ساتل ډیر اړین دي، الله تعالی وسله د همدې لپاره پیدا کړې چې ورباندې د عقیدې، ناموس، خاورې، ځان او مال ساتنه وشي، دا نن چې امریکې د افغان ولس څخه غوښتنو ته انعطاف ښودلی د همدې زنګ وهلو ټوپکونو برکت دی.

صلیبي اشغالګر به ډیره هڅه وکړي چې له وسلې څخه افغان ولس په ځانګړې توګه مجاهدین زړه توري او غافله کړي په یوه او بله رنګینۍ ورڅخه وسله وتروړي، ضعیف او ناتوانه یې کړي او په دې توګه خپلو ناولیو موخو ته ورسیږي. د کفارو له دې شیطاني دسیسې څخه قرآن کریم موږ تاسې ته ډیر پخوا خبر راکړی. الله تعالی فرمایي:

وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً.

ژباړه: د الله جل جلاله د دین منکران خوښي چې تاسې له خپلې وسلې او سامان څخه غافله شئ تر څو په تاسې یو ناڅاپي برید وکړي (او له مینځه مو یوسي).

نو پام چې هرڅومره د اوربند، سولې او د اشغالګرو وتلو اوازې نشرېږي له خپلو وسلو څخه غافله نشئ، جهادي اعداد ته شا نکړئ، د دمې له دې فرصت څخه د قتالي فنونو، جګړه ییزو تکتیکونو او نویو وسلو د زدکړې لپاره استفاده وکړئ.

یو ځل بیا په ټینګار سره وایم چې بې له شکه امریکایان به وتښتي اشغال به پای ته ورسیږي او ماتې به وخوري، خو پام چې تاسې له خپلو وسلو څخه غافله نشئ، له اعداد څخه بې فکره نشئ، جهادي تمرینونه جاري وساتئ، په جګړییزو تکتیکونو کې مهارت ترلاسه کړئ، د بدني او فکري ورتیاوو د لوړولو لپاره کار وکړئ، داسې ځواک جوړ کړئ چې بیا څوک ګران هیواد افغانستان ته په کږو سترګو ونه ګوري، داسې قوت چې

ځوک بیا د افغانستان د اشغالولو خوبونه ونه ګوري.

مجاهدو ځوانانو، عقیده، ناموس، وطن، او ارزښتونه په وسله ساتل کیږي، د کفارو په تبلیغاتو ونه غولیږئ، پام چې وسله مو له لاس څخه وانخلي وسله ډیر ښه شی دی.

عن عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ :« سَتُفْتَحُ لَكُمْ أَرَضُونَ وَيَكْفِيكُمُ اللَّهُ الْمُؤْنَةَ فَلاَ يَعْجِزْ أَحَدُكُمْ أَنْ يَلْهُوَ بِأَسْهُمِهِ ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ژباړه: له حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې فرمایل: ((ژر ده چې تاسې به ډیرې زمکې فتحه کړئ او الله تعالی به د دښمنانو له شر څخه خوندي کړي، خو بیا هم په تاسې کې یو تن دومره ناتوانه نشي چې په خپلو غشو ساتیرۍ ونکړي.

له دې سره سره مجاهدین باید امنیتي حس لا غښتلی کړي، له احتیاط څخه کار واخلي ترڅو خدای مکړه د دښمن د کومې دسیسې ښکار نشي.

دعوت او اصلاح

صلیبي اشغالګر د افغانانو یوازې د سر او مال دښمنان نه دي، له افغانانو سره د دښمنۍ بنسټ یې عقیدوي دی او د اشغال په تیرو دوو لسیزو کې په عقیدوي او فکري برخه کې ډیر ویجاړی رامنځته کړی، څرنګه چې مجاهدو طالبانو د وسلوالې مبارزې په برخه کې د افغانانو قیادت وکړ وجیبه یې جوړیږي چې په د دعوت او اصلاح په لاره کې هم د قیادت واګې په لاس کې واخلي د اذهانو د تنویر لپاره ته ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړي او په دې توګه د فتنو ریښې غوڅې او ټولنه له ناولیو افکارو، فاسدو عقیدو او بې لاریو څخه وژغوري.

همدارنګه په دې موده کې مخالفینو ته په احسنه طریقه دعوت ورکول ترڅو هغوی حقائق درک او له مخالفت څخه لاس په سر شي.

وحدت مو لا ټینګ کړئ

وحدت د الهي نصرت له مهمو اسبابو څخه دی، د اسلامي امارت تر قیادت لاندې د مجاهدینو یووالی د الله رب العالمین ځانګړی فضل دی مورږ تاسې په نږدې ماضي کې دشوروي پرضد د جهاد تجربه په ورانـدې لرو، د مجاهدینو له لاس څخه د جهادي ثمرې د وتلو ستر سبب د جهادي لیکو تفرق او اختلافات و، په عربي نړۍ کې مورږ تاسې په خپلو سترګو ولیدل چې د همدې اختلافاتو له کبله جهادي خوځښتونو یو بل تکفیر او ووژل چې له امله یې جهادي صف کمزوری او دښمنان خپلو شومو موخو کې په کامیابیدو ښکاري.

د اسلامي امارت تر قیادت لاندې یو موټی جهادي مقاومت د اسلام دښمنان ځوروي، هغوی د دې وحدت د له منځه وړلو لپاره ډیرې هلې ځلې وکړې له ګمراه کوونکو تبلیغاتو نیولې تر تطمیع او مادي اغراءاتو پورې په هیڅ یې صرفه ونکړه، خو الحمد لله تراوسه پورې یکې ناکام شوي، مجاهدین له دې وروسته هم باید د خپلمنځي وحدت ساتلو ته لازیاته پاملرنه وکړي ترڅو دښمن نامراده شي.

اطاعت په هر حال کې

کیدای شي د پخوا په څیر به له یوه او بل لوري څخه به په خپلو مشرانو باندې د بې باورۍ لپاره وهڅول شئ، پام چې په خپلو مشرانو اعتماد له لاسه ورنکړئ، د همدې قیادت برکت ده چې د افغانستان مجاهدین له انحراف او بنوبیدنې څخه ژغورل شوي.

د دې قیادت قدر وکړئ وربانـدې د الله رب العالمین شکر وباسئ په عسر او یسر، خوښۍ او ناخوښۍ کې یې د اطاعت التزام وکړئ په دې توګه به مو دښمن ذلیل او مخ توری وي او سوبه او بریا به ستاسې په برخه وي ان شاء الله.

د طالب په نظر کې مدرسه او ښوونځی کوم مقام لري ؟

■ لیکنه: عبدالولی خلیل

زموږ ګران هیواد چې له ډیرې مودې د خارجي قوتونو د یرغل ښکار سوی، کافرانو، یهودو، نصاراوو او زموږ د خپل هیواد منافقینو زموږ پر وړاندې هغه دسیسې په کار اچولې، چې زموږ له خپله دینه جلا کول، تر منځ مو بې باوري راوستل او د کفر په غلامۍ بوختول يې اساسي اهداف دي.

له دې شیطاني دسیسو څخه یوه هم د مدرسې او ښونځي تر منځ بېلتون او فاصله رامنځ ته کول دي.

دوی تل داهڅه کړې چې مدرسه او ښوونځی دې سره جلا کړي، د محصل او طالب العلم تر منځ يې د اختلاف تخم کرلی چې دا د تولنې د کمزورتیا لپاره یو ستر لامل دی؛ ځکه مدرسه او ښونځی دواړه د یوه هیواد د پر مختګ لپاره هغه اړین عناصر دي چې هر وګړی يې له کوم توپیره ورته اړتیا لري.

دوی هر یو ځانته ځانګړي اهداف لري د مدرسې هدف دا دی چې د الله تعالی پر وړاندې خپل مسؤلیت ادا کول، مخلوق ته الهي حکمونه رسول او په هغوی پوهول، حلال، حرام او مشتبه شیان وګړو ته وریه ګوته کول او په ژوند کې د مینې، ورور ولی او حسن معاشرت فضاء رامنځته کول دي.

د ښونځي اهداف دا دي چې د تولنې د عصري اړتیاوو په پوره کولو کې يې ښه روزنه او مرسته وکړي، د نړۍ له نويو پر مختګونو نه خلک خبر او تر دوی راورسوي، د ساتنس، تیکنالوژۍ، اینجینرۍ، ډاکترۍ او نورو علومو له نعمته هیواد وال برخمن کړي او داسې نور ...

نو دا دواړه هغه مراجع دي چې تولنه هیڅکله هم له دې څخه استغنا نه سي موندلای.

خو کافرانو او د دوی تر چتر لاندې حکومتونو زموږ هیواد کې د طالب العلم او محصل تر منځ د فاصلې کرغېړن تخم کرلی، طالب العلم يې د محصل په سترګو کې یو ساده او له جهانه ناخبره انسان برېښولی او محصل يې د طالب العلم سترګو کې یو له دینه لري وګړی راوستی ...

دا چې دغه تخم څه وخت کرل سوی، که يې لږ تاریخ راوسپړو نو ویلای سو چې دغه بېلتون له مخکې نه دلته د شتون ځای پیدا کړی خو کله چې امان الله خان له انګریزانو نه د خپل هیواد آزادي بېرته ترلاسه کړه، په دغه وخت کې ښونځیو ډیر بوږ ونیوه، د خلکو توجه ټوله د ښوونځیو خواته واوښته، دیني تعلیم، مدرسه او جومات له نظرونو غائب سول، بیا دغه لړۍ د محمد ظاهر شاه او محمد داؤد خان په حکومت کې نوره هم پر مخ وغځېده ، د حکومتي چارواکو توجه یوازې تر ښونځي پورې محدوده وه او بس.

بیا چې کله کمونستان حکومت ته ورسېدل، دوی علماء کرام د کمونستي رژیم په وړاندې ستر خنډ محسوس کړ، همدا لامل و، چې واک ته له رسېدو سره يې د علماؤ او دیني طالبانو د ځپلو ترڅنګ د مدرسې او پوهنتون ترمنځ د واټن پیدا کولو لپاره متې راونغښتې او د دواړو قشرونو (طالب او محصل) ترمنځ د فاصلې او دښمنۍ رامنځته کولو په تخم کرولو يې پیل وکړ.

دا چې تېرو حکومتونو د دیني مدرسو او پوهنتونو ترمنځ له ډېر وخت توپیري چلند کړی و، نو کمونستان خپلو کرغېړنو موخو ته په اسانۍ سره یو څه ورسېدل، په طالبانو او عالمانو يې زندانونه ډک کړل او د مدرسې او پوهنتون ترمنځ يې د واټن پیدا کولو په برخه کې ډېر کار وسو.

کله چې کمونستي تور تغر پر تولېدو سو او افغان مسلمان ولس د طالبانو او علماؤ په مشرۍ د روسانو او کمونستانو په وړاندې په ملي پاڅون پیل وکړ، چې په ترڅ کې يې مجاهدین پر هیواد واکمن سول، ځینو تنظیمونو خپلو اهدافو ته شاه کړه او خپلمنځي جنګونه يې پیل کړل، په وړاندې يې علماؤ کرامو یو ځل بیا پاڅون وکړ، او د هیواد زیاته برخه يې تر خپلې ولکې لاندې راوستله، او د افغانستان اسلامي امارت په نوم يې سپېڅلی اسلامي نظام رامنځته کړ.

دطالبانو واک ته له رسېدو سره سم، مدرسې او پوهنتونونه لـه جنگونو متاثره سوې وه، دوی سره له دې چې لـه سـختو اقتصـادي ستونزو سره مخ ول، بې له توپیره یې د مدرسو، ښونځیو او پوهنتونـو په رغونه او پالنه پیل وکړ، علمي مرکزونه او اداري یې بیرتـه فعالـه کړې، پیاوړی، معیاري او کټور تعلیمي نصاب یې ورته جوړ کـړ، او د طالب او محصل ترمنځ د واټن او فاصلې ختمولو په برخه کې یـې یې ساري هلې ځلې وکړې، تر دې د مشرتابه لـه خـوا تولـو علمـي ادارو ته سپارښتنه سوې وه، چې نور به د تعلیمي ادارو په مـنځ کـې توپیري چلند نه کېږي او د پوهنتون، مدرسې او ښونځي زده کوونکو ته به طالبان ویل کیږی او استاذانو ته به یې معلمین ویل کېږي. لـه دې مخکې به د ښوونځي زده کـوونکي تـه شـاگرد، ویـل کېـده، د مدرسې زده کوونکي ته بـه طالـب او د پوهنتـون زده کړیـال تـه بـه محصل ویل کېده، همدارنگه استاذانو تـه بـه یـې اسـتاذ، معلـم او مولوي ویل کیدل.

لنده دا چې د دښمن دغه کرغیړن تخم به همیشه سمسـور و، د مدرسو او ښونځیو تر منځ به ښکاره مقابله روانه وه، خو اوس چې نظام د طالب لاس ته د لویدلو په درشل کې دی، او یا ډیـرې داسـې مفتوحه سیمې چې د طالب تر واک لانـدې دي هلتـه د مدرسـې او ښونځی کوم حالت دی؟

طالب د ښونځی او مدرسې په وړاندې کوم هود کړی؟

چې په لاندې کرښو کې به یې درسره شریک کړو.

تاریخ راته جوته کړه چې د پوهنتون او ښونځی تر مـنځ د کرکـې او نفرت تخم له پخوا دښمن زموږ تر منځ کرلی او د دوی په هڅکله تـل له افراط او تفریط نـه کـار اخسـتل سـوی دی ، خـو اوس د طالبـانو حکومت (د افغانستان اسلامي امارت) دواړو تـه د اعتـدال تـر چـتر لاندې پاملرنه کړې او فعلاً د مدرسـې او ښـونځی د زده کوونکـو پـه روزنه بوخت دی، اسلامي امارت دا درک کړې چې د نظام جـوړول او یا پر مخ وړل یې له دغه دوو کسانو (طالب العلم او محصل) ناشـوني دي نو یې په هغه سیمو کې چې د طالب تر واک لاندې دي، دینـي او عصري تعلیماتو ته ځانگړې پاملرنه کړې، د دواړو لپاره یـې تـر یـوې مستقیمي تگلارې لاندې کار پیل کړی، د پوهنتون د محصلینو لپـاره یې د عالي تحصیلاتو په نـوم اداره پـه کـار اچـولې تـر څـو پـه لـوړو تحصـیلاتو کـې خلـک وروزي او همـدا ډول د پوهنتـون لپـاره یـې د استاذانو غوره کول، د هغوی لپاره وخت ناوخته سیمنارونه جـوړول او په هغه کې د دوی اخلاقي او عقیدوي روزنې ته توجه کول، د اسلامي فکر د خپلولو لپاره ددیني کتابو پر مطالعـه امـر کـول او د فکـر د تـه اصلاح په وخت کې له اداري اخراجول یې د یادولو دي.

چې ددې مثبت اقدام مثبتې پایلې هم ښـکاره سـوې او لا بـه دوام لري، د نمونې په توگه یې وړاندې کولای سو چې د با احساسـه محصلین په نوم یو ناپیلی او خپلـواک بهیـر رامنځتـه سـو، چې د هیواد له مدرسو ښوونځیو، لیسـو او پوهنتونو څخه سرچینه اخـلي، د بهرنیو کلتوري یرغلونو په وړاندې د هیـواد د ځـوان نسـل د بیـدار ساتلو او د لـه هـر ډول یرغـل څخـه د گـران هیـواد د هـر اړخیـزه خپلواکۍ په موخه هلې ځلې یې لـه لومړنیـو لـوړو او سـترو موخـو څخه دي.

د با احساسه محصلین بهیر برکت دی چې په ډیرو پوهنتونونو کې د فکـري یرغـل پـه کاملـه توگـه مخنیـوی سـوی، د جهـاد او استشهاد پر ډگرونو په سلگونه محصیلینو، (د بااحساسه محصلینو د بنسټگر او د قلم او تورې اتل شهید حذیفـه عزیـز پـه شـمول) د خپلو سرونو نذرانې وړاندې کړي او لا به داوام لري.

همدا ډول چې کله امریکا زموږ گران هیواد اشغال کړ، ځینو هیوادوالو یې د دې صلیبي تلوالې د برید سره سم په لاریونونـو پیـل وکړ، چې زیاته ونده یې پکې محصلینو اخیستې وه.

کله چې طالبان د ملکې تلفاتو د مخنیوې پر اساس تکتیکی شاتگ ته اړ سول، نو په ۱۳۸۰ لمریز کال د روژې پـه مبارکـه میاشـت کې د کابل پوهنتـون زړورو او پـه اسـلام مینـو محصـلینو تـاریخي لاریون وکړ چې امریکـایی مـزدورو او وحشيـ لاسـپوڅو پکـې پـه لسهاوو بې گناه محصلین د نیولو څخه وروسته په شهادت ورسول او ځینې یې ژوندي په کوهي کې هم اچولې وه، چې زیاتره یې تر اوسـه نا درکه دي.

د ۱۳۸۸ د عقرب په څلورمه نېټه په کابـل کـې د تخنیکـوم د محصلینو یوه لاریون د چهل ستون له تخنیکوم څخه پیل سو، او تر گنرگاه پورې یې خپل شعارونه ورکول، چې اجیرو پولیسو لاریون په تاوتریخوالي واړاوه، او په ترڅ کې یـې تـر لسـو وریورتـه پـولیس او یوشمېر محصلین ژوبل سوي وه. دغه لاریون وروسته تر هغه تـرسره سو چې په میدان وردگو کې د امریکایانو یو ټانک په ماین والـوت او بیا دوی د سړک پرغاړه قرآن کریم ته اور ورکړی و.

په مطبوعاتي میـدان کـې یـې خـورا ښـه رول لوبـولی چـې د محصلینو په نوم ویب پاڼه یې تل د اسلامي امارت په ملاتـړ بوختـه ده ، د کافرانو او لاسپوڅو شومې کړنې بربنډول او د گـران هیـواد د هـر اړخیـزې خپلـواکۍ او دفـاع لپـاره پـه هلـو ځلـو، او بهرنیـو استخباراتي کړیو له لورې د خپلواکۍ غوښتونکو ځوانـانو (طالبـانو) په اړه د خپرو سوو شبهاتو او بـې اساسـه تبلیغـاتو پـه ځوابولـو او د ځوان نسل په راپیدارولو بوخت دي

د ملکي تلفاتو په اړه د یوناما

د راپور په غبرګون کې د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

په کابل کې د یوناما دفتر په هیواد کې د تیرکال د ملکي تلفاتو په اړه بیا هم له انصاف څخه لرې راپور خپور کړ.

د یوناما په راپور کې راغلي چې د تیرکال ملکي تلفات ډیر وو؛ خو امریکایي اشغالګر د دغو درنو تلفاتو ایله د ۸ سلنې، د کابل اداره ۱٦، داعش ۱۲ او د اسلامي امارت مجاهدین بیا د ۴۷ سلنې مسئولیت لري.

که هر آزاد او د عقل خاوند افغان د یوناما راپور او پورته د ړندې محاسبې فیصدي وګوري، له ورایه ښکاري چې یوناما د امریکایي اشغالګرو لپاره په کمپاین بوخته ده او هغوی ته له بشري مکرر او پرلپسې جنایاتو څخه د برأت ورکولو دلایل تراشي.

په افغانستان کې د ملکي تلفاتو او پیښو ناورین لومړۍ درجه عامل امریکایي اشغال دی چې نولس کاله کیږي زموږ په خاوره هرکال زرګونه ټنونه باروت اوروي او خلک وژني.

په تیر کال کې د امریکایي اشغالګرو لخوا په ملکي خلکو د بمبارونو او چاپو شمیر په بې ساري ډول زیات وو چې د پنتاګون پخپل اقرار دوی له ۷۰۰۰ زیات بمونه په افغان خاوره اورولي دي.

که فرض کړو چې د هر امریکایي بم وزن اقلا ۵ کیلوګرامه وي، نو مجموعا (۳۵۰۰۰) کیلو ګرامه باروت کیږي چې له فضا څخه په ړانده شکل په افغان بې دفاع ولس، ښځو، ماشومانو او عامو کورونو اورول شوي دي.

همدا ډول په تیرکال کې د شپنیو چاپو، د سي آی ای اړوند د (صفریک، صفردو، صفرسه، ضربتیانو او په کندهار کې خانګړي ځواک) لخوا چې په ملکي افغانانو کوم وحشت شوی، ټول اولس یې شاهد دی او وخت په وخت رسنیو هم راپورونه پرې درلودلي دي.

د امریکایي اشغالګرو له دومره ستر وحشت سره سره بیا هم هغوی په ټول کال کې ایله د ۸ سلنې ملکي پیښو مسئول بلل څرګندوي چې د یوناما راپور د امریکا چارواکو تر نظارت لاندې ترتیبیږي او د افغان ولس په سترګو کې د خاورو شیندلو هڅه ده.

افغانان پخپله پوهیږي چې په تیرکال کې همدا ډول په تیرو نولسو کالو کې څوک د ملکي خلکو ښځو اوماشومانو دښمنان دي، څوک دي چې زموږ په فضا کې یې الوتکې ګرځي، بزګر، کاریګر، موټروان، دوکاندار، کلینیک، مکتب، مدرسه، مسجد، کلي او بانډې تر اور لاندې نیسي او له یوې مخې خلک وژني.

په دا نیږدې ورځو کې موږ د ننګرهار سره رود او د هرات کشک کهنه ولسوالیو کې په عامو هیوادوالو د امریکایي بمبارونو شاهدان وو چې د ښځو او ماشومانو په ګډون له شلو ډیر ملکي خلک په کې شهیدان شول.

اسلامي امارت د یوناما په نوم د دا ډول یو لوریز دریځ په نیولو باندې تأسف څرګندوي او دا راپور په کلکه ردوي.

اسلامي امارت د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د پیښو د ثبت او راجستر لپاره خانګړی کمیسیون لري چې د هغو د دقیقو محاسبو له مخکې په تیرکال کې امریکایي او د کابل اداري عسکر په هیواد کې د ۸۳ سلنې ملکي تلفاتو مسئول دي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۱/٦/۲۸هـ ق

۱۳۹۸/۱۲/۳هـ ش ـــ ۲۰۲۰/۲/۲۲م

د سرکشو حشرګاه

مولوي بدر الدین "حقاني"

د تکبیر مرمۍ به وځوري تالیښته
په میدان به پاتې کیږي بې همته
خرې سترګې به ولاړ وي له ذلته
دا ملت به درنه غواړي حسابونه

☆☆☆

دتکبیر غشي به ومنې ځیګر ته
چې سینه کې دې ځای ورکړلو دالر ته
په څو ورځو کې تیار اوسه نمبر ته
تکیه هسې جوړوې غربي لښکر ته
اندیښمن اوسه ظلمه! لوی خطر ته
چې دې رنګ کړل د ایمان قوي بندونه

☆☆☆

د بادار کډه دې وینم نن سبا ده
هر وګړی یې د رکود په تماشا ده
مرادونو کې نیمګړی نیمه خوا ده
زما خاوره د سرکشو حشرګا ده
چا چې کړې په یرغل کې ابتدا ده
مور مات کړي دې هاغه زبرګواکونه

☆☆☆

تیتې سترګې به ولاړ وي دالر خوره
احتساب به د جرمونو کړې مزدوره
یا به تښتې د بادار سره له کوره
د ناموس ترڅنګ به ناست وي درته نوره
چې دې ونغښته غلاف کې خپله توره
قبلوې به دم په دم دا لعنتونه

☆☆☆

یوه ورځ ده سپین بیرغ به په رپا وي
خوار طالب به یې لهرو ته په مسکا وي
را روان به مې ملګري له کیوبا وي
د شني سترګو له پنجو نه به رها وي
خالي غم به د طالب او د ملا وي
"بدرالدین" به په تازه خلې قدمونه

Shahamat